

# لار اغزنه د جنت

## مصطفی او خالد

لیکوال: صابر جان

Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ

# دجنت اغزنه لار

## خالد او مصطفی

لیکوال

صابر جان

ناشر

مکتبه عزیزیه محله جنگی پشاور

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې کتاب ټول حقوق له ناشر سره محفوظ دی

# کتاب پیژندنه


| | |
|---|---|
| نوم | دجنت اغزنه لار مصطفی او خالد |
| لیکوال | صابر جان |
| کمپوز | لیکوال پخپله |
| دچاپ تعداد | ۱۰۰۰ |
| ناشر | مکتبه عزیزیه |
| د اړیکو شمیره | ۰۳۴۵۱۳۸۰۴۸۳ |


Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجنت غزنه لار

دجنت اغزنه لار ـ يو جهادي او حماسي ناول دي چې د تاند او روان قلم څښتن ليکوال (صابرجان) صاحب.دمعاصر تاريخ له ځينو واقعې پېښو څخه په اقتباس ليکلی ـ
مرکزې کر کټر او هېرو يې خالد دی دا ناول ته دهغوی نوم ورکو دمهاجرو غازيانو دردونکی داستان دي چې پر افغانستان د امريکا تر يرغل وړاندې د عربو له مختلفو هيوادونو څخه د اسلامي نظام د سيوري او واقعي شريعت د ايمان خړوبونکې چينې ريښتني مزه وڅکې
دوی خپل مجلل قصرونه اسمان خراشې مانۍ او دعيش او عشرت ژوند پرېښود او د افغانستان په سپېرو ډاګونو او خړو غونډيو کې يې له سونزو او تکليفونو ډك ژوند خوښ کړ
په ناول کې لولو چې هغه ايمان والا خلك کوم چې د الله په لار کې دجهاد هوډ يې کړي وو، څرنګه خطرونو او مشکلاتو ته ټټر ورکوي!!!
څنګه پر خپلو خواهشاتو بر لاسي کيږي او له پستو پالنګونو پاڅيږي او ديو داسي هيواد. سنګرونو ته ځانونه رسوي چې نه يې له جعرافيوې او فزيکې جوړښت او آب هوا سره بلد دی او نه يې د وګړو په ژبه دود او کلتور خبر دی !!!!
دناول ليکوال پخپله د ډيرو هغو پيښو شاهد او نندارچي پاتې شوی چې زمونږ دمعاصر تاريخ دخونريز او رزمې تاريخ يو نوی باب پرې راپيليږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دليکوال کمال دادی چې پيښې او محاورې يې ټولې تر ډيره پخپل اصلي شکل ليکلي د لوستلو پرمهال لوستونکې ته ديوه ثبت شوي فيلم په څير هره صحنه يوه يوه مخې ته ږدي دناول د محتوا يو بل مهم ټکې داده چې موږ ته دانښيي چې که اوسني عربان هرڅومره د غربيانو په رنګ رنګيدلي دين ته يې شاه کړې او دعيش او عشرت ژوند تيروي خو هغه اصيلي عربې ميندې لاشته. چې خپلو بچو ته د غيرت شېدې ورکوي او په يوه نګه اسلامي او حماسي فکر خپل ماشومان راستروې

داسي خويندې لاشته چې له خپلو غازيانو ورونو او ميړونو سره د غزا ميدان ته کوزي شي!

درنو لوستونکو! دجنت اغزنه لار ناول داسي مهال د چاپ په ګانه پسولل کيږي چې په هيواد کې د امريکايي تاړاك له ماتې سره مخ دي او دالله ﷻ په مرسته دتش لاسو غازيانو په وراندې پر ګونډو کيدونکې دي

له امريکايي يرغل راهيسته زموږ په ګران هيواد کې د فکرې استعمار ريښې ډيرې غزيدلي او دځوان کهول پر اذهانو يې مستقيم منفي اغيز ښندلی اوس مو په ټولنه کې د عشقي او مبتذلو ناولونو بازار خورا ګرم دي خو دجنت اغزنه لار- په څير ناولو نه چاپول او عرضه کيدل يقينا چې ستره لاسته راوړنه بللای شو-

زه محترم صابر جان صاحب ته دخپل لومړي ناول د چاپيدو مبارکي وايم او دالله ﷻ له دربار څخه ورته د مزيد توفيق غوښتونکی يم- او تاسو د ناول لوستلو ته رابولم-

حمد الله حلميار- کوټه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

## دخپلواک اوستروٰاک رب په نامه

لومړی د هغه ذات حمد اوثناء وایم چې ځمکې او اسمانونه یې پیداکړي ، عرش یې په آسمان کې درولی او سیندونه یې پرځمکه کې جارې کړي دي.

وروسته له حمد اوثناء څخه پر هغه چا درود وایم چې زه یې له برکته نن طیبه کلیمه وایم اوددې ستر انسان له برکته زه نن مسلمان یم، زما مور اوپلار دې له حضرت محمدصلی الله علیه وسلم قربان وي.

**امابعد** په ننی نړی کې ناول ډیر مینه وال لري، خو پرته څو محدودو پښتو ناولونه اسلامي اړخ نه لري، یوازې مجازي مینه اوفحشاء تري زده کیږي نو ماهم ښه وګڼل ترڅو داسې ناول ولیکم چې د امت مسلمه ځوانانو ته داسې فکر ور پیدا کړی چې ددې ناخوالو څخه ځان وژغوري، پوهان پوهیږي چې د مسلمانانو دعزت او بریالیتوب لار په دې عصر کې یواځې جهاد اومبارزه ده نوددې ناول مسیر هم پرجهاد اوجهادکولو راڅرخي، ددې ناول مقصد اسلامې نظام او ورورګلوي ده چې مسلمانان اخوت اواتفاق ته رابولي اوځوانانو ته درس ورکوي ترڅو قومې او ژبنی تعصب پریږدي او د شرق مسلمان د غرب مسلمان لپاره ځان قربان کړی ، بل مقصد یې د طالبانو د اسلامی تحریک او امیر المؤمنین ملا محمدعمر مجاهد اصلي شکل اوکریکټر بیانول او د هغه له کارنامو څخه زده کړه کول دي، چې څنګه د یوعرب مسلمان ورور لپاره تر خپلې بادشاهی تیر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناول دپای برخه جهادي زده کړو اومعلوماتو لپاره ځانګړې شوې ده نولوستونکي دې په غور ولولي او ګټه ترې واخلي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالی

په جهادي مینه د شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمدمنصور رحمه الله علیه روح تـه ډالی کوم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه

په دېره اسلامي مينه له حاجي آغامحمد زابلي، محمدقاسم شهاب وزير سحر، هجرت الله تگابي، صالح محمدبدري ،خان صافي ،عصمت الله عزام او نور ولي جان درويش څخه مننه کوم چې ددې کتاب دچاپ مالي لگښت يې پر غاړه واخيست.

او له گران ورور مولوي محمدصادق جان عاکف څخه هم مننه کوم چې دکتاب په چاپولو کې مرسته را سره وکړه.

له درنو لوستونکو څخه هيله کوم چې ما او زما مور او پلار له دعا څخه هير نه کړي.

ستاسو خادم صابرجان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عزام د مشهور مصري تاجر (عبيده ابو عزام) زوی ؤ

عزام له پلاره يو زوی او خورا ډېر نازولی و، پلار يې روزنې ته ځانګړې پاملرنه کوله، عزام داسې هلک و چې تود باد يې هم نه و ليدلی، ښوونځي ته د تګ پر مهال به دوه ساتونکی هم ور سره وو، د ښوونځي استاذانو هم دعزام د پلار له کبله دده ډېر قدر کاوه ،سربېره په دې چې عزام ډېر نازک طبعه او نازولی هلک و لايق هم و هغه لا لس کلن و چې له کتاب اومطالعې سره يې ډېره مينه لرله، يوه ورځ يې د پلار د کتابونو په الماری کې يوپنډ تور کتاب پيدا کړ، چې پر پوښ يې په غټو تورو ليکل شوی وه: سيرت الصحابة.

عزام کتاب له ځانه سره دخوب خونې ته راووړ، او دشپې مهال يې دکتاب مطالعه پيل کړه، عزام چې کله د صحابه کرامو کيسې لولي کتاب نور هم خوند ورکوي ، يوه کيسه ورته تر بلې خوږه او جالبه ښکاريده، عزام لا دهمدې کتاب په مطالعه بوخت و چې د سهار اذانونه وشول.

عزام چې اذان واوريد سمدستي يې کُتاب بندکړ او سر يې په بړستن کې دننه کړ او ځان يې خوب ته اماده کړ، خو عزام ته بېخي خوب نه ورته او فکر کې يې د صحابه کرامو ﷺ د غزاګانو کيسې را ګرځېدلې او په دماغو کې يې د صحابه وو د اسانو او تورو تصويرونه جوړېدل، کله کله به له ځان سره موسکی شو چې ابوجهل يې دېر عجيبه وواژه، معاذ به زما غوندې و، عزام لا همدا فکرونه کول چې مور يې غږ پرې وکړ: پاځه بچيه! ناوخته دی جماعت درڅخه تيرېږي، عزام له جماعت وروسته بيا خپل خونې ته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی او دکتاب مطالعه يې پيل کړه، مور يې فکر وکړ چې عزام له لمانځه وروسته بيا بيده شوی دی، غږ پرې وکړ شه بچيه پورته! ښوونځي ته دتلو وخت دې دی.

ژر ناشته وکړه چې ساتونکي دې انتظار دي او ښوونځي ته دې وړي.

عزام له خونې راووت مخ او لاسونه يې ومينځل، خوراک يې شروع کړ، د دخوړو خوړلو پرمهال هم عزام ته د صحابه کرامو کيسې په فکر کې گرځېدې راګرځېدلې، خندق غزا ور ياد شوه چې صحابه کرام ډير وږي وو او په خپلو ګيډويې ډبرې تړلې وې، عزام سمدستي خپلې ګيډې ته وکتل.

عزام بيا موسکی شو له ځان سره يې وويل: نه زه بايد اوس لا زياته ډوډی او خواړه ونه خورم ترڅو له لوږې سره عادت شم، هغوی څنګه وږي ګرځيدل.

عزام له لږ خوراک وروسته له خوړو پورته شو، مور يې ترې وپوښتل: بچيه ولې دی لږ خوراک وکړ؟ ځان سم موړ کړه! تر يوې بجې ښوونځي کې بې هلته وږی کيږې.

عزام خپلې سترګی د مور پرلور واړولې، مورې! دا نو څه لوږه ده يو صحابي د خندق په غزا کې د لوږی له امله پر خپل نس ډبرې تړلې وې.

مورېې چې دا خبره واوريده، عزام ته يې وويل: بچيه! هغوی ډېر غيرتي خلک وو، مور يې لا خبره نه وه خلاصه کړې چې عزام ورته وويل: مورې هغوی ستا خوښ دي؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور: هو زویه! ولې نه تر صحابه کرامو دې الله تعالی زما مور او پلار قربان کړي.

عزام ته دې خبرې لا ډېر خوند ورکړ.

عزام د ښوونځي کتابونه واخیستل او له ساتونکو سره روان شو، عزام له یوه ساتونکي وپوښتل: ستا اس چلول زده دي؟

ساتونکي وویل: نه، زما اس چلول نه دي زده.

عزام د پیغور په ډول ساتونکي ته ورغبرګه کړه ولې دې نه دي زده ته څومره غټ صورت لرې، ته خبر یې خالد بن ولید څنګه اس چلاوه؟

ددې خبرې په اورېدو دواړو ساتونکو یو بل ته وکتل او وخندل یې.

ساتونکي هم حیران شول چې عزام په دومره کشرتوب او کم عمر څنګه دومره ستر ستر فکرونه لري، عزام چې ښوونځې ته ورسید د سیرت صحابه کتاب کیسې یې خپلو ټولګیوالو ته وکړې، هغوی هم غوږ ورته نیولی وو، عزام لا د بدرغزا کیسه پای ته نه وه رسولې چې استاذ یې ټولګي ته را داخل شو.

او درس یې کړ، خو د نن د عزام فکر د پخوا په څېر په درس کې نه بلکې ټول فکر یې هغه کتاب کې و چې دشپې مهال یې لوستی و او انتظار یې کاوه چې کله به ماښام شي ترڅو یوځل بیا له هغه کتاب سره یو ځای شي، ټوله ورځ د هماغه کتاب لوستلو ته انتظار و.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مابنام شو دا عزام له خوړو خوړلو وروسته سمدستي پورته او د خوب خونې پر لور روان شو، تور کتاب رنگی یې را واخیست لومړی یې ... کړ او بیا یې په لوستو پیل وکړه عزام ددې کتاب داسې معتاده شو لکه څنگه چې په دې زمانه کې دیموکراټان د هندي سریالونو معتاد دي.

ددې کتاب له مطالعې وروسته عزام یو اسلامپال شو، له ده سره څوتنه نور ټولگیوال چې ده به دسیرت صحابه کیسې ورته کولې اسلامپال او په جهادي فکر سنبال شول، عزام چې کله ښوونځی خلاص کړ د مصر هېواد الازهر پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی یې انتخاب کړ، عزام د کلک عزم څښتن، اسلامپال او دجهادي فکر لرونکی زلمی و، په ټولگي کې له عزام سره د شرعیاتو پوهنځي استاذ لور "عایشه؛ هم وه.

عایشه دعزام خوښېدله ځکه چې ډېر په حجاب کې به پوهنتون ته راتله، او اسلامي فکر یې درلود، دعایشې هم عزام له دې امله خوښ و چې دیندار او حیاناک هلک و.

عزام په ټولگي کی جلا اوځانگړي خویونه درلودل.

هغه به کله کله په ټولگي کې پر دیموکراسی خورا تونديېنیوکې کولې او پر دیموکراسی نظام به یې ریشخند واهه.

یوه ورځ د اسلامی سیاست پوهنې استاذ اسلامی نظام تشریح کاوه عزام د درس په منځ کې له استاذه وپوښتل:

واستاذه وبخښه دا کوم اسلامی نظام چې ته یې موږ ته تشریح کوې دا اوس د نړی په کوم هیواد کې شته؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد: نه بچیه له بده مرغه له عثماني امپراطورۍ وروسته په هېڅ اسلامي هېواد کې بیا خلافت نه دی راغلی.

عزام: استاذه الله دې وکړي چې بیا داسې نظام راشي!!

استاد: اللهم آمين، هو بچیه اسلامي نظام خو د ټولې نړۍ په ګټه دی خو افسوس چې څوک پرې نه پوهیږي.

عزام: د پوهنتون په اخر کال له عایشې سره واده وکړ یو کال له واده وروسته د عزام زوی پیداشو چې نوم یې خالد پرې کېښود، یوه ورځ عزام د پوهنتون دورې د اسلامی سیاست پوهنې استاذ پوښتنې ته ورغی.

استاد ورته وویل:

بچیه زیرئ مې دربانديې تاچې د کوم اسلامی نظام پوښتنه په ټولګې کې کوله هغه اوس په افغانستان کې راغلی دی.

عزام: اوه!! استاده سم زیری به درکوم، په ربښتیا ډېر خوشحالونکی زیری دې راباندی وکړ.

استاد: هو بچیه! افغانستان کې د "اسلامی امارت" په نوم یو بشپړ اسلامی نظام جوړ شوی دی.

عزام: شکر استاذه زه به ورځم هههه تا خو راته نظري ښودلی و اوس به یې عملي په خپلو سترګو وګورم چې سم مې زده شي.

استاد: بچیه! خو پلار به دې اجازه در نکړي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزام: همممم استاذه لـه پـلار څخـه بـه د تـبښتې لاره غـوره کـړم خـو تـه دعاکوه چې د عایشې خو ښه شي.

عزام چې کله کور ته راغی له خپلې میرمنې "عایشې" سره یې خبره شریکه کړه، عایشې په جواب کې ورته وویل: زما هم همدا ارمان دی چې یو ځل د اسلامي نظام تر سیوري لاندې ژوند وکړم.

بس د الله جل جلاله لپاره به له تاسره افغانسان ته ځم ان شـاءالله، الله تعـالی به زموږ څخه راضي شي.

عزام او عایشه له خپل کـوچنی زوی خالـد سره یو ځـای افغانـستان تـه روان شول.

پلار یې چې خبر شو چې عزام له خپل کـوره تللـی دی، سمدسـتي دعـزام کور ته چې د پلار کورته یې مخامخ و ورغی.

عبیده چې وکتل په کور کې یې یو لیک پیداکړ.

کله یې چې لیک پرانیست داسې په کې لیکل شوي وه:

زما گرانه اومحترمه پلاره! پوهیږم چې کله زما له تگ څخه خبر شـوې ډېر خپگان به دربانديې راغلی وي، زه پـوهیږم چـې زه سـتا لپـاره تـر ټـولې دنیا گران یم خو داسې فکر ونه کړې چې ته ماته گران نـه یـې زه د هغـه رب په ذات قسم خورم چې هیڅکله امانت ضایع کونکی نه دی، ته ماته له هرڅه گران یې، زه په هیڅ ډول ستاحق نـشم ادا کـولای، تـا چـې زمـا لپـاره کـوم کا ،نه کړي یو پلار به هم د زوی لپاره نه وي کړي خـو تـر هـر څـه زیـات چې زه پرې خوشحاله او ستا احسان مند یم هغه ستا هغه احسان دی چې تا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاشعوري ډول زما لپاره کړی دی، اوس به فکر کوې چې دا به کوم احسان وي؟

زه درته وایم پلاره! هغه ستا هغه سیرت الصحابة کتاب و چې ما ولوست او زه یې د ژوند په خوند او حقیقت پوه کړم،پلاره! دا احسان دې پر ما تر هر احسان ډېر دی.

پلاره تا به هم په هغه کتاب کې لیدلي وي چې صحابه کرامو خپل پلارونه، ترونه ،مالونه ، زامن او ښځې پریښودې او له حضرت محمد ﷺ سره یې یو ځای مدینې منورې ته هجرت وکړ، نو زه هم تر هغو صحابه کرامو بهتر نه یم، نو زه هم تا پرېږدم اود اسلامي نظامي لپاره هجرت کوم اوته هم تر هغو صحابه کرامو بهتر نه یې چې د اسلام لپاره یې اولادونه بایلل، ته هم د اسلام لپاره ما له لاسه ورکړه.

پلاره! بیا هم د ځمکې او اسمانونو په پالونکی قسم یادوم که مې ماشوم زوی "خالد" او گرانه میرمن نه را سره تللای هغوی به مې هم د اسلامي نظام لپاره پرېښي وای.

گرانه پلاره! ددې پرځای چې ویر اوخپگان وکړې په لوړ سر او خوشحالی گرځه او د الله تعالی شکر اداکړه چې زوی دې د اسلام لپاره ولاړ اوپه هر مجلس کې په ما فخر کوه.

دعاگانی کوه او په هغه رب دې سپارم چې ابراهیم علیه السلام یې په اور کی وساته.

والسلام علیکم

ستاگران زوی عزام

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار یې د لیک تر لوستو وروسته سمدستي لاس پورته کړ او داسې یې وویل:

الله تعالی! زه ستا شکر ادا کوم چې ماته دې دومره غیرتي زوی راکړ.

عزام او کورنۍ یې په دوهمه ورځ د کندهار په هوایي ډګر کې له طیارې را کښېتل شول.

کله یې چې د افغانستان خړه فضا او د ختمو سپیره کورونه ولیدل عزام عایشې ته د ډاډ ورکولو په هدف وویل:

عایشې مه خپه کیږه که ستا ژوند دلته سخت وي زه کولای شم تا بیرته مصر ته ستنه کړم، هلته به د خالد روزنه هم وکړې.

عایشه: عزامه! هیڅکله دا فکر مه کوه چې ښځې د عقیدې او غیرت له پلوه تر نارینه وو کمزورې دي، خپه نشې زه هم ستا له امله نه یم راغلې بلکې غواړم تر څو د اسلامي نظام تر سیورې لاندې ژوند وکړم.

عزام اوعایشه له هوایي ډګر څخه د را وتلو پرمهال په همدې خبرو بوخت وو چې له ښۍ خوا یو سپین ږیرې افغان چې په عربي ژبه پوهیده پر عایشې غږ وکړ:

خورې دڅه لپاره دې سپیره افغانستان ته را غلئ؟ دا خړه فضا او خاورینو کورونو کې تاسو څه لیدلي دي چې خپلې ماڼۍ او عصري ژوند پریږدئ او دلته راځئ، دا ژوند خو ستاسې عصري ژوند ته هیڅ هم نه دی؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عایشه: wروره! ته پوهیږې چې ښه ژوند مانې ، موټر اوپیسې نه دی، بلکې ښه ژوند هغه دی چې روح دې ارام اوخوښ وي، موږ په مصر کې هر څه درلودل خو روحي ارامي مو نه درلوده، ته پوهیږې چې دې سپیرو کورو ته په راتګ نن زه دومره خوشحاله یم لکه کعبې شریفې ته چې راغلې یم، زه دلته روحي ارام هغه چې زه ورپسې راغلې یم هغه دا چې د اسلام تر سیوري لاندې ژوند وکړم زه راغلې یم چې خپل زوی خالد دلته په اسلامی نظریه اوفکر سمبال ورزوم ترڅو د نایټ کلب پر ځای مدرسې ته لاړ شي، ته پوهیږې چې موږ هلته هر څه درلودل، برق،عصری ژوند او تلویزون چې تاسو ترې محروم یاست، خو تاسې هغه څه لرئ چې موږ یې دلته په راتللو مجبور کړو.

تاسې اسلامي نظام لرئ چې هرڅه مو په امن کې ذي، نه موڅوک عقیدې ته په سپکه کتلای شي ،نه څوک پرحجاب او ږیره ریشخند وهلای شي او نه هم څوک ستاسې ناموس ته په بد نظر کتلای شي.

تاسې عُمر لرئ!! هغه عمر چې په دومره ستره پاچاهي کې تر اوسه بانکي اکاونټ نه لري. عُمر سره له پاچاهی دومره عاجزه دی چې له ملګرو سره یوځای پر کمپله کښیني، ستاسې عمر ولې د واک ،نوم ، نښان ،پیسو او ماڼیو (بنګلو) شوق نه کوي؟

بلکې د اسلام خدمت تر هرڅه غوره ورته ښکاري، موږ ته هم ستاسې د ملامحمد عمر مجاهد غوندې د اسلام خدمت او اسلامی نظام ترسیوري لاندې ژوند تر ماڼیو، برق او پیسو غوره ښکاري، موږ د الله تعالی لپاره هجرت کړی او امید دی چې الله تعالی به یې راڅخه قبول کړي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزام د عايشې د هرې خبرې په اوريدلو (چې د عايشې د کلک عزم او هوډ ښکارندويي يې کوله) ډېر خوشحاله. کېده او په زړه کې يې د الله تعالی شکرونه ادا کول (چې رب په دين مينه ميرمن ور نصيب کړې ده).

دعايشې د خبرو له ختمېدو وروسته سپين ږيري افغان عزام ته د بلد او شناخته دوست په څېر کلکه غاړه ورکړه او ښه راغلاست يې ورته ووايه.

عزام هم حيران شو چې دې سړي دنېږدې قريب او دوست په څېرستړي مشي ورسره وکړه ، څکه سپين ږيری سړی له شکل اوخبرې څخه هم افغان معلوميدو جامې او رنګ يې هم بيخې مصريانو ته ورته نه وې.

عزام له ستړي مشي وروسته سپين ږيري ته وويل:

بابا ډيره بخښنه غواړم سفر مې زيات ستړی و دماغ يې راته ستړي کړي زما څخه هير شوی يي او ډيره بخښنه غواړم لومړی ځان را وپېژنه!

سپين ږيری: هههههه تا زه ونه پيژندم؟

عزام نه باور وکړه زه هم د شرم احساس کوم چې ولې رانه هير شوی يې خو لږ نقل را کړه کيدای شي بيا دې وپيژنم!!

سپين ږيری. ورور دې يم

عزام :ورور؟

سپين ږيری: هو، ورور دې.

عزام: ههههه زه خو ورور نه لرم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین ږیری: ولې زه نه یم؟

عزام : ههه څنګه؟

سپین ږیری : دکلیمې ورور دې یم الله تعالی په قرانکریم موږ ټول سره ورونه بللي یو.

عزام چې کله د سپین ږیری خبره واوریدله له سترګو یې اوښکې راغلې، سپین ږیری یې په غیږ کې ونیو او په ژړا غوني غږ یې وویل: والله چې ته زما ورور یې شکر چې ورور مې پیداکړ.

سپین ږیري سړی عزام په مخ مچ کړ او ورته ویې ویل:

موږ ستاسې د پښتو خاورې یو تاسې خو زموږ د سردار محمد صلی الله علیه وسلم له قوم څخه یاست چې موږ یې سیدان نوموو، موږ څومره بختور یو چې تاسې غوندې کسان زموږ ملیمانه دي.

د عزام حالت بیخي بدل شو، له سترګو یې اوښکې روانې وې او زړه یې و چې په زوره زوره چیغې ووهي خو په ډیر تکلیف یې ځان اداره کړ.

عایشې ته یې مخ ور واړو او ورته ویې ویل: له کوم وخت چې الله تعالی زه پیدا کړی یم دومره مینه چا نه وه راکړې چې دې سپین ږیري بابا راکړه، عایشې! ته به پوهیږې هره مینه ځان ته وي خو د اسلام لپاره یو له بل سره مینه بیخي بیل خوند لري.

عایشې نن پوه شوم چې صحابه کرامو څومره ښکلی ژوند درلود.

عزام لا خبره نه وه خلاصه کړې چې سپین ږیري پر را غږ کړ:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه! کشره ورورہ چې زه مو ستاسو تر کوره ورسوم.

عزام فکر وکړ چې سپینږیرى سړى يې خپل کور ته بيايي.

نو سپين ږيري ته يې وويل:

مننه مشره وروره ضرور به ستا کور ته درځم خو اوس مونږ هوټل ته خو کارونه مو ډیر دي، اړتيا ده چې لومړى ارام وکړو بيا د کرايې په کور پسې وګرځو.

سپين ږيرى: هههههه کشره ورور زما کور ته خو دې هر وخت الله تعالى راوله! خو زما کور هم په هلمند کې دى چې تر هغه ځايه پوره شپږ ساعته لار ده، ستا کور ته دې بيايم.

عزام: زماکور؟

سپين ږيرى: هو.

عزام: بخښنه غواړم لکه چې ته پوه نه شوې، نن زما لومړى ورځ ده چې دلته راغلى يم. لامې کور ندى جوړ کړى، ان شاءالله ژر يې جوړوم.

سپين ږيرى: مونږ درته تيار کړى دى يواځې تا غواړي.

عزام : ځنګه مو راته تيار کړى هههههه هسې نه چې ډير ګران بيه کور مو راته کرايه کړى وي؟

سپين ږيرى: کرايه نشته اميرالمومنين مهاجرو ته همدلته ميدان کې کورونه جوړ کړي، مفت دى.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزام: چې دا خبره واوریدله نو موسکې شو عایشې ته یې وکتل، عایشې ورته وویل: عزامه مونږ ربښتیا خپل مقصد ته راغلي یو، دا سړی ربښتیا امیرالمومنین دی،درځه چې ځو!

عزام د خپلې کورنۍ اوسپین ږیري سره روان شو له لږ مزل وروسته یې د خاورو څو سپیره کورونه ولیدل او سپین ږیري سړي عزام د ختمو سرای مخې ته ودراوه او لاس مې په جېب دننه کړ او کیلي یې عزام ته ورکړه او ورته ویې ویل: دا کوز ستاسې دی او تاسې به همدلته اوسیږئ! عزام وویل: ستا دومزه احسان خو زه په منبه کولو سره نشم ادا کولای، خو څه شکر چې ورور دې یم هههههه بیاخو ته مشر ورور یې خو وعده را سره وکړه چې هر وخت به دلته راځې.

سپین ږیری: هو ان شاء الله که ژوند و، خو اوس تاسې ارام وکړئ نور ملګري به ان شاءالله تاسې ته د خوراک د انتظام لپاره را شي.

عزام او عایشه کوز ته ننوتل دوئ لا خپل شیان پر ځایونو نه وه سره برابر کړي چې دروازه وټکېدله.

عزام: دروازې ته ورغی، ګوري چې یوبل کس ولاړ دی، لومړی یې پر عزام سلام وکړ بیا یې کلکه غیږه ورکړه اوسترې مشي یې ورسره وکړه او عزام ته یې وویل: زه د امیرالمومنین له خوا تاسې ته راغلم، هغه پر تاسو سلام وایه او دا لیک یې تاسی ته رالیږلی دی، عزام مننه ترې وکړه او لیک یې پرانیست،په لیک کې داسې لیکل شوي وو:

زه ملا محمدعمر مجاهد له تاسو ډیره ښښنه غواړم چې تاسې ته مې یود خاورو کوچنی کور درکړ، ربښتیا هم ستاسې غوندې نازولو خلکو لپاره به

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې کور کې ژوند سخت وي، خو باور وکړه موږ هم په نظامي جنګ اخته یو. د زیاتو ملکونو له خوا راباندې اقتصادي بندیزونه لګیدلي همدا مو وس کې پوره دي الله تعالی شاهد دی که مې له وس څخه پوره وای تاسې ته به مې بنګلې هم جوړې کړې وای خو موږ خپله هم په همداسې کورونو کې ژوند کوو خو ستاسې ژوند په داسې کورونوکې له سختیو سره د الله جل جلاله لپاره دی.

ضرور به یې الله جل جلاله ثوابونه درکوي، الله جل جلاله دې زموږ اوستاسې څخه راضي شي عزام اخري توري په داسې حال کې ولوستل چې د سترګو اوښکې یې پر کاغذ را تویې شوې بیا عزام قاصد ته وویل: چې پر امیرالمومنین باندې زما سلام وایه او ورته ووایه چې زما مور او پلار دې تر تا صدقه شي موږ ته ستاسې اخلاص او مینه د دنیا تر بنګلو مهمه ده زه قسم د ځمکې او اسمانو په پیداکونکي کوم چې هغه مینه چې تاسې موږ ته زاکړل دومره یې خوشحاله کړم لکه د ټولې دنیا بنګلې او باچاهي چې مو موږ ته راکړې وي.

امیرالمومنین ته ووایه چې زه له تا غوره نه یم چې ته په داسې کورونو کې ژوند کوې زما لپاره په داسې کور کې اوسیدل ستر افتخار او خوشحالي ده له دې خبرو وروسته عزام قاصد رخصت کړ، او لیک یې کور ته راووړ او عایشې ته یې په لاس ورکړ، عایشې چې کله لیک ولوست نو عزام ته یې وویل:

عزامه ته وګوره الله جل جلاله څومره نېک بنده ګان پیدا کړي!!!

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزام او عایشه په همدې مجلس باندې مصروف وو چې یوځل بیا دروازه وټکیدله.

عزام هم د دوهم ځل لپاره دروازې ته ورغی چې دروازه یې خلاصه کړه په قد جګ غټه ږیره او اوږدې چړې لرونکی سړی ولاړ دی او عزام ته یې سلام ادا کړ. عزام هم سترې مشې ورسره وکړه له سترې مشې پس یې څه د خوراک شیان دعزام. په لاس ورکړل او وروسته یې د عزام سره خدای په امانی وکړ عزام شیان کور ته راوړل.عایشې د خوراک لپاره اماده کړل او دواړو ډوډی وخوړه دعزام زوی خالد چې همدا مهال ځلورکلن و د ډوډی خوړلو څخه انکار وکړ اوپه دې خپه و چې ولې یې دده لوبو سامان له ځان سره نه دی راوړی عزام په ډیر کوښښ خالد خوشحاله کړ او وعده یې ورسره وکړه چې بازار کې به سبا ورته نوي د لوبو سامان اخلي چې بیا خالد هم ډوډي وخوړه.

له ډوډی خوړلو وروسته عایشې ددې لپاره چې د عزام په زړه کې څه ونه ګرځي د خپل وړوکي دختړ کور صفت شروع کړ او هغه یې خورا وستایه .خو عزام پوهیده چې دا صفت دده لپاره کوي ماښام راروان و عزام کور کې د ویده کیدلو لپاره توشکې اوکمپلې هم نه درلودلې حیران و چې اوس به دې نابلدتیا کې چیرته ولاړ شي عزام په همدې فکر کې و چې بیا په دریم ځل دروازه وټکیدله خو کله چې دروازې ته ولاړې دا ځل پنځه یا شپږ ښځې ولاړې وې عزام چې ښځې ولیدلې وارخطا شو بیرته کور خواته ولاړ او عایشې ته یې غږ کړه عایشه ورغله او ښځې یې کور ته راوستلې دا ښځې د دوی د ګاونډې د کور وې خو غم دلته جوړ و چې یو دبل په ژبه نه پوهیدلې ځکه ښځې د چیچنیا وې چې یواځې په فارسی ژبه لږ لږ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهیدلې عایشه هم د پوهنتون دوره کې یو مضمون فارسي لوستی و خو بیاهم په فارسی ژبه داسې نه پوهیدله چې تر څو خپل مقصد پرې حاصل کړي له نیم ساعت ناستې وروسته ښځې بیرته ولاړې چې له تګ لږ شیبه وروسته ښځو د ماشومانو په لاس بیسترې او توشکې ورکړې وې اود عزام کور ته یې راوړې عایشې چې کله بیسترې ولیدلې موسکی شوه اوعزام ته یې وویل عزامه څوک چې د الله جل جلاله لپاره کار کوي الله تعالی به هیڅکله د هغه کار بند نه کړي وګوره موږ د الله تعالی لپاره هجرت کړی دی هرڅه الله جل جلاله داسې را رسوي چې زموږ بیخي فکر هم نه وي شپه تیره شوه عزام سهار نژدې جماعت ته ولاړ چې کله جماعت خلاص شو نو ټول جماعت کونکو د عزام سره ستړي مشي وکړل او ښه راغلاست یې ورته ووایه عزام چې کله د جماعت کسان ولیدل ټول ورته مهاجر ښکاره شول چې څوک د یمن څوک د چیچنیا څوک د سعودي عرب لیبیا او ازبکستان معلومیدل.

خو هر یو جلاجلا د عزام څخه د هغه د سفر پوښتنه کول چې په سفر کې خو به کوم خطر ورته نه وي پیښ شوی عزام هم ټولو ته د خپل سفر اطمینان ورکاوه.

چې له ستړي مشي او پوښتنو وروسته د جماعت ملا امام عزام ته وویل: عزامه هیڅ مه خپه کیږه دلته به ته په امن ژوند ولرې موږ ټول ستا ورونه یو اوبیا ټول مهاجر یو ان شاءالله د هر رنګه مرستي لپاره موږ درته حاضر یو موږ تاسې ټول یو مقصد لرو چې هغه د الله جل جلاله رضا او اسلامي نظام په دنیا کې حاکم کول دي موږ اوتاسې ټول یو وجود یو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام د خبرو له ختمیدو وروسته عزام وویل: زه اول دعا کوم امیرالمومنین ملا محمدعمر مجاهد ته چې موږ ته یې دومره عزت راکړ او الله جل جلاله دې زما عمر هم ده ته ورکړي چې ترڅو د ویروخت لپاره د رښتینو مسلمانانو خدمت وکړي او وروسته ستاسې څخه مننه کوم چې ماته مو دومره مینه راکړه رښتیا هم موږ اوتاسې ورونه یو زه چې دلته راغلی یم هیڅ زما څخه دا پوښتنه نه ده کړې چې ولې پردې هیواد ته بې پاسپورټه او بې ویزې راغلي یې؟

ددې پرځای چې ماته سزا را کړي عزت مې کوي د پوهنتون دوره کې مې اسلامي خلافت او اسلامي نظام ویلی و خو ځنګه چې ما فکر کاوه اسلامي نظام تر هغه زیات خوند لري بې شکه چې الله جل جلاله یو کامل ذات دی او یو داسې نظام یې موږ ته جوړ کړی چې د هغه خوند په سیکولریزم او ډیموکراسی کې نشته.

زه باور لرم که زموږ اوستاسې د ملکونو باچهان د اسلامي خلافت په معنی اوخوند پوه شي نو بیابه هېڅکله دیموکراسي اوسیکولریزم ته مخه نه کړي دعاکوم چې الله جل جلاله یوه ورځ زموږ اوستاسې پر هیوادونو هم د اسلامي امارت بیرغ ورپیږي او هلته هم خلګ د ملا محمدعمر مجاهد له فیضه برخمن شي.

له دې خبرو وروسته عزام د مسجدوالو سره مخ د کور پر خوا روان شو.

عزام غوښتل چې کور ته ولاړ شي خو کلیوالو ورسره زور کاوه چې ځان سره یې بوځي اخر عزام مجبوره شو او د ګاونډي مهمان خانې ته د کلیوالو سره ولاړی هلته مجلس خورا تود شو ټولو کلیوالو یو بل سره داسې چلند

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومجلس کاوه لکه د پوې کورنی غړي چې وي عـزام چـوپ ناسـت و او د کلیوالو خبرو ته یې غوږ نیولی و دلته ټولو عربي ژبه ویل.

کله چې د یو کلیوال فکر شو چې عزام چوپ ناست دی نو ددې لپاره چې د عزام نابلدتیا لیرې شي پر عزام یې ټوکه وکړه او وروسـته یـې ورتـه وویـل چې ته ولې چوپ یې لکه چې زموږ سره دې مجلس زړه نه غواړي یـو بـل کلیوال هم پر عزام را غږ کړه او د ټوکې پـه ډول یـې ورتـه وویـل: دده لکـه چې میرمنې ته زړه شو اوده ته بغیر د میرمنې د سهار ناشته خوند نه ورکوي په دې خبره د مجلس ټولو ګډون والو وخندل عزام هم وخندل او د ټوخې کولو وروسته یې وویل:

ملګرو زه قسم کوم نن زه داسې فکر کوم لکه زه چې جنت کـې ناسـت یـم او د الله جل جلاله نیک او جنتیان بنده ګان زما تـر څنـګ ناسـت وي او زه ورسره مجلس کوم ماته اجتماعي ژوند زیات خونـد راکـوي زه لـه انفرادي ژوند څخه سخت ستړی شوی یم هلته مو داسې انفرادي ژوند کاوه چې زما مور او پلار هم زما څخه په جلا کور کې اوسیدل په هفته کـې بـه یـوه ورځ ملاقات ته ورتلم:

ملګري مې اکثره په انفرادي ژوند عادت وه هغوی هم بغیر له کـوم ضروري کاره چې ماسره به یې وړ بل وخت نه راتلـل نـن چـې ستاسي سره یـو ځای ناشته کوم دا مې په ژوند کـې لـومړی ځـل دی چـې د ناشتې څخه خوند اخلم.

له ناشتې کولو وروسته عزام د مجلس کسانو ته وویل: نور به نـو زه کـور ته ولاړ شم چې میرمن مـې یـواځې ده او موسـکی شـو د ټـوکې پـه ډول یې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: اوس به هم سخته راته غصه وي که یې جنګ راسره وکړ لامل به یې ناسې یاست.

په مجلس کې ناست یو مهاجر محمد لیبي ورته ورتـه وویـل: کـور تـه ولاړ شه خو ژر به بیرته راځې ځکه بیا دې د مهـاجرو هغـه دفتر تـه بیـایم چـې اسامه بن لادن جوړ کړی.

عزام هم د هو په ډول سر وښوراوه

عزام کور ته راغی عایشې چې ناشته تیاره کړې وه د عزام په انتظار ناسـته وه چې تر څو عزام راشي او یوځای یې وخوري .

خو عزام عایشې ته وویل: ته خپله ناشته وکړه اوخالد هم له خوبه ویښ کړه زه ځم چې یوځای کار لرم او بیرته له کوره راووت.

او د محمد لیبی سره د مهاجرو د دفتر پر لـور روان شـو د مهـاجرو دفـتر تـه چې ورسید هلته یې په دفتر کې ناستو کسانو ته خپل پیژندنـه وکـړه او ورتـه یې وویل: زه د خپلې میرمنې او یوه ماشوم زوی سره راغلی یم په دفـتر کـې ناست یو کس سر داسې ښکته کړی و لکه ځان سره چې فکر وهي د دفـتر یو بل غړي پر را غږ کړه چې څه فکر کوې دا بل ورته وویل: چې عزام خـو په تشکیل کې نشي تللی ځکه کور یې یواځې دی او هره ورځ د خط څخه راتلی هـم نـشي ځکـه اوس الحمـدالله د مجاهـدینو خـط محمـود راقـي تـه رسیدلی عزام ته باید همدلته یوه وظیفه ور پیدا کړو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دفتر مشر لاخبري نه وې خلاصي کړې چې عزام ورغبرګه کړه محترمه زه کولای شم چې د جهاد لپاره خپل میرمن بیرته مصر ته واستوم که هغه طلاق وغواړي زه به یې د الله د رضا لپاره طلاقه هم کړم.

د دفتر مشر ورته وویل نه عزامه جهاد یواځې توپک اوجنګ ته نه وایي ته کولای شې چې همدلته زموږ سره مرسته وکړې چې دا هم جهاد دی الله جل جلاله به یې ضرور بدله درکوي خو زه فکر کوم چې تاته دلته کوم کار به لاس درکړم.

په دې وخت کې محمد لیبي وویل: چې د عزام لپاره ما وظیفه پیداکړه

د دفتر مشر پوښتنه ښینې وکړه چې څنګه وظیفه محمده! موږ ته هم ووایه

محمد لیبي وویل: چې زموږ د جماعت امام هغه بله ورځ هم ګیله کول چې تاسې ټول جنګونو ته ځي اومانه مو داسې کار راپه غاړه کړی چې جنګ ته هم نشم تللی.

عزام د الازهر پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي څخه فارغ دی او دده لپاره زموږ د جماعت امامت ډیر مناسب مسئولیت دی.

خو عزام چې کله دا خبرې واوریدلې نو.یې ورته وویل: نه زه د امامت لپاره نه یم راغلی زه غواړم چې جهاد وکړم زه جنګ ته ځم.

د دفتر مشر د عزام خبره ونیوله او ورته یې وویل: عزامه تر دې به لوی جهاد چیرته وي چې ته زموږ امامت کوې او بچیانو ته مو درس وایې اوټول په جهادي عقیده سمبال لوی کړې چې اینده کې به هر یو ستا له برکته مجاهد وي که رشتیاً د الله جل جلاله د رضا لپاره راغلی یې نو همدا ستا مسئولیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او که غواړې چې نوم وکړې اوشهرت پیداکړې ددې لپاره جنګ ته
ځې نو مور بخښنه غواړو ستا مرسته نشو کولای

مور ستا ورونه یو یقینا تاته به هغه مشوره درکوو چې ستا د دنیا او اخرت د
نیکمرغی سبب وګرځي

عزام چې کله د دفتر د مشر خبرې واوریدلې نو یې د هو په ډول سر
وښوراوه او دفتر مشر ته یې وویل: سمه ده چې تاسې کومه وظیفه ماته
راسپارئ زه به یې قبلوم او ان شاءالله تر خپله توان اوطاقت پورې به یې په
ښه ډول سر ته رسوم.

په همدې ځای کې عزام ته د مسجد د امام وظیفه وسپارل شوه او عزام ته د
طالبانو د وخت شل لکه افغانی معاش مقرر شو خو عزام ورته وویل: چې
زما کورنی کوچنی ده پنځه لس لکه افغانی هم زما د میاشتې بس دي

د دفتر مشر د عزام پاکې عقیدې او اخلاص ته حیران شو.

عزام چې کله کور ته راغی پر عایشې یې د خپلې وظیفې زیری وکړ عایشه
هم زیاته خوشحاله شوه او بیا یې ورته دا خبره وکړه چې الله جل جلاله
هیڅکله د خپلو نیکو بنده ګانو کارونو نه بندوي او ورته یې وویل: عزامه!
انجونو ماشومانو ته به زه درس ورکوم چې ثواب به مې هم وي او وخت به
مې هم په تیریږي.

د عزام هم خوښه شوه.

دریمه ورځ عزام د مسجد امام شو او د کلي ماشومانو ته یې درسونه هم
شروع کړل چې یوه ورځ د مهاجرو دفتر ته ولاړ او هلته یې عریضه وکړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زما فقط یو ازمان را پوره کړئ هغه داچې زه یو ځل د امیرالمومنین ملا محمدعمر مجاهد سره ووینم چې د دفتر له خوا ورته وویل شول چې انتظار شه بیادرته جواب درکوو یوه ورځ مازدیگر د دفتر له خوا ورته خط راغی چې سبا د ورځې نهه بجې ستا ملاقات د امیرالمومنین ملامحمدعمر مجاهد سره کیږي عزام چې کله خط ولید ناڅاپه یې لاسونه پورته خواته وغورځول او لویه چغه یې تر خولې ووته او بیا یې د شکر سجده اداکړه او لیک یې مچ کړ او بیا یې زړه پورې ونیو او قاصد یې د دوهم ځل لپاره په غیږ کې ونیو او مننه یې ځینې وکړه او قاصد ته یې وویل: ستا زیری پر ما باندې دی چې هرشی غواړې زه یې په زیری کې درکوم قاصدورته وویل: چې فقط راته دعا وکړه.

عزام قاصد رخصت کړ او کور ته راغی او عایشه یې هم خبره کړه چې دی د امیرالمومنین ملاقات ته قبول شوی دی.

عزام باندې دا ورځ بیخي زیاته اوږده شوه او هر شیبه یې ساعت ته کتل چې کله به دا ورځ تیره شي چې سبا د امیرالمومنین ملاقات ته ولاړ شی عزام د یوه تږی روژه نیونکو غوندې هره شیبه شمارل او د سبا لپاره یې انتظار کاوه عزام ماښام هم د زیاتې خوشحالۍ څخه خوب ونه کړ او فکر یې کاوه چې امیرالمومنین ته به څه پیغام ورسوي هغه سره به څنگه خبرې وکړي سهار چې جماعت ته راغی دلمانځه ادا کولو وروسته یې مقتدیانو ته وویل:

تاسې کې چا امیرالمومنین ملامحمد عمر مجاهد لیدلی ؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جماعت په اخر صف کې ناست. د چیچنیا یو مهاجر وویل: چې الحمدلله مالیدلی عزام بیا وویل: چې تاسې به خبر نه یاست زه نن د امیرالمومنین ملا محمدعمر مجاهد سره ملاقات کوم که تاسې کې هرڅوک امیرالمؤمنین ته کوم پیغام اویا د هغه څخه غوښتنې لرئ ماته وواياست ان شاءالله د امانت غوندې به یې هغه ته رسوم.

ټولو مسجد والو ورته وویل: چې زموږ سلام پر هغه وایه بس نور کومه غوښتنه نه لرو.

له دې وروسته عزام دعا وکړه او کلیوال ټول ولاړل یواځې عزام اود کلي ماشومان او هغه کسان چې سبقان یې ویل مسجد کې پاته شول.

عزام نن د پخوا په څیر نه و په مخ کې یې خوشحالي له ورایه ښکاریده او هر ماشوم ته به یې جلا جلا خندل او مخکې چې به کومو ماشومانو زوړ سبق نه و زده کړی عزام به ورته غصه کیده خو نن هغه ماشومانو ته هم نه غصه کیده.

عزام نن خپلو شاگردانو ته په ډیره مینه درس ورکاوه د عزام په شاگردانو کی یحیی چې لږ غټ و د عزام څخه د گیلې په ډول پوښتنه وکړه استاده چې زما سبق زده نه وي ماته غصه کوې خو نن چې د ډیرو شاگردانو سبق زده نه و تا هیڅ هم ورته ونه ویل.

دیحیی په خبره سره ټولو ماشومانو وخندل.

عزام هم وخندل او یحیی ته یې وویل: رښتیاهم مانن یوه شاگرد ته هم هیڅ ونه ویل خو ماشومانو تاسې خبر نه یاست زه نن د امیرالمؤمنین سره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاقات لرم چې په دې خوشحالي کې نن ټاسې ټولو ته څه نه وایم تر ټولو تنبل شاګرد حماد ورته وویل استاده.الله دې هره ورځ ستا ملاقات د امیرالمومنین سره وکړي چې موږ دې له غصې خلاص یو په دې خبره بیا ټولو شاګردانو وخندل عزام ورته وویل حماده چې تا دومره ښه دعا وکړه د سبا لپاره هم ته له غصې خلاص یې او بیا یې شاګردانو ته وویل ماشومانو نور ټوکې ټکالې بس کړئ ژر خپل سبقونه زده کړئ چې نن مو وختي رخصت کوم.

د معمول سره سم به عزام خپل شاګردان پر لس بجې رخصتول خو نن یې پر پاو باندې اته بجې رخصت کړه او کور ته راغی کور کې عایشه هم ماشومانو انجونو ته په درس ورکولو مصروفه وه خو غزام عایشې ته وویل: چې درس پریږده زما جامې راته برابرې کړه چې زه نور ځم اوس هم ناوخته شوی دی عایشه د عزام په جامو تیارولو بوخته وه او وړوکې زوی خالد یې شاته ولاړ و اود مور څخه یې پوښتنه وکړه

ممي بابا مې چیرته ځي؟ .

عایشه: قربان دې شم زویه بابا دې بازار ته ځي

خالد: بازار کې څه کوي؟

عایشه: د امیرالمومنین ملاقات ته ځي.

خالد: ممي دا څوک دی؟

عایشه: بچیه ذا د الله جل جلاله نیک بنده دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد: ممي اميرالمومنين مې پلار ته څه ورکوي؟

عايشه: هههه زويه اميرالمومنين دې پلار ته چاکليت ورکوي.

خالد: ممي زه هم ځم پلار سره.

عايشه: نه زويه زه اوته بيا دماما کور ته ځو په همدې خبرو کې خالد ژړا شروع کړه او چغې يې وهلې چې زه هم پلار سره ځم

عزام چې کله د خالد ژړا واوريدله نو دبهر څخه يې په راغږ کړه چې خالد ولې ژاړي؟

عايشې جواب ورکړ چې خالد وا يې زه هم ستاسره ځم.

عزام عايشې ته وويل چې جامې ورته تيارې کړه خالد هم ځان سره بيايم

خو عايشې عزام ته وويل چې عزامه څه واده ته خو نه ځي او نه کوم د يوعادي سړي پوښتنې ته ځې.

هلته به ازدحام او شور زيات وي په ساعتونو به انتظار کوې او بيابه خالد درباندې بوج شي عزام ورته وويل پروا نکوي خالد اوس کوم کوچنی ندی خو شکر لوی هلک دی متيازې نکوی پر مابه ولې بوج شي.

ښه دی خالد به هم د اميرالمومنين په ديدار مشرف شي

عزام د خپل وړوکي زوی خالد سره دمهاجرينو فتر په لور راروان شواو کله چې دفترته راورسيد دفتر مشر ته يې سلام ادا کړ او ستړي مشي يې ورسره وکړه او له ستړي مشي وروسته عزام ته د دفتر د ملازم له خوا د چاې گيلاس

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېښودل شو چې خالد هم پلار ته وکتل د دفتر مشر پوه شو چې خالد هم چای غواړي نو ملازم ته يې وويل:

دې ګلالي ماشوم ته هم لږ چای په ګيلاس کې واچوه عزام ورته وويل: نه ريس صاحب دی چای نه خوري او د شيريني لوښي ته يې لاس کړ او يو چاکليټ يې د خالد په لاس ورکړ او ويې ويل: دده لپاره همدا بس دی.

دفتر مشر ورته وويل ماشاءالله عزامه زوی دې هم غټ شوی دی.

عزام ورته وويل: هو الله جل جلاله دې نيک اوصالح زر ستر کړي چې زه جهاد نه فارغه شم.

دفتر مشر د ټوکې په ډول ورته وويل: عزامه ستا نو جهاد ته نيت نه وکه دې نيت وای نو واده دې څه کاوه

عزام ريس صاحب والله سخت تېروتم که زه خبر وای مابه کله هم واده نه وای کړی خو بس اوس نو الله راوسلې ده په دې جنجال اخته شوی يم.

ريس: ماشاءالله زيات ښکلی ماشوم دی نوم يې څه دی؟

عزام: په صحابه کرامو کې د خالد بن وليد رضی الله عنه کارنامو زيات خوند راکوه نو د همدې خاطره مې د خالد نوم پر اېښی دی.

ريس: ښکلی نوم دی الله جل جلاله دې خالد بن وليد غوندې شخصيت ترې جوړ کړي.

عزام اللهم امين. منته.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزام لا یوه پیاله چای نه وې څښلې چې تور کروزین موټر د دفتر مخې ته ودرید.

دفتر مشر چې کله موټر ولید نو عزام ته یې وویل: عزامه ځان تیار کړه چې نور حرکت کوو.

عزام هم را ولاړشو اومخ د موټر پرخوا راغی

عزام او دهغه وړوکي زوی خالد او دفتر مشر موټر ته وختل او موټر د میدان څخه د کندهار د ښار پر طرف روان شو له نیم ساعت وروسته موټر د امیرالمومنین کور ته راورسید او موټر چلونکي غږ وکړ چې نور کوز شئ. راورسیدلو دعزام د زړه ضربان ډیر زیات شو او ستونی یې وچ وچ کیدی او د زړه اواز یې خپل په غوږونه اوریدی.

عزام د کور مخکې ودرید چې اوس به کوم ساتونکی تلاشي وکړي خو دفتر مشر ورته وویل چې عزامه درځه.

عزام حیران شو او وروسته یې وویل ته صبر چې تلاشي خو واخلي

دفتر مشر موسکی شو او عزام ته یې وویل: درځه دلته تلاشي نشته

عزام هم کور ته داخل شو.

د کور دیوالونه خامه وه خو اطاقونه یې نیم د سمیټواو نیم د ختو جوړ وه

دفتر مشر مخکې عزام د شاه له طرفه پسې روان و عزام تر زیات فشار لاندې و

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې اطاق ته داخل شول په اطاق کې یوه ساده فرش غوړیدلی و او د دیوال په طرفونو کې څو تکیه ګانې پرتې وې تقریبا پنځه لس کسان په مجلس کې ناست وه

د دوی تر منځ هیڅ فرق نه ښکاریده ټولو عادي جامې اغوستې وې اکثرو تور باج لنګوټې تړلې وې.

عزام حیران شو چې په دې کې به کوم یو امیرالمومنین وي.

عزام په همدې فکر سټړي مشي شروع کړه تر سټړي مشي وروسته عزام ته یو کس غږ کړه چې دلته زما څنګ کې کښینه عزام هم ورغی کله چې عزام ورغی نو پوه شو چې همدا امیرالمومنین دی.

عزام چې کښیناست امیرالمومنین ورته خپله تکیه شاته کیښوده خو عزام انکار وکړ خو امیرالمومنین ټینګار وکړ چې ته اوس دې تکیې ته څنګ وواهه ماته به بله تکیه راوړي عزام سخت تر تاثیر لاندې و.

هغه نه پوهیدی چې اوس د امیرالمؤمنین سره څه ووا یي.

امیرالمومنین د عزام زوی غیږ ته راکش کړه او غیږ کې ونیو او بیا یې مچ کړ او څه پیسې یې لاس کې ورکړې عزام ددې لپاره چې امیرالمومنین د خالد لامله په تکلیف نه شي نو غوښتل یې چې خالد د امیرالمومنین له غیږې څخه راواخلي او پر خمکه یې کیښنوي خو امیرالمومنین ورته وویل: چې پریږده ماته ماشومان زیات خوند راکوي.

او عزام ته یې وویل: چې کوم مشکلات خو به دلته نلرې؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزام ورته وویل: چې کوم مشکل نشته اوبیا یې امیرالمومنین ته وویل:

زه له تا څخه زیاته مننه کوم چې زموږ دومره عزت کوې او موږ ته دې پناه راکړه زما عبادت ستاسې له برکته ماته نن صحیح معلوم شو

زه چې کله مصر کې وم کله چې به د جمعې ورځ راغله زه به په همدې فکر کې وم چې ایا زما د جمعې لمونځ به صحي وي کنه؟

ټول وخت به مې په مشکوک ډول سره د جمعې لمونځ کاوه.

ځکه هلته شرعي حدود نه عملي کیدل نظام اسلامي نه و.

خو دلته چې راغلی یم هغه ټول شکوک می لیرې شوي دي.

الله جل جلاله دې تاته ددې عوض په جنت کې درکړي چې د الله جل جلاله نیک بنده گان دې سره یوځای کړي دي.

او الله جل جلاله دې موږ او تاسې په جنت الفردوس کې هم سره یوځای کړي.

کوم احسان چې تاسې پر موږ کړي هغه دومره لوی احسان دې چې د هغه بدله زما له توان څخه لوړه ده الله جل جلاله دې بدله درکړي.

امیرالمومنین ورته وویل: ما په تاسې احسان ندی کړی بلکې پرځان مې احسان کړی چې تاسې غوندې نیک کسان مې راټول کړي دي دا کار ما خاص د الله جل جلاله د رضا لپاره کړی او زه به ان شاءالله تر خپله وسه پورې ستاسې خدمت کوم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بل وخت داسې خبره مه کوه چې ما په تاسې احسان کړي بلکې داسې ووايه چې ما خپل مسوليت ادا کړی.

دا هغه مسوليت دی چې الله جل جلاله به په ورځ د قيامت زما څخه ددې پوښتنه کول نو ما پرتاسې د احسان لپاره تاسې ته ځای ندی درکړی بلکې د خپل مسوليت د پوره کولو لپاره مې ځای درکړی.

عـزام د اميرالمـومنين د خـبرو پـه اوريـدلو سره وويـل الله جـل جـلا لـه دې ستاسې خدمت قبول وگرځوي.

او لـه دې وروسـته يـې اميرالمـومنين تـه د نـورو مهـاجرو سـلام هـم ووايـه اميرالمومنين د نورو مهاجرو په اړه له عزامه څخه پوښـتنه وکـړه او عـزام تـه يې وويل: مهاجر خو به کـوم مـشکلات نـه لـري؟ عـزام ورتـه وويـل: هـيڅ مشکل نشته او ټول مهاجر ستا څخه له اندازې زيات خوشحاله دي او تاتـه زياتې دعاگانې کوي.

عزام د اميرالمومنين سره د ملاقات وروسته بيرته د دفترِ مـشر سره د کـور پـه طرف راستون شو هغه چې کله کور ته راغلی مازديگر يې خپلو مقتديانو ته د اميرالمومنين د عاجزی خاکساری او تقوا کيسې کولې کليوال هـم د عـزام د خولې څخه د هر حرف راوتلو ته خورا زيات منتظر وه او ټـول خـوښ وه چې د اميرالمومنين ملامحمد عمر مجاهد له اوصافو خبر شي عزام له خبرو کولو وروسته اميرالمومنين ته د اوږد عمر دعا وکړه.

د وخت په تيريدلو سره عزام له افغاني دودونو او ژبې سره سـم بلـد سـو او روابط يې له افغانانو سره زيات شول عزام تـه افغانـانو څکـه خونـد ورکـاوه چې په دې زمانه کې يواځيني افغانان وه چې اکثره يـې پـه مکمـل ډول پـه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرعي طريقه برابر وه او همدارنگه افغانانو عزام ته د خپل دستور له مخې سيد وايه چې سيد بيا په افغانانو کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم قومي ته ويل کيږي او افغانان بيا سيد ته ډير زيات احترام لري.

د عزام زوی خالد هم په افغانی ټولنه کې رالويده خالد نهه کلنی کې قرانکريم حفظ کړ خو خالد ډير د افغاني کلتور سره ځکه بلد نه و چې ژوند يې د مهاجرو سره و او دې ځای کې افغانان بيخي نه وه

عزام او دهغه ميرمنې عايشې او زوی خالد يې شپږ نيم کاله ډير ارام خوشحاله اوسوکاله ژوند افغانستان کې تير کړ يوه ورځ سهار چې عزام له مسجده څخه راغی راډيو يې راواخيستل په هر استيشن کې دا خبر شروع و چې امريکا کې پر پنټاګون او يو بلې تجارتي ماڼۍ حمله شوې چې په زرګونو کسان پکې وژل شوي دي.

په راډيوکی دا خبره هم ښه په درز خپريده چې دا کار اسامه بن لادن کړی خو د څه مودې له تيريدلو وروسته عزام پوهيده چې حالت مخ په خرابيدلو روان دی ځکه په راتلونکو نژدی ورځو کی امريکا غوښتل چې په افغانستان يرغل وکړی

عزام چې کله دا حالت وليده نو يې عايشې ته وويل الحمدلله دادی اوس خالد يولس کلن دی د کور لپاره خوراکي توکي او نور هر څه د ضرورت سامان راوړلی شي نو زما لپاره نوره مناسبه نه ده چې دلته پاته شم زه بايد سنګر ته ولاړ شم عايشې هم پرته له دې چې انکار وکړي ورته وويل الله جل جلاله دې نصرت وکړه او الله جل جلاله دې پر دښمن لاس بری کړه عزامه تاته اجازه ده او هيڅکله په سنګرونو کې زموږ په اړه فکر ونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي الله جل جلاله زموږ حفاظت کونکی دی او الحمدلله خالد هم اوس غښ دی او ګاونډیان مو هم ټول سپیځلي او اخلاص مند مسلمانان دي ان شاءالله د مشکلاتو په وخت کې به ضرور زموږ مرسته کوي.

عزام چې کله د عایشې خبرې واوریدلې نو زیات خوشحاله سو.

عزام عایشې ته وویل که چیرې زه شهید سوم تاسي به د مهاجرینو دفتر ته مراجعه وکړئ ان شاءالله تا او خالد به په مصر ته ورسوي.

د عزام په خبره سره عایشه موسکۍ شوه او بیا یې عزام ته وویل ولې اسلامي نظام فقط پر تا ولاړ دی چې خدانکرده که ته شهید شوې بس نو اسلامي نظام نړیږي موږ به بیرته مصر ته ځو؟

عزام: نه عایشې زما دا مقصد نه و چې اسلامي نظام زما سره یو ځای ختمیږي مافکر کاوه چې تاسې به بیا دلته د یواځیتوب احساس وکړئ

عایشه: عزامه موږ هیڅکله د یواځیتوب احساس نه کوو ځکه الله جل جلاله به هر رنګه حالاتو کی زموږ مل دی او الله جل جلاله تر هر چا ښه ساتونکی دی.

عزام :عایشې رب دې تل همداسې په حق ثابته قدمه لره او د خالد روزنې ته خاصه پاملرنه کوه

عایشه: ان شاءالله فکر مکوه زما د خالد ځخه به داسې مجاهد جوړیږي چې اقصی به فتحه کوي.

عزام چې کله مازدیګر جماعت ته ولاړی نو یې مقتدیانو ته داسې وویل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه منم چې تاسي ماته ډېر عزت راکړی او زه مو له حده زيات نازولی يم او ددې احسانونو بدله زما له وسه تيره ده الله جل جلاله دې تاسې ته ددې احسانونو بدله درکړي.

خو اوس يو احسان بل هم راباندی وکړی چې نور ما د امامت له مسوليته خلاص کړئ او بل کس يې په غاړه واخلئ زه به نور د سنگرونو په طرف ولاړ شم او که هر چا زما پر ځای د امامت مسوليت پر غاړه واخيست زه په همدې جماعت کې وعده ورسره کوم چې که زه شهيد شوم زه به د هغه شفاعت کوم.

د جماعت په پای کې ناست يوه سپين ږيري وويل: چې زه ستا پر ځای دا مسوليت پر غاړه اخلم عزام زيات خوشحاله سو او د سپين ږيري څخه يې مننه وکړه عزام په دې بله ورځ د کندهار څخه په تشکيل کې د ملاعبدالقيوم ذاکر په محاذ کې د کندز په طرف ولاړې عزام کوښښ وکړ چې د مزارشريف خواته د جنگ لومړی کرښې ته ولاړ شي خو د مشرانو له خوا پرې امر شوی و چې په همدې کندز کې پاته شي د عزام اخلاص هوښيارتوب او اخلاقو عزام د ملگرو په منځ کې زيات مشهوره کړی و د عزام ورين تندي او علمي خبرو د عزام خواته د مجاهدينو د جذب قوه زياته کړې وه هر ملگري به کوښښ کاوه چې د شپې په پيره کې د عزام سره ملگري شي.

د عزام اطاق ته به د شاو خوا اطاقونو ملگري هر وخت ددې لپاره راتلل چې د عزام خوږې خبرې واوري ځکه عزام يو خورا ښکلی او جذباتي تقرير هم کاوه عزام د مصر الازهرپوهنتون څخه فارغه و او ښه اسلامي او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخي معلومات يې هم درلودل چې هر وخت به يې ملګرو سره شريک کول

خو عزام فقط دې ورځې ته انتظار و چې کله به امر وشي چې دوئ د جنګ لومړی کرښې ته ولاړ شي.

عزام په کندز کې له شل شپې تيرولو څخه وروسته د جنګ لومړی کرښې ته ولاړې هلته يې دوه جنګونه د باغيانو سره وکړه چې په دواړو کې د عزام ملګرو کاميابي تر لاسه کړه خو څو ورځې وروسته د امريکا بې رحمه بمباري هم شروع سول چې عزام بيرته د کندز په طرف د خپلو ملګرو سره ولاړی او هلته ميشته شو

خو عزام په خبرونو کې واوريدل چې د کندهار په هوا يي ډګر هم بې رحمانه بمبار شروع دی عزام سخت خپه و ملګرو ته د عزام د خپګان علت سم معلوم نه و خو هر ملګری پوهيدو چې عزام د پخوا په شان خوشحاله نه معلوميده هر ملګری به يود بل څخه د عزام د خپګان پوښتنه کول.

عزام د معمول خلاف په دې شپه وختي بيسترې ته ولاړی خو د فکر خرابوالی لامله خوب نه ورتلی ټول فکر يې د کندهار په هوا يي ډګر په بمبار کې و او هره لحظه يې ځان سره دا انګيرل چې عايشه او خالد به ډير زيات د يواځيتوب احساس کوي او هغه به د بمونو درانه غړونه ډاروي خو خپل ځان ته به يې په دې تسلي ورکول چې څه ګاونډيان به يې مرسته کوي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو شیطان به ورته وسوسه بیا هم زیاتول چې عایشه او خالد په داسې ځای کې د سختې سره مخ دی چې هیڅ یونېږدي او لیرې خپل یې ورسره نشته

په دې شپو کې یواځې عزام نه بلکې ټول مجاهدین خپه وه ځکه هر ساعت اوهره شیبه د امریکا په بې رحمه بمباریو کې مجاهدین شهیدان کیدل د مزارې پر مجاهدینو بې دوه پنځوس طیارې سم قیامت جوړ کړی و او دلاندې طرفه د باغیانو د ظلم ځخه ډکې حملې او تعرضونه هم شروع وه د باغیانو مشر برهان الدین ربانی به په خپله د امریکایانو طیارو ته هدف ور په ګوته کاوه او هغوی ته به یې ویل چې غټ غټ بمونه پرې اچوئ هر لحظه چې په امریکا یې طیارو بم واچوه پوره دوه ساعته به د اسمان مخ لوګیو او دوړو نیولی و.

مجاهدین په ډیر سخت حالت کې وه یو په بل پسې یې سیمې پریښودلې او شاه تګ یې کاوه.

عزام سره د عایشې اود خالد دغم سره سره د مجاهدینو غم هم و

خو چې غم به یې زیات شو فقط به یې دا وویل ان الله مع الصابرین

ټول شپه یې خوب ونه کړی سهار یې د ملګرو په کوښښ او زیار یو سیټلایټ تلفون پیداکړ او په کندهار کې یې د مهاجرینو دفتر ته زنګ وواهه او غوښتنه یې ترې وکړه چې تلفون د دوی کور ته یوسې د مهاجرینو دفتر هم ورته وویل چې نیم ساعت انتظار شه عزام له نیم ساعت انتظار وروسته د خپل کور سره رابطه کې شو.

لومړی تلفون کې خالد خبرې وکړې چې پلار ته یې وویل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا ته چیرې یې ولې نه راځي مور زیات داریږو

عزام : بچیه زه ډیر ژر درځم غم مکوه

خالد : بابا ژر راشه دلته امریکایان راغلي مور وژني هره شپه بمبار کوي زه ترې خوب نشم کولی زیات بیریږم

عزام : بچیه غم مکوه امریکایان تاسي نشي وژلی الله جل جلاله ستاسي ساتونکی دی چې بیریدلې کلمه وایه!

خالد سمه ده بابا زه اوس هم هره شپه کلمه وایم او مور مې ویل که امریکایانو مور ووژلو مور به جنت ته ولاړ شو بیا ته هم هلته راشه

عزام چې کله د خالد دا خبره واوریدل او پوه شو چې د خالد او عایشي نور د ژوند څخه امید ختلی دی تر سترګو یې اوښکې راغلې خو کوښښ یې وکړه چې ځان قابو کړی او خالد ته یې وویل چې تلفون د عایشې په لاس ورکړی

عایشه چې تر خپل ځان د عزام او خالد برخلیک ته زیاته خپه وه نو یې له سلامه وروسته په ژړه غونی غږ عزام ته وویل:

عزامه دا به د الله جل جلاله امتحان وي چې زموږ مسلماني وازما یې زه سخته بیریږم چې په دې امتحان کې ناکامه نشم او بې صبري راڅخه ونشي

عزام بې شکه عایشې دا د الله جل جلاله غټ امتحان دی چې کامل مومن او منافق سره جلاکړي عایشې الله جل جلاله ته صبر کوه مور د مرګ او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند په دواړه حالاتو کې کامیابه یو که مړه شو الله جل جلاله به جنت راکوي او که ژوندي یو الله جل جلاله به د خپل دین ساتنه راباندې کوي.

عایشه: عزامه زه له مرګه نه بیریږم خو زه د خالد اینده ته خفه یم که یو ځای راسره شهید سو خو ښه دی کنه کیدای سي کفار هغه د ځان سره یوسي او راتلونکي کې به یې برین واش کړي تر هر څه زیات خالد او بیا تاته خپه یم

عزام: مه خپه کیږه زه د مهاجرینو دفتر ته وړاندیز کوم چې تاسې مصر ته ولیږي.

عایشه: عزامه دلته حالت ډیر خراب دی د امیرالمومنین کور هم بمبار شو د هغه دکورنی زیات غړي شهیدان شول زموږ مهاجرینو کورونه هم هر ورځ تر بمبار لاندې وي فقط ته دعاکوه چې الله جل جلاله زموږ ساتندویه شي

عزام: سمه ده ته هم دعا کوه پرخالد پام کوه نور مو په الله جل جلاله سفارم!

عزام د مهاجرینو دفتر ته خط ولیږه چې دده کورنی بیرته مصر ته ولیږي خو درې ورځې پس د مهاجرینو دفتر ورته داسې جواب راولیږه

محترم عزام صاحب ستاسې غوښتنه ترموږ راورسیدل خو بدبختانه چې کومه ورځ د امریکا ولسمشر جوج بوش دا اعلان وکړ چې ټول هیوادونو دې یا له اسلام سره یوځای شي اویا دې له امریکا سره نو ټوله دنیا له امریکاسره ودریدل هیڅ هیواد زموږ سره مرستې ته تیار نه دی فقط همدا یو څو سربښندونکی واقعي مسلمانان موږ اوتاسې سره پاته یو نور ټولو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونو پر موږ لاری بندې کړی دي د پاکستان ایران او نورو هیوادونو سرحدونه هم بند دي موږ هیڅ لار نه لرو چې ستاسې کورنۍ مصر ته ولیږو خوبیاهم موږ کوښښ کوو چې ستاسې کورنۍ خوندي ځای ته انتقال کړو عزام چې کله دا خط ولید زیات مایوسه اوخپه شو

خو دوه ورځې پس یې وغوښتل چې بیا د سټلایټ له لارې د مهاجرینو د دفتر سره اړیکه ونیسي خو هغه شمیره بنده وه چې وروسته د مخابرې له لارې خبر شو چې د مهاجرینو دفتر په مزایل توغندي ویشتل سوی دی او دفتر مشر هم شهید سوی.

عزام پوه شو چې نور له کورنۍ سره اړیکه نشي نیولی او کورنۍ یې له لاسه ورکړه

عزام لا د کور په فکر کې و چې ملګرو یې وویل د کندز لار هم بنده شول اوموږ ټول محاصره یو

عزام کوښښ وکړي چې خپله د کندهار په طرف ولاړ شي خو مشرانو منعه کړي ځکه چې شاوخوا علاقې ټولې باغیانو نیولې وې او یوه لار هم نه وه چې عزام کندهار ته ولاړ شي.

عزام له څو ورځی محاصرې وروسته یوه ورځ سهار ملګرو خبر کړ چې موږ د باغیانو مشر جنرال دوستم ته تسلیمیږو هغه به موږ تر کندهاره ورسوي خو عزام خکه خپه و چی عرب مجاهدین چې هر ځای وي امریکایانو نیول او ګوانتنامو ته یې بیول عزام ته یو افغاني مجاهد وویل عزامه ستا خو صحي پښتو زده ده داسې وکړه ځان پښتون معرفي کړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هلته چې تسليم کېدلو مه ورته وايه چې زه عرب يم بلکې ورتـه ووايـه زه پښتون يم اوځان ورته د ارزګان ولايت د چهارچينو ولسوالي اوسيدونکی ياد کړه د عزام هم د افغاني مجاهد خبره خوښه شول يوه ورځ وروسته ځينو افغاني طالبانو د تسليمی څخه ددې لامله انکار وکړ چې بايـد د تـسليمی څخه وروسته عرب مجاهدين هم صحي سلامت تـر کورونـو يـوړل شي او اکثره افغاني طالبانو هـوډ وکړی چې د عربو مجاهـدينو سره بـه يـو ځـای دژوندتر اخري سلګی پورې جنګيږي او يـا پـه دې شرط تـسليميږی چې عرب مجاهدين به هم نه نيول کيږی

دوه ورځې وروسته افغاني طالبانوته باغيانو وويل چې د امريکايانو سره يې خبره کړې چې عرب مجاهدين به امريکايان تر خپلو کورونو ورسوي

چې ددې تړون له مخې ټولو مجاهدينو په تسليمی شروع وکړه

خو لکه څرنګه چې باغيان له مخکې څخه پـه وعـده خـلافي مـشهور وه دا ځل يې هم وعده خلافي وکړه ځکه مجاهدينو ته ويل سوي وه چې تـاسي فقط اسلحه او موټران تسليم کړئ نور تاسې سلامت تر خپلو کورونو رسول کيږئ خو کيسه بالکل بـرعکس وه ځکـه باغيـانو تـه چـې کلـه مجاهـدينو اسـلحه تـسليم کـړه نـو يـې د ټولـو مجاهـدينو لاسـونه وتـړل او د غلـو غونډې يې دمجاهدينو د جيبو په تلاښی شروع وکړه او باغيانو داسې چـور شروع کړی چې د مجاهدينو د سر خولی او پګړی او بوټونـه يـې هـم تـرې واخيستل او پر مجاهدينو ډيره سخته ورځ وه هر د فساد عسکر بـه راتلـې او مجاهدين به يې تلاښي کول او وهل اوډبول به يې ورکول

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریبا زر نفره مجاهدین یې د عزام په شمول قلعه جنګي ته یوړل چې هلته یې ټول په ترتیب سره په قطارونو ودرول او هر مجاهد یې جلاجلا تلاشي کاوه

چې د باغیانو یو عسکر د عرب مجاهد له جیبه قرانکریم را وایستي او پر ځمکه یې وغورځاوه عرب مجاهد چې کله د قرانکریم بې عزتي ولیدل سمدستي ییبل نژدې ولاړ عسکر ته ورحمله کړه او ټوپک یې په زور ترې واخیستی او دواړه عسکر یې ځای پر ځای ووژل چې په دې وخت کې یو بل افغانی مجاهد هم د دوهم وژل سوي عسکر ټوپک ته لاس کړی په دې کار سره تسلیم سویو مجاهدینو یوځل بیا جنګ شروع کړي او د قلعه جنګی ټول عسکر یې تسلیم کړه او اسلحه یې ترې واخیستل چې د دوهم ځل لپاره قلعه جنګي اونورې سیمې طالبانو ونیولی او مقاومت یې شروع کړی چې په دې وخت کې د باغیانو مشر دوستم امریکایانو ته وویل چې پر قلعه جنګي بمبار وکړي امریکایانو هم پر قلعه جنګي بې رحمه فاسفورس بمونه وغورځول او د ځمکې له خوا یې ګاز هم پر استعمال کړي او اطاقونو ته یې اوبه هم ورایله کړي چې اکثره مجاهدین شهیدان سول

عزام په تیې حالت کې پروت و چې امریکا یې عسکر د باغیانو سره یو ځای ورته راغلل او ورته یې وویل:

امریکا یې څوک یې ؟

عزام : مسلمان یم

امریکایی: دلته دې څه کول؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزام: جهاد مې کاوه

امریکایی: جهاد څه شی دی؟

عزام : ستاسی او ستاسی د غلامانو سره جنګ ته وایي

امریکایي څه؟ جنګ دې کاوه؟

عزام : هو

امریکایي: چاسره دې جنګ کاوه؟

عزام: ستاسې سره مېجنګ کاوه

امریکایي: څومره جنګونو کې دې برخه اخیستی؟

عزام : بیخي زیاتو جنګونو کې حساب یې راڅخه ورک دی.

امریکایي: چې اوس دې خوشي کړو بیا به څه کار وکړي؟

عزام : بیرته به ستاسي په مقابل کې جنګیږم.

امریکایي: ولې؟

عزام: څکه چې الله جل جلاله راته امر کړی.

عزام په داسې حال کې داخبرې کولې چې خوله یې وچه وچه کیدل او زیات تږی و او وینه یې زیاته ضایعه کړې وه او کله کله به د بې هوشۍ حالت ته ولاړی خو بیرته به په هوش کې راغلی د عزام د اخري جواب سره د باغیانو یو عسکر د راکټ مرمی پورته کړه او عزام یې په سر وواهه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعزام سر یې نیم په نیم دوه خایه کړی او عزام د شهادت دکلمې په ویلو سره سر پر ځمکه کیښودی او هغه ارمان چې د لس کلنی څخه یې درلودی په همدې ساعت پوره کړي اود شهادت جام یې نوش کړی او د رب سره کړې وعده یې پوره کړه اودتل لپاره د الله جل جلاله په لور ولاړی دعزام له شهادت وروسته باغي عسکر د عزام جسد تر پښه ونیوی او کش یې کړی او مات سر او په وینو لړنده گور گوری ځمې یې پر ځمکه کشیدې او عسکر مخکې داسې روان و لکه ظالم لیوه چې یو مظلومه هوسی په خوله کې را اخیستي وي.

هو دا هغه د مصرد لوی تجار زوی نازولی عزام و چې اوس یوه چیت پوزي سورمخي ازبک په خاورو کې کشاوه دا هغه عزام و چې په ټول عمر یې تود باد هم نه ولیدلی خو نن د الله جل جلاله د رضا لپاره په خپلو وینو لمبیدلی او د الله جل جلاله د دین دښمنانو په سپیرو خاورو کې کشاوه

خو یواځې عزام نه بلکې دلته په قلعه جنگي کې هر حسین په وینو سور و او د کربلا دشهیدانو غوندې یې د اوبو نارې وهلې خو دا یزیدیان د بني امیه تر یزیدیانو ځکه ظالمان وه چې ټول جسدونه او ټپیان مجاهدین چې لابه ساه پکې چلیدل راواخیستل او ټولو یې په اور کې وسوځول.

عزام د الله جل جلاله د دین لپاره لومړی په خپلو وینو ولمبیده او بیا په اور کې لولپه شو خو عایشه اوخالد لا خبر نه و چې نور به د عزام جسد هم نه ویني او په بې صبری سره یې دعزام انتظار کاوه چې عزام به راشي او له دې دوزخه به دوی وباسي...

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عایشه زیات وارخطا او مایوسه وه ځکه دلته د محاصرې کړی ورخ په ورخ پرې راتنګیدل د طالبانو تر لاس لاندې فقط کندهار او هلمند پاته شو

دوه ورځې وروسته د عایشې ګاونډیان د عایشې کور ته راغلل او عایشې ته یې وویل موږ قاچاقبران پیداکړي دي کیدای شي دوی موږ او تاسي یوځای د افغانستان او پاکستان تر منځ سرحد قبایلې علاقې ته یوسي

خو عایشې په ژړه غوني غږ ګاونډیانو ته وویل چې زه ستاسي سره نه ځم

دعزام انتظار کوم کیدای شي هغه راشي او بیا موږ یو خوندي ځای ته ورسوي عزام ماسره وعده کړې وه چې زه به راځم او د مرګ ترساعته به ستاسره یم ما د عزام سره پنځه لس کاله ژوند کړی یوه ورځ هم ما د عزام بې وفایي او وعده خلافي نده لیدلې ضرور به زما عزام راځي خو خبرې یې ژړا ونیولې اونور یې خبرې نشوې کولی او پړونی یې سترګو ته کش کړه او اوښکې یې پاکې کړې ځکه عایشه ډیره وارخطا وه چې اوس څه وکړي د عزام د ژوند او مرګ معلومات ورته نه و پر عایشې هغه وخت سم قیامت سو چې ګاونډیان یې خپل ماشومان وایستل او ولاړل د مهاجرو په ټول کلي کې یواځې عایشه د یولس کلن خالد سره پاتې شوه په ټول کلي کې خاموشي سول فقط پاس د طیارو اواز و او یو یو بم یې ځمکې ته غورځاوه مازدیګر ته د خالد تبه هم شول او تبه یې زیاتیدل او سر یې له حده زیات تود شو عایشه حیرانه وه او شاوخوا کور کې ګرځیدل چې اوس څه وکړي ځګه ټول کلي کې هیڅوک هم نه و چې د میدان ځخه ښار ته تللي وای لارې هم دبمبار له ډاره تړل شوې وې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عایشې فکر کاوه چې همدا قیامت دی عایشه اطاق ته راغلل او څادر یې لوند کړی او د خالد په تندی یې کیښود تر څو یې تبه لږ ارامه شي او عایشې خالد ته وویل بچیه مه خپه کیږه ان شاءالله جوړ به شې.

خالد سترګی د مور طرف ته واړولې او ورته یې وویل:

خالد: ممي پلار مې چیرته دی؟

عایشه: بچیه پلار دې نن سبا کې راځي.

خالد: ممي بابا ولې دومره ناوخته کړی ته تلفون ورته وکړه چې راشي اوما ډاکټر ته بوځي.

عایشه : سمه ده راځي ته فکر مکوه

خالد : ممي هغه نه راځي ته وګوره ټول ولاړل بابا مې نه راغی چې موږ یې هم بیولي وای.

عایشه: نه بچیه مه ناهیلی کیږه بابا دي راځي.

خالد: ممي جنت چیرته دی ؟

عایشه: ولې جنت څه کوې؟

خالد: بابامی هلته تللی دی ماورته تلفون کې وویل چې موږ به په جنت کې سره یوځای شو هغه هم راته وویل سمه ده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عایشه: نه بچیه پلار دې راځي نور عایشه سلګو ونیول او خبره یې ونـشوی کولای او ددې لپاره چې خالد یې ژړا ونه ویني ژر له اطاقه بهر ووتـل او د باندې یې ښه وژړل او زړه یې تش کړ.

بیرته اطاق ته راغلل چې ګوري د خالد تبه نوره هـم زیاتـه شـوې ده او دې وخت کې د ماښام لمونځ وخت و او ولاړه لمونځ یې وکړی او کله چې یې خالد د لمانځه پس وکاته لږ یې تبه سپکه شوې وه اوخالـد تـه یـې وویـل ولاړ شه بچیه لمونځ وکړه اوس شکر ښه یې!

خالد هم ولاړ شو اودس یې وکړی او غوښتل یې چې جماعت تـه ولاړشي خو کله چې د کور دروازې ته ورسیدی نو عایشې پرې غږ کړه

چیرته ځې بچیه؟

خالد: جماعت ته ځم جمعه کوم او ملاصاحب ته وایم چې دعا وکړي چې زما پلار بیرته راشي.

عایشې: په ژړه غوني غږ ورته وویل:

بچیه جماعت ېی څوک نـشته ملاصـاحب او ټـول کلیـوال ولاړل مـسجد او کلی ټول خالي دی.

بچیه هغه وخت نور ولاړی چې پلار به دې د کلي جماعـت کـې اذان کـوه عایشې ته تیر وخت وریاد شو چې عزام د جماعت امـام و او کـلي کـې بـه شور و او د ماښام تر لمانځه پورې به عایشه د ماشومانو انجونـو پـه درسـونو اخته وه زړه یې ډیر درد وکړی او بې اختیاره له سترګو اوښـکې روانـې وې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خالد هم ولیدلی خالد چې کله د مور اوښکې ولیدلې نو ورنږدې شو او ورته یې وویل ممي مه ژاړه بابا به مې راشي.

عایشې چې کله خان او خالد ته پام شو نو یې سمدستي خپلې اوښکې پاکې کړې او خالد یې غیږ کې ونیوی او مچ یې کړی شپې خپل وزر پر ځمکه وغوړول او خاموشي زیاته شول میاشت د روژې وه خو نه عایشې روژه مات کړې و اونه خالد څه خوړلي وه د دواړو خوراک فقط اوښکې وې ځکه په ټول کلي کې یواځې دوی دوه پاتې وه په کلي کې داسې خاموشي وه چې سړي به فکر کاوه هدیره ده

عایشه سخته ډاریدله خو د خالد مخکې یې کوښښ کاوه چې ځان خوشحاله اوبې غمه ثابت کړي ماسختن اته بجې شوې خالد ورته وویل ممي ماته ډوډۍ راکړه زه وږی یم وروسته د عایشې روژه ماتی او ډوډۍ ته پام شو او ډوډۍ یې راواخیستل د خالد لپاره دې هم څو ګولې وخوړل خو ډوډۍ ورته بیخې ترخه او زهر غوندې ښکاریدل خو خالد ښه په خوند وخوړل ځکه هغه لاتر دې وخته د ماشومتوب عادت نه و هیر کړی او اوس هم ورته خپل مور غر غوندې ښکاریدل هغه مور؟ چې له باد سره به یې لا د زړه درزا زیاتیدل خالد ته خپل ساتونکې او هر څه ښکاریدل خالد پوهیده چې دلته امریکایان بمبار کوي خو هغه فکر کاوه چې مور یې له هر څه خلاصولی شي خو د مور له زړه ناخبره و چې هغې نور حوصله غیرت هر څه له لاسه ورکړي دي او دخپلې سایې څخه هم بیریږي خالد ډوډۍ وخوړل او ماخستن لمونځ یې وکړی او ویده شو ځکه تبه یې مکمل نه وه ښه سوې عایشې تراویح وکړې او وروسته ولاړل له بکس څخه یې د عزام توپنچه راوکښل او لاس کې یې ونیول اود خالد سر ته کښیناستل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ورو ورو یې ځان سره ژړل چې کله به ژړا زور په وکړی نو لړ به د خالد له سره لیرې شول او سلګو به ونیول خو خالد په خواره خوب بیده و چې د شپې یوې بجې ته د خالد تبه نوره هم زیاته شول او له خوبه ویښ شو چې کله یې مور ته وکتل نو یې ورته وویل ممي سر مې زیات درد کوي ایات کرسي مې وویل خو ښه نشو

مور یې ورته وویل بچیه الحمدلله وروایه ښه کیږي خالد د سر په ښورولو د هو جواب ورکړی اوبیا یې د مور څخه پوښتنه وکړه چې ولې تر اوسه ویښه ده عایشې جواب ورکړی چې پیشنمې کوم خالد وویل چې زه هم پیشنمې کوم خو عایشې ورته وویل چې ته به روژه نه نیسي ځکه مریض یې خالد داځل سترګې پټې کړې عایشې فکر وکړې چې خالد بیده شو نو یې بیرته ژړا شروع کړه دا ځل د خالد هم ورپام شو چې کله یې د سترګو تر کونجو ورته وکتل اود مور اوښکې یې ولیدلې نو د خالد تر سترګو هم اوښکې راغلې عایشې چې کله د خالد اوښکې ولیدلې سمدستي یې خپلې اوښکې پاکې کړلې او خالد ته یې داسې وویل:

بچیه ولې ژاړې سر خودې زیات درد نه کوي؟

خالد: ممي نه ژاړم

عایشه: نه بچیه ووایه ولې ژاړې د سر درد دې زیات شو؟

خالد: نه

عایشه: نوبیاولې ژاړې ؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد : په زوره چغه وکړه اود مور غیږې ته یې سر واچوه او پـه ژړا کې یې وویل ممي چې ته ژاړې ماته هم ژړا راځي ته مه ژاړه بیا زه هم نه ژاړم

عایشه: نه ژاړم بچیه

خالد : ممی مه ژاړه زه جوړ یم بابا به مې هم راشي.

عایشې خالد په غیږ کې ټینګ کړی او بیا یې ترخه موسکا وکړه او خالد ته یې وویل ته وګوره زه خاندم

خالد چې کلـه د مـور ظـاهري خنـدا ولیـدل زړه یـې ارام شـو او بیا خوب ورغلی خو

عایشې ته خوب قسم کړی و که راشي

د شپې درې بجې شولې پیشنمی هم خوند نه ورکاوه تر ټولو سخته لـه دې ډاریدل چې هسې نه خالد امریکایانو ته ژوندی په لاس ورشي ځکه داسې اوازې وې چې امریکایان دعربو ماشومان ځان سره بیایي او بیا یې له اسلام څخه اړوي حیرانه پاتې وه چې څه وکړي له ډیر فکر وروسته یې ځان سره داسې پلان جوړ کړی چې خالد به کندهار ښـار تـه رسـوي اوهلته به یې یوافغان ته سپاري تر څو هغه یې حفاظت وکړي د عایشې په فکر دایې تر ټولو ښه پلان و خو نور یې قصد وکړ چې همدا پـلان بـه عملي کوي خو عایشې ته د خالد بیلتون هم سخت و ځکـه عایـشه د عـزام لـه شـهادته هم ناخبره وه او یواځینی د ژوند هیله یې همدا خالد و او تـر ټولـو سـخته ورته داوه چې ایا ددې نازولي ماشوم زوی خالد به څنګـه بغیـر لـه مـور اوپـلاره ژوند وکړي ځکه خالد عادت همدا و چې ماښام تر هغه نه بیده کیـده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو يې عايشې په ويښتانو کې ګوتې نه واى وهلې هره شپه به عايشه تر هغه د خالد ويښتانو کې ګوتې وهلې چې تر څو خالد بيده سوى واى خو عايشې بله لار نه درلودل ځکه که خالد د امريکايانو لاس ته ورغلى واى له دې هم سختې پرې تيريدلې

عايشې ټوله شپه د خالده د مخه سترګې نه اړولې ځکه خالد يې سهار له خانه جلا کاوه عايشې ته ژوندى خالد داسې معلوميده لکه مړى چې سهار يې جنازه پورته کيږي خو تر مرګ يې هم ځکه سخته وه چې د خالد نامعلوم برخليک ته حيرانه وه چې د خالد سره به په راتلونکي کې څه وشي خو خالد د هرڅه ناخبر و پر عايشې په همدې غم او ژړا کې سهار شو خو عايشې ته سهار ځکه سخت و چې د خالد د وصال وخت يې لنډيده عايشې خالد په ډير ناز سره له خوبه ولاړ کړى او د لمانځه يې ورته وويل: عايشې ځان سره قسم وکړى چې دا څو شيبې به د خالد مخ ته نه ژاړي او دا څو ساعته چې خالد ورسره دى هغه به خوشحاله ساتي خالد چې کله لمونځ وکړى مور يې پوښتنه ترې وکړه

بچيه اوس څنګه يې؟

خالد : اوس ښه يم

عايشه : شکر خدايه چې زمابچې ښه شو.

خالد: ممي د پلار معلومات مې ونشو.

عايشه : وشو بچيه سهار ته بيده وې چې يوسړى راغلى او وې ويل چې ستا پلار سبا راځي.

Scanned by CamScanner

خالد   شکر ممي ما ماښام زياتې دعا وې وکړې چې پلار مې راشي الله جل جلاله زما خواست قبول کړ ممي زه به لس رکعته نفل کوم چې الله جل جلاله مې بابا راوستی.

عايشه : هو بچيه الله جل جلاله مهربانه دی ته نن څه شی خورې؟

خالد : اوس څه نه خورم موړ يم.

عايشه : ښه بچيه اوس ورشه ولامبه خيرن سوی يې!

خالد : ممي زه پرون ولمبيدل نن نه لامبم.

عايشه : نه بچيه ورشه ولامبه چې مريضي دې ښه شي او بيا به ښار ته ولاړ شو پلار دې ښار ته راځي

خالد: اوهو ممي سمه ده پاکې جامې هم راکړه.

عايشه : سمه ده بچيه ته ورشه تشناب ته زه جامې برابروم.

کله چې خالد تشناب ته ولاړی عايشې ځان سره ژړا شروع کړه او دومره يې وژړل چې اوښکې يې خلاصې شولې عايشې لا زړه سم نه و تش کړی چې خالد له تشنابه پرې راغږ کړه ممي جامې راوړه عايشې ژر اوښکې پاکې کړې او خالد ته يې جامې ور وړې اوخالد يې پاک ومينځه او وروسته يې ورته د خالد د خوښې خواړه هګۍ تياري کړې خالد هم په ډيره خوښۍ سره وخوړلې خالد زيات خوشحاله و ځکه خالد فکر کاوه چې پلار يې ښار ته راغلی او د ډوډۍ خوړلو په وخت کې به مور ته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممي پلار به ماته څه شی راوړي وي؟

عایشه  بچیه تاته به یې ښکلي کتابونه راوړي وي.

خالد : ممي زه مې پلار ته وایم چې مور نور دې کور کې نه اوسیږو دلته طیارې بمبار کوي زه زیات بیریږم.

عایشه: سمه ده بچیه نور به ان شاءالله دلته ژوند نه کوو

خالد : ممي ته هم زیاته خوشحاله ښکارې چې پلار مې راځي

عایشې چې کله د خالد دا خبره واوریدل نور یې طاقت ونشو او ژر بهر ووتل او هلته یې ژړا شروع کړه خالد ډوډی ته ناست و

عایشه ولاړه د خالد هغه نوې نوې جامې یې راټولې کړې او یو کوچني بستې ته یې واچولې او خالد هم ډوډی وخوړل او مور ته یې وویل مور ژر کوه لمر راختلی چې ولاړ شو خالد فکر کاوه چې رشتیا یې پلار راځي ځکه د ښار تګ ته زیاته بې صبره و عایشه زیاته غمجنه وه له زیاته غمه به یې کلې کله پر سترګو توره شپه سول عایشه له غم سره زیاته ضعیفه هم وه ځکه نن یې دوهمه وه چې بې پیشنمی یې روژه نیولې وه اوخوب یې هم نه وکړی

عایشې د خالد په لاس دجامو بکس ورکړی خالد تری پوښتنه وکړه چې مورې دې بکس کې څه دی ؟عایشې جواب ورکړه دادې د پلار جامې دي:

عایشه اوخالد له کوره رابهر شول

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو عایشې باید تر کندهار بولدک لویې لارې پورې پیاده مزل کړی وای اوهلته یې د ښار موټر پیداکړی وای

مګر عایشې ته پیاده تګ ځکه سخت و چې دوه ورځې یې ډوډی نه وه خوړلې او چې لس قدمونه به یې واخیستل نو بیابه یې دمه کول ایله لس بجو ته د موټر پیداکیدلو ځای ته ورسیدل چې د نیم ساعت وروسته یې موټر پیداکړی او دکندهار ښار ته روان شول خو عایشې د نورو ورځو خلاف خالد تر لاس ټینګ نیولی و او ټوله لار یې خالد ته کتل او ناامیدی یی اخرې حد ته رسیدلې وه خو هیڅ یې فکر کار نه کاوه چې څنګه خالد ته ووایي چې تابه له ځانه جلاکوم هر څه چې به یې فکر وکړی زړه یې نشو کولی او د خالد ژړا او خپګان یې نشو لیدلی په همدې فکر کې ښار ته ورسیدل خو ښار کې حیرانې پاتې وه چې خالد چاته وسپاري ځکه عایشې تر اوسه ښار نه ولیدلی او پښتو ژبه یې هم ښه زده نه وه اخر فیصله یې دا وکړه چې خالد به د الله پر توکل ښار کې خوشې کوي او دا به ترې ځي ځکه چې په دې شپو کې حالت په ښار کې هم بیخي زیات خراب وه امریکایان لکه د وږې لیوه په شان په عربو مجاهدینو پسې ګرځیدل هیچا نشو کولای چې عرب مجاهدین وساتي ځکه امریکایانو اعلان کړی و چې که د هرچاکور کې عرب پیدا شي هغه ټول کورنی به یا وژني اویابه یې ګواتنامو ته بیایي عایشې هم دا فکر کاوه که خالد دستوري هر چاته ورکړي هغه یې نه غواړي عایشې ښار کې ددې لپاره چې د خالد څخه ځان ورک کړي نو یې ورته وویل بچیه دا پیسې واخله او هغه دکان څخه ځان ته د خوراک شیان راواخله زه به دلته درته انتظار شم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد : نه ممي زه تر هغه وخته څه نه خورم چې پلار مې نـه وي راغلـی هـر وخت چې بابا راشي ماته به شيان واخلي.

عايشه : ورشه بچيه هغه به هم شيان درته واخلي اوس يو څه واخله

خالد: نه نه ممي زه يې نه اخلم

عايشه : ښه شيان مه اخلـه ورشـه هغـه د کانـدار څخـه پوښـتنه وکـړه چـې د شهيدانو چوک موټر چيرته دريږي

خالد : ممی پلار مې هلته راځي؟

عايشه : هو

خالد : خو زما پښتو نه زده څنګه ترې پوښتنه وکړم؟

عايشه : ورشه د هغه عربي زده ده.

خالد : سمه ده دادې ورځم

خالد چې کله د دکان په طرف روان شو عايشه ترې تيزه روانه شول او په بله کوڅه کې ترې پناه شول

خالد چې هغه دکاندار ته ورغلی

پوښتنه يی ترې وکړه دکاندار چې کله د ماشوم عربي وليدل حيران شو چـې دا څومره عجبه ماشوم دی دکاندار په عربي نـه پوهيـده خـو ماشـوم تـه يـې چاکليټ په لاس ورکړی خالد يې څه مصروفه کـړی خـو خالـد چـې کلـه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاته ته وکتل نو یې مور ونه لیدل ژر یی رامنډه کړه هغه خای ته راغلی چې عایشه ولاړه وه شاوخوا یې وکتل مور یې نه وه

وارخطا شو حیران حیران یې شاوخوا کتل د زړه درزا یې زیاته شول اوژړا یې شروع کړه یوې خوا اوبلې خوا ته یې منډه کړه ژړا یې په زور شول خو ښار و د چاورته نه فکر کیده هر سړي په خپل کار اخته و خالد په یوه کوڅه ورتاو شي چې یوه ښځه یې ولیدل چې دده مور په شان یې تور حجاب اغوستی و خالد ورمنډه کړه او د ښځې پښو ته یې لاس واچوه او ورته یې وویل مورې ته چیرته ولاړیې زه سخت وبیریدلم خو ښځې خالد له خانه لیرې کړی وروسته خالد پوه شو چې مور یې نه ده خالد بیرته منډه کړه په یوه بله کوڅه لنډ ورتاو شي چې ناڅاپه یې مور ولیدل چې لږلیری تیزه روانه وه

ورمنډه یی کړه او مور ته یی خان ورساوه او مور یې تر څادر ګیر کړه او ورته یی وویل مورې ته ماپسې ګرځې زه دا یم عایشې چې وکتل خالد دی نو حیرانه شول چې څنګه یې بیرته دا پیداکړه چې کله یې خالد ته وکتل چې ژړلی یې دي نو ژړا یې شروع کړه او خالد یې غیږ کې تینګ ونیوی دواړو ژړل خالد مور ته وویل مورې زه زیات وبیریدلم عایشې مچ کړی اوتر لاس یې ونیوی او ورته یی وویل چې ته دلته کښینه زه بیرته راځم که ماسره ولاړ شی بیا ورک کیږی خالد هم ورسره ومنل اود یو دکان څنګ نه کښیانستی عایشې بکس په لاس ورکړی او تریې روانه شول او لږ لیرې ودریدل او خالد ته یې د وروستی دیدن لپاره کتل او ژړل یې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ویر یې وړنه وکړل او ترې روانه شول او خالد یې په هم هغه خای پریښودی او داد بولنډک موټر ته وختل او د میدان هوایي په طرف روانه شول او مازدیگر کور ته راورسیدل

په کور کلي کې هیڅوک هم نه ودا ځل عایشې سره یواځینی ملګری او دوژه بوته خالد هم نه و

په مات زړه کور ته داخل شول زیاته ستړې وه سر یې هم درد کاوه ضعیفه وه اوتندې هم ترې لاړه ورکه کړې وه

د کور اوکلی خاموشی ورته داسې معلومه شول لکه قبر ته چې داخل شول ژر یې اودس وکړی اود مازدیگر لمونځ یې وکړی او غوښتل یې چې د روژه ماتي لپاره ځان ته څه تیار کړي خو چې بهر راووتل ناڅاپه یې په کور کې په هغه چرګه سترګې ولګیدلې چې عزام ددې لپاره رانیولې وه چې خالد یې هرسهار هګی وخوري کله چې یې چرګه ولیدل لویه چغه یې وکړه اوبې هوشه شول یو وخت چې کله په هوش راغلل لمر لویدلی و ژر ولاړه شول او اودس یې شروع کړی دې لا اودس نه و خلاص کړی چې د ماښام اذان له لیرې ځایه په ورو غږ شروع سو ژر یې اودس خلاص کړی او بیا یې لاس پورته کړی او داسې یې وویل:

یا الله ! ته زما خالد سره مل شې یاالله! زما خالد ته صبر ورنصیب کړې یـاالله! لکه څنګه چې دې ابراهیم علیه السلام په اور کې وساته او یوسف علیه السلام دې په څاه کې وساته همداسې زماخالد وساته ورروسته یې په سلګو کې اخرې دعا داسې وکړه یا الله! زما خالد ماشوم دی هغه زیات نازولی و یاالله! ته ورته د زړه صبر او داد ورکړې یاالله ! ته یې هغه ته ورته ښه کړې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته يې د اوداسه اوبه چې لږ د لونبې په پای کې پاتې وې په سر بورته کړې او يو څه يې وڅښلې خو خوله يې وچه وه اوبه ورته زياتې ترخې ښکاره شوې حلق يې تريخ و وروسته ولاړه لمونځ يې وکړی او بيا يې اوبه وڅښلې او د تيرې ورځې ډوډی يې راواخيستل اشپزخانې ته ولاړل چې يو څه خان ته تيار کړی خو په اشپزخانې کې يې هغه د سهار پاتې شونې هگی چې خالد ته يې تيارې کړې وې وليدلې زړه يې درد وکړی او ژړا يې شروع کړه د هر څه څخه يې زړه موړ شو ولاړل اطاق ته پر بيستره پريوتل اوبه زوره زوره يې ژړل خکه اوس خالد نه و چې دې خبله ژړا ترې پټه کړی وای په همدې ژړا کې بيا بې هوشه سوې وه يو وخت چې په هوش راغلل گورې چې توره تياره ده خکه شپه راغلې وه ولاړه شوه څراغ يې ولگاوه او اودس يې وکړی غوښتل يې چې تراويح وکړې خو د کمزورۍ لامله يې نشوی کولای بيا اشپزخانې ته ولاړه لږ روميان يې خان ته په غوړيو کې پاخه کړه خو کله چې يې راواخيستل داسې ورته ښکاريدل لکه زهر په ډير تکليف يې څو مړۍ وخوړلې هر مړۍ به يې په خوله کې زياته شول له ستونې به يې نه تيريدل ستونی به يې وچ وچ کيده د هرې مړۍ سره يې يو گيلاس اوبه څښلې.

له ډوډۍ خوړلو وروسته يې لمونځ وکړی او د عزام راډيو يې راواخيستل په دې تمه چې گوندې لږ د خوشحالی خبره واورې خو راډيو کې هم همدا خبرې شروع وې چې دطالبانو حکومت سکوت ته نژدې دی يواځې يې کندهار اوهلمند ولايتونه په لاس کې پاتې دي ژر يې راډيو بنده کړه اوخان سره يې وويل: ولې نور غم مې لږ دی چې راډيو ته هم اوس غم راکوې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل یې چې خوب وکړي خوله وار او غم څخه خوب نه ورتللی د زیاتې سترړیا لامله یې سترګې بنې شوې وې نیمه خوب ته تللی وه چې فکر کې یې خالد راوګرځیده چې پر هم هغه ځای چې دی پریښودی ناست وؤ او ژاړي په زوره چغه یې وکړه بچیه مه ژاړه زه درځم نور نو د عایشې سره خوب خدای په امانی وکړه تر ویره یې وژړل او د خالد وروستی ژړا او خبرې یې فکر کې راګرځیدلې چې ویل یې موري زه سخت وبیریدلم او ځان سره به یې فکر کاوه چې ایا خالد به څه خوړلي وي اوکه به وږی وي.

بیابه یې په زوره چغه وکړه بچیه بیده شه زه درسره یم دا یم ویښتانو کې دې ګوتې وهم.

ټوله شپه لکه لیونی د ځان سره اخته وه او خبرې یې کولې نور یې عقل د لاسه ورکړی و زیات ارمان یې کاوه چې کاش د ګاونډیانو سره تللی وای خالد خوبه یې د لاسه نه وه ورکړی اخر یې ځان سره فیصله وکړه چې سهار به ځي اوخالد به بیرته راولي دا یې خلورمه شپه وه چې خوب یې ونه کړی سهار اذانونه شروع سول وروسته یې پیشنمي ته فکر سو ځان سره یې وویل: چې خالد وږی ګرځي نو زه څوک یمه چې نه ګرځم لمونځ یې وکړو او قرانکریم یې راواخیستی او تلاوت یې شروع کړو دوه پارې قرانکریم یې ختم کړو لمر هم راوختی چې بیا یې د اشراق لمونځ وکړو او له لمانځه وروسته یې داسې وویل:

یاالله ج نور زما څخه امتحان مه اخله بیریږم هسې نه چې پکې ناکامه شم یاالله ج ته ماته صبر نصیب کړې ما او ایمان مه سره جلاکوه یاالله ج پر هر حالت زه ستا څخه راضي ته راڅخه ناراضه نشې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له دعا وروسته یې د لمانځه مسله ټوله کړه او راډیو یې د دې لپاره راواخیستل چې گوندې یو ښه خبر واوري خو چې کله یې چالان کړه سمدلاسه یې داخبر واوریدې چې د طالبانو حکومت تیره شپه سقوط وکړی اود کندهار ښار ته د گل اغا شیرزی او ملاتقیب نفر ورسیدل عایشې تکان وخوړو او حیرانه شول د اطاقه څخه بهر راووتل چې گوري امریکایي طیارې بیخي ښکته ویني چې لږ شیبه وروسته په میدان کې کښیناستې عایشې هم ژر د عزام توپنچه راواخیستل او فکر یې وکړی چې چیرته سنگر ونیسي له لږ فکر وروسته یې د اشپزخانې انگړ ورته تر ټولو ښه ځای معلوم شو هلته پناه کښیناستل او دې ته یې انتظار کاوه چې کله به امریکایان کور ته ورداخل شي له دوه ساعته انتظار وروسته د سرای دروازه په زوره ووهل شول چې د دوهم درز سره غږ شو او امریکایان او ورسره داخلي باغیان د کور منځ ته په منډه راغلل دوه امریکایان د سرای منځ کې زنگون کیچ شول او نور په اطاق ننوتل عایشې د اشپزخانې له انگړه په رامنډه کړه او د تکبیر په ملکوتي نارې سره یې له نږدې د سرای منځ کې ناست امریکایي باندې توپنچه ونیول او خاص یې پر سر وویشتی او ورپسې یې په دوهم امریکایي ډزې شروع کړې چې هغه یې هم وویشتی چې بالاخره داطاق څخه یو امریکایي عایشه په راکټ وویشتل چې ټوټه ټوټه یی کړه او د درو ورځو څخه وړی روژاتي سترې اوغمجنه عایشه د ارمانونو ډک زړه سره دخپل رب په لور ولاړه اوشهیده شول او گران خالد یې تنها پریښودی.

خالد چې عایشې په کوم ځای کښینولې وه پر هم هغه ځای یې په بې صبرۍ اوخوشحالۍ د دې انتظار کاوه چې مور به یې اوس راشي او دی به خپل پلار ته بوځي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو خالد نه پوهیده چې دده سختې ورځې د همدې خوړ انتظار ځخه شروع کیږي خالد تر مازدیګره په هم هغه ځای ناست و او مور ته یې انتظار کاوه چې مازدیګر خواته خالد د جامو په بسته سر کیښوده چې په همدې حالت کې بیده سوی و یو وخت چې ویښ سو یو سړی یې سر ته ولاړ دی او په غصه اوقهر ورته په پښتو وایي چې ولاړ شه د کوم ځای چې د غرمې ځخه زما د دوکان مخکې ناست یې خو دادی د ماښام اذان وشو ځه ولاړ شه خپل کور ته.

خالد چې راپورته شو سترګې یې وموښلې اوشاوخوایې وکتل حیران شو چې دا چیرته دی خو لږ شیبه وروسته وریاد شوه چې دی له مور سره ښار ته راغلی و خوکله یې چې وکتل لمر لویدلی وؤ نو وارخطاشو د ممي ناري یې شروع کړې او د دوکاندار په خبرو هم نه پوهیده خو د هغه د قهریدلو سترګو او غصه ناک تندي ځخه وبیریده او پوه شو چې ده ته غصه دی خالد چې کله په عربي ورته وویل: چې زه مور سره ښار ته راغلی وم هغې ته انتظار یم نو دوکاندار حیران شو چې خالد ځه وایي ځکه دوکاندار په عربي نه پوهیدی خو پوه شو چې ماشوم خارجي عرب دی له لاس یې ونیوی غوښتل یې چې بل ځای ته یې بوځي د خالد بدن هم لړزه شروع کړه وارخطا و اوسترګې یې له اوښکو ډکې وې خو له ډیرې بیرې یې ژړلی هم نه شول ځکه دوکاندار له شکل ځخه خورا غصه ناک ښکاریده خالد یې له راسته لاس ځخه نیولی وؤ او دوکان پر دوکان یې ګرځاوه د خالد د زړه ضربان له سل ځخه هم زیات شوی و حیران حیران یې شاوخوا کتل هر دوکان ته چې به ورغلی فکر به یې کاوه چې اوس به یې مور یا پلار مملته وي ځکه اول ځل چې د خالد مور د خالد ځخه ورکه شول په نیږې اسانۍ سره یې پیداکړه خالد تمه درلودله چې خپل موربه اوس په یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکان کی پیداکړی اکثره دوکانداران تللي وه خو د پاته دوکاندارانو يوه هم عربي نه وه زده چې د خالد په مقصد خان پوه کړي چې وروسته هغه لومړنی دوکاندار خالد يو نانوای ته بوتلی چې نوموړی نانوای د غزني و او زيات وخت يې سعودي کې تیر کړی وو کله چې نانوايي ته ورسيده نانوای روژه ماتی کاوه چې دکاندار له سلامه وروسته له نانوای سره روژه ماتی شروع کړی خالد لږ ليرې حيران ولاړ وو زړه يې غوښتل چې وژاړي خو بيابه يې دا فکر وکړی که وژاړم هسې نه چې دا خلک مې ووهي له روژه مات شخه وروسته دوکاندار نانوای ته کيسه وکړه چې همدا هلک له غرمې څخه زما د دوکان مخې ته ناست وو اوس چې پوښتنه ترې کوم بله ژبه وايي نه پوهيږم چې دچا څخه پاتې شوی دی اوکور يې هم رامعلوم ندی ته پوښتنه ترې وکړه چې دی څه وايي د کوم خای دی.

نانوای چې کله د خالد څخه په عربي د نامه پوښتنه وکړه خالد ژړا شروع کړه او ور مانډه يې کړه د نانوای غيږ کې خان واچاوه او ورته يې وويل:

ماما زما پښتو نه زده زه مې مور سره بازار ته راغلی وم او مور مې دلته کښينولم چې بيا نده راغلې او په سلګيو کې ورته وويل: چې ما کور ته يوسه زما مور به تاته زياتې پيسې درکړي.

نانوای ورته وويل: مه خپه کيږه بچيه زه دې کور ته بيايم مه ژاړه هرڅه به خدای سم کړي وروسته نانوای د لاس په اشاره د خالد څخه د هغه د بستې پوښتنه وکړه چې دا څه دي خالد ورته وويل: چې دا مې د پلار جامې دي نانوای چې کله بسته خلاص کړه ټول د خالد خپل جامې وې خالد هم حيران شو نانوای ورته وويل: چې تاخو ويل دامې دپلار جامې دي دا خو ټولې ستا دي؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد موسکی شو او ورته یې وویل: ماما مور مې غلطه شوې د پلار پر ځای یې زما جامې له ځان سره راوړې دي.

خو ناتوای چې کله بوه جوړه کالي راپورته کړه لاندې ترې بیخي زیات عربي پیسې اود طلا بنګړي او یو لیک پروت و خالد چې کله وکتل نو یې ناتوای ته وویل: چې ماما دا مې د مور بنګړي اوپیسې دي.

خو ناتوای فقط ترې لیک راواخیستی چې کله یې لیک خلاص کړی نو لیک کې داسې لیکلي وه.

د لوی او مهربان خدای په نامه!

ګرانه مسلمانه وروره شاید ته خبر یې چې د اسلام په لومړیو کې د مدینې خلګو رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه صحابه د سر په بیه وساتل زموږ او ستاسې په اسلام کې چې یو انسان له مرګه وژغوري لکه ټول دنیا چې دې ژغورلې وي.

الله ج شاهد دی چې پر موږ زیاتې سختۍ دلته راغلې وې چې یادونه یې ربا بولم نو خکه ترې تیریږم خو دا ماشوم زما زوی خالد دی موږ د مصر یوو، زما خاوند یو ښه دیني عالم و او خسر مې یو غښتلی تجار اوپلار مې د پوهنتون استاد و خو دالله ج د رضا لپاره مو هرڅه پریښودل او دلته افغانستان ته راغلو خو د الله ج امتحان وه چې اسلامي نظام بې رنګ کړی زما خاوند هم د جهاد لپاره کندز ته ولاړی چې د مرګ او ژوند معلومات یې تر اوسه نشته زموږ کور په میدان هوایي کې دننه دی خو نن سبا اوازه ده چې امریکایان عرب وژني او ماشومان یې خان سره بیايي او هلته یې د اسلام څخه عیسویت ته اړوي نو ما د دې پر ځای چې خالد عیسوي شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بهتره وبلله چې د ځان ځخه یې جلا کړم نو ښار کې مې د الله پر توکل ایله کړی ځکه زه پوهیدمه چې په دې سختو شپو او ورځو کې به زما ځخه هیڅوک هم خالد ونه غواړي نو ای لیک لوستونکیه د الله ج کلام دریاده کړه چې وایي ټول مسلمانان سره ورونه دي نو زما زوی ستا ورور او یاهم د ورور زوی دی د الله ج د رضا په خاطر یې راته وساته او کومې روپۍ اوطلا چې مادرته بسته کې ایښي دا درې کاله د خالد بس کیږي درې کاله پس خالد پنځه لس کلن کیږي بیا کولای شي چې خپل ځان وساتي درې کاله زما په خالد کار مکوه ځکه هغه زیات نازولی دی او په ښه اسلامی عقیده یې سمبال وروزه او ان شاءالله په ورځ د قیامت به زه اود خالد پلار ستا شفاعت کوو او رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم ستا شفاعت کوي ځکه موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم له قبیلې ځخه یوؤ.

خالد مې یواځینی نازولی زوی و خو بس دا به الله ج ته منظوره وه چې خالد زما ځخه جلا کړي خالد عجبه ښه خویونه لري خالد د قرانکریم حافظ دی خالد به کله هم تا غصې ته مجبوره نه کړي هغه به فقط ستا د خبرو ځخه پوهیږي چې کوم کار ستا خوښ دی او کوم کار ستا نه خوښیږي.

گرانه وروره ته پوهیږې هیڅوک خپل یو زوی یواځې نه خوشې کوي، کنه ته یې په خپل ځان قیاس کړه.

ایاته به خپل گران او هوښیار یو زوی پریږدې او ترې تیر به شې؟

نه هیڅکله نه خودا چې زه ترې تیره شوم نو پوه شه چې موږ د سختی اوتکلیفونو په انتهاء کې واقع یوو لکه ځنگه چې امیرالمومنین

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملامحمدعمر مجاهد خپل ټوله باچاهي تر یوه ملیمه قربان کړه نو ته به هم د هغه وطنداره یې باور لرم ان شاءالله زما زوی به یواځې خوشې نه کړې

والسلام ستاسې خور عایشه مصري.

نانوای خط په داسې حال پای ته ورساوه چې ډیره یې په اوښکو لنده وه اود خالد په ټوله کیسه پوه شو خو خالد یې پوه نه کړی اولیک یې بند کړی خالد ته یې په موسکا کې وویل: تا ډوډی خوړلې؟

خالد په ناهیلې چهره د نه په ډول سر وښوراوه اوپه ژړه غوني غږ یې وویل ماما تبه مې ده او نور یې سترګو ته لاسونه ونیول او ژړا یې شروع کړه دده له ژړا سره نانوای هم وژړل خو خالد ته یې تسلي ورکړه او ورته یې وویل چې بچیه مه ژاړه دوا درته راوړم خو خالد ورته وویل نه ماما دوا نه غواړم ما خپل مور ته ورسوه د نانوای سترګې د اوښکو ډکې شولې او خالد ته یې د هو په ډول سر وښوراوه او له یوه دقیقه خاموشی وروسته نانوای ورته وویل بچیه ته ډوډی وخوره بیا زه دوا درته راوړم اوسهار به دې ان شاءالله ستا مور ته ورسوم خالد وویل نه نه زه دلته شپه نشم کولی ماته خپله مور یادیږي ما همدا اوس خپل کور ته ورسوه.

نانوای حیران شو چې خالد یوه شپه بې موره نشي تیرولی نوټول عمر به یې څه حال وي.

نانوای یو شیبه سر کوز کړی وه چې بیرته یې خالد ته وویل بچیه ته اوس اول ډوډی وخوره بیابه هر څه الله ج سم کړي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته یې خالد ته ډوډۍ کېښوده دی اودوکاندار دواړه د ماښام په لمانځه ودریدل له لمانځه وروسته نانوای او دوکاندار د خالد څخه لږ لیرې شول بیا نانوای دوکاندار ته ټوله کیسه وکړه چې خالد ورک نه بلکې قصدا پرېښودل شوی دی.

دوکاندار نانوای ته وویل:

چې خالد به ما په هر حال ساتلی وای خو افسوس زه اوخالد په ژبه نه سره پوهیږو ته داسې وکړه فقط خالد تر هغه وخته پورې وساته چې لږ پښتو زده کړي چې خالد پښتو زده کړل بیا یې زه درځخه بیایم اوتر هغه چې خالد پښتو زده کوي د دې ټول وخت مصرف یې زه درکوم

نانوای: هههههه لکه چې پرما دې د پښتون گمان نه کیږي مننه زه خپله خالد ساتم د یو ماشوم مصرف به څه وي.

دکاندار: نه وروره داسې نه وایم چې ته به پښتون نه یې ما ویل ته به غریب یې زه شکر یوڅه شتمني لرم.

نانوایة: نه وروره شکر دومره شته بل خبره دا چې د خالد مور د خالد لپاره د دریو کلنو خرچه په بسته کې ایښې ده خالد زمااوستا روپیو اومصرف ته ضرورت نه لري.

دوکاندار: سمه ده ورور الله ج به یې ضرور اجر درکړي زه به دې هم احسان مند یم.

نانوای: مننه وروره ان شاءالله تر خپل توان به یې ساتنه کوم څکه چې دا مور د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له قبیلې څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکاندار: څهٔ ستا هدف خالد قریش دی؟

نانوای: هو

دوکاندار بیا خو بختور یې چې الله ج د دومره نیکمرغه کس ساتنه ستا په وسیله کوي.

نانوای: هو خو بایدٔ له دې راز څخه بل څوک خبر نه شي.

دوکاندار: بې غمه شه وروره دا راز به زماسره امانت وي.

دوکاندار: ولاړی اونانوای چې کله راغلی خالد ډوډی خوړلې وه او نانوای ته یې وویل: چې ماما اوس ما ډوډی وخوړله زه غواړم نور خپل کور ته ولاړشم.

نانوای ورته وویل: بچیه سبا به ولاړشو خالد ورته وویل نه اوس مې بوځه نانوای ورته وویل چې اوس لار کې غله دي او دواړه به ووژني سهار که خیر و زه به دې ستاسې کور ته ورسوم.

او د جیب څخه یې پیناډول گولۍ راوکښلې اوخالد ته یې وویل بچیه دا نیمه گولۍ وخوره چې تبه دې ښه شي خالد هم گولۍ وخوړله اوبیا یې ورته ځای برابر کړی چې اوس بیده شه خالد هم په بیستر کې پریوتی نانوای ورته وویل: ته بیده شه زه تراویح کوم.

خالد ژر راپورته شو او په موسکې لهجه یې وویل ماما زما هم لمونځ هیر شو زه هم لمونځ کوم خو زه اودس کوم نانوای ورته وویل: چې هغه لوته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخله اودس پرېږ وکړه خالد هم ولاړی اودس یې وکړی اوبیا یې لمونځ وکړی او وروسته بیسترې ته راغی او پر بیسترې پریوتی.

نانوای هم چې په دې وخت د ښار حالات خراب وه جماعت ته لاړ نسو او همدلته یې دوکان کې تراویح شروع کړې نانوای لا لس رکعته تراویح نه وه پوره کړي چې د خالد خرقې شروع سو او بیده سو خو یو څو شیبې وروسته خالد له خوبه چغې شروع کړې مورې زه دایم دلته یم مورې ته چیرته تللې وې نانوای چې د لمانځه وروسته سلام وگرځاوه نو خالد یې وښوراوه او وینښ یې کړو خالد چې وکتل په هم هغه نانوایي کې پروت دی نو نانوای ته یې وویل: ماما زما مور څه شوله ما ولیده چې راغله.

د نانوای سترگې له اوښکو ډکې شولې او په ژړه غوني غږ یې ورته وویل: چې بیده شه بچیه مور دې نشته سبا دې زه ورولم خالد چې کله د نانوای خبرې واوریدلې نو ژړا شروع یې کړه اونانوای ته یې وویل: ماما زما خپل مور یادیږي نانوای ورته وویل: بیده شه بچیه سهار به وختي مور ته ولاړ شې خالد بیا ارام شو خو خوب یې ورک سو مور یې یادیدله او په ځای پروت وږ رنې اوښکې یې په بالښت تویدلې نانوای هم پاته لمونځ خلاص کړی او بیسترې ته ولاړی او بیستره کې یې دا فکر کاوه چې څنگه خالد پوه کړي چې نور یې مور نشته د نانوای هم خوب ورک شو حیران و چې څه وکړي.

خالد بیاخوب یوړی چې بیرته یې همدا چغې شروع کړې ټوله شپه خالد په خوب کې د مور چیغې وهلې نانوای چې کله چرگ بانگي ته پاڅیده نو گوري چې د طالبانو ډک ډک موټر له ښاره وځي پوه شو چې طالبانو ښار پریښودی زیات وارخطا شو او دې فکر کې وږ چې امریکایان خبر نشي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې عرب ماشوم دده سره شته څکه د سولې په نامه د امریکایانو راډیو به پرله پسې اعلانونه کول چې طالبانو اوعربانو ته په کور کې ځای مه ورکوئ که د هرچا په کور کې طالب یاعرب پیداشو نو د هغه ټوله کورنی به ګوانتنامو زندان ته وړل کیږي نانوای چرګ بانګی وکړی او لږ شیبه وروسته د سهار اذان وشو نانوای د سهار لمونځ وکړی او قرانکریم یې راواخیستی اوتلاوت یې شروع کړی.

د لږ تلاوت وروسته یې پر خالد غږ وکړی چې پاڅه لمونځ وکړه خالد د خوب له حالته ورته وویل: موری وختي دی شیبه پس لمونځ کوم خالد فکر کاوه چې کور کې دی نانوای چې کله د خالد خبره واوریدل سوړ اسویلی یې وکړی اوبیا یې ورته وویل: ناوخته دی بچیه کښینه لمونځ وکړه وروسته خالد پوه شو چې کور کې نه دی خو چې کله یې ولیدل چې سهار دی زیات خوشحاله سو چې اوس به یې نانوای کور ته بوځي او ژر ولاړی اودس یې وکړی او لمونځ یی وکړی چې لمونځ یې خلاص کړی نو نانوای ته یې وویل ماما کله ځو؟

نانوای ورته وویل: بچیه اوس وختي دی بیده شه زه هم خوب کوم چې کله مې خوب پوره شو بیابه ولاړ شو نانوای له تلاوت وروسته بیرته بیسترې ته ولاړی اوبیده شو خو خالد ته د خوشحالی څخه نور خوب نه ورتلی.

او فقط دې ته انتظار و چې کله به نانوای ویښ شي اودی به خپل کور ته ورسوي کله کله به په دې خبره موسکی شو په فکر کې به یې داخبره راوګرځیدل چې کله کور ته ولاړشم پلار به مې هم راغلی وي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د نانوای خوب خالد ته د پوګال ښونديې شو پر لس بجې نانوای راویښ شو خالد ځان پر خوب واچاوه او پټ پټ یې د سترګو تر کونجانو نانوای ته کتل نانوای تشناب ته ولاړی خو چې کله د تشناب څخه راغلی په دې وخت کې د نانوای شاګرد هم له کوره راغی چې نانوای ته یې خبر ورکړو چې د طالبانو حکومت سقوط شو اود شر اوفساد ډلې په ښار کې ګرځې ورو سته د نانوای شاګرد له نانوای څخه پوښتنه وکړه چې دا ماشوم څوک دی نانوای شاګرد ته ټوله کیسه وکړه او شاګرد ته یې وویل: چې پام کوه هیڅ ته دا خبره ونه کړې خوخالد د نانوای اوشاګرد په خبرو نه پوهیده نانوای اوشاګرد لاخبرې نه وې خلاصې کړې چې خالد هم له بسترې راولاړ شو اوسترګې یې موښلې او په خندا کې یې نانوای ته وویل: ماما څه چې ولاړ شو نانوای ورته وویل: چې ته لوږی چای وخوره خو خالد انکار وکړی او ورته یې وویل: چې زه موړ یم خو د نانوای په ډیر ټینګار خالد چای څوړلو ته اماده شو خو ډیر ژر یې چایی وخوړلې او بیا نانوای ته ئیغ ودریده چې نور څو.

نانوای ورته وویل: چې بچیه انتظار شه ښار کې جنګ دی موټر نشته چې کله د ښار جنګ خلاص شو بیابه څو اوخالد یې پوه کړو چې د خلګو مخکې دده سره خبرې ونه کړي ځکه بیاخلګ پوهیږي چې خالد عرب دی او امریکایان خبریږي خالد هم د نانوای خبره ومنله خو زړه یې زیات سوځیده اومور یې یادیدله.

خالد یوه هفته نانوای په همدې انتظار کړی وو چې نن اوسبا دې مور ته بیایم د خالد ژوند زیات سخت وو اود خلګو مخکې یې خبرې نشوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی اونانوای هم خلګو ته ویل چې دایې د خور زوی دی خو ګونګی دی خبرې نشي کولای .

په دې منځ کې لس ورځې تیرې شوې خالد به هره شپه په دې انتظار کې خوب نه کاوه چې کله به سبا شي چې نانوای یې کور ته بوځي.

خو نانوای په همدې نن اوسبا خالد ته تسلي ورکوله چې په دې شپو کې اختر راغی نانوای یوه ورځ خالد ته نوې جامی راوړلې او ورته یې وویل چې خیاط ته ورشه خو ګوره د هغه مخکې خبرې ونه کړې خیاط به جامې درته جوړې کړي.

خالد ورته وویل: نه ماما زه جامې کور ته ځان سره وړم زما مور به یې راته جوړې کړي د نانوای فکر نه و او ناڅاپه یې وویل مور به دې اوس ژوندی وي او که مړه وي.

زر ورشه خیاط ته چې بیا نوبت درڅخه نور خلګ نیسي.

خالد چې کله د نانوای خبره واوریدله نو ژړا یې شروع کړه او ژړا کې یې دا چغې وهلې نه نه زما مور نشي مړه 'کیدلی هغه ژوندی ده تا زه غلا کړی یم نه ولې ' خپل مور ته نه بیایې نانوای ولاړ شو او خالد یې غیږ کې ونیوی او ورته یې وویل: هو مه ژاړه بچیه ستا مور ژوندی ده خو اختر کې به زه اونه ورشو.

خالد: نه نه زه اختر د خپلې مور سره تیروم.

نانوای: هو بچیه د اختر په ورځ به ولاړ شو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد: نه نن څو .

نانوای: نن خو لاره امریکایانو بنده کړې.

خالد: بیابه د اختر شپې ته ولاړ شو.

نانوای: سمه ده خو ته ورشه جامې خیاط ته یوسه.

خالد هم خیاط ته ورغلی خو چې خیاط ورته د جامو اندازه اخیستل دده هغه زاړه وختونه یادیدل چې مور به یې جامې ورته ګنډلې خالد ته به چې کله مور د جامو اندازه اخیستله نو د خالد دنازونو لامله به یوه ورځ د خالد د جامو اندازه کولو چې خالد به مور ته ویل لستوني لنډ کړه او کمیس اوږد کړه خو د عایشې به کله کله دده پر فرمایشونو جنجال ورسره کاوه.

خو نن خالد خیاط ته داسې ولاړ وو چې د یوې خبرې اجازه یې هم نه درلوده.

خیاط د جامو اندازه اخیستله خوخالد په زړو خیالاتو کې تللی وو او سترګې یې ډکې ډکې کیدلې چې پام یې نه وو یو ځل یې خیاط ته وویل:

ممی دوهٔ جیبونه ورجوړ کړه.

وروسته یې فکر شو چې موره سره نه بلکې خیاط سره دی ژر یې خبره قطعه کړه.

خیاط حیران شو چې دا څه وایي د خالد څخه یې پوښتنه وکړه چې څه وایې خو د خالد دسترګو څخه اوښکې روانې وې اوخاموش ولاړ وو خیاط بیا دوهم ځل پوښتنه ترې وکړه چې هلکه ولې ژاړې چې په دې وخت کې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیاط شاګرد خیاط ته وویل: چې دا هلک ګونګی او لیونی دی خیاط هم د خپل شاګرد په خبره باور وکړی.

خالد چې کله د خیاطی څخه بیرته نانوایي ته راغی زیات خپه و او ناهیلي بې د سترګو څخه له ورایه معلومیدله نانوای چې کله ولیدل چې خالد ژړلي نو د خالد څخه یې پوښتنه وکړه چې ولې دې ژړلي.

خالد جواب ورکړی چې مور مې یادیدله نانوای دا ځل خالد ته د غصې په ډول وویل: لوی سړی یې لا مور یادوې تاغونډې هلکان په مدرسه کې سبقان وایي په کال یې هم مور نه وي لیدلې.

خالد په جواب کی ورته وویل: ماما زما څکه مور یادیږي چې هغه به اوس چیرته وي هغه مې پلار پسې زیاته خپه وه هره شپه یې ژړل او زیاته بیریدله زموږ کلي کې یواځی زه او زما مور پاتې وو.

کله چې نانوای د خالد خبرې واوریدلې سترګې یې ډکې شولې او چپ پاتې شو.

پر خالد په همدې انتظار کې اختر راغی اختر ته یوه ورځ پاته وه چې خالد زیات خوشحاله و څکه نانوای ورسره وعده کړې وه چې د اختر شپې ته بې کور ته بیایي خو خالد د سهاره څخه خپل اماده ګي نیول شروع کړه هغه فکر کاوه چې نانوای به یې نن ضرور کور ته رسوي خو په همدې تمه بې غرمه راغلله او مازدیګر شو تر لمر لویده پورې یې لا امید و خو کله چې د ماښام اذانونه شروع شول خالد سوړ اسویلی وکړی او تر سترګو یې بې اختیاره اوښکې راغلې نانوای ورته وویل: چې راشه روژه ماتی وکړه خو خالد د سترګو تر کونجونو بد بد ورته وکتل او نانوای ورته داسې ښکاره شو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د مور اوپلار خخه چې ده جلا کړی وی او په ژړه غوني اواز یې نانوای ته وویل ماما ته درواغجن یې مور مې ویل چې درواغ ویل گناه ده، خو ته ماته هره ورځ درواغ وایې زه پوه شوم چې تا غلا کړی یم خکه مې مور ته نه بیایی، د دې خبرو کولو وروسته خالد سترگو ته لاسونه پورته کړه او ژړا یې شروع کړه نانوای بیا خالد ته تسلي ورکړه چې د اختره وروسته به یې ضرور کور ته بیایی اونن یی خکه نه بوتلو چې لار کې امریکایان ولاړ وه خو خالد نور پر نانوای یې باوره شوی وؤ اود هغه د هرې ورځې درواغو اوتشو وعدو خخه ستړی شوی وؤ خالد ته د اختر شپه زیاته دردونکې وه مور اوپلار یې زیات یادیدل د اختر د شپې نکریزې اوهغه خوشحالي چې ده به د اختر په شپه کوله د هرې یوې انخور یې جلاجلا په خیال کې راتله کله به یې ژړا شروع کړه او کله به یې تیر وختونو یاد شول اوخندا به یې شروع کړه کله کله به یې خیال کې د مور اواز تر غوږ شو نو ژړه غوني غږ به یې خان سره پټ وویل: مورې ته مې یادیږې بیابه یې ایةالکرسی وویل او لاس به یې پورته کړی یاالله ج ما خپل مور ته ورسوه د اختر شپه ورته زیاته اوږده شول نانوای سهار وختي وریجې پخې کړې اوبیا یې خالد ته وویل: چې نوې جامې واغونده، خو خالد چې ټوله شپه یې په ژړا تیره کړی وه سترگې یې پړسیدلې اوسرې ښکاریدلې په ناهیلي سره یې نانوای ته وویل: ماما زه اختر نه کوم زما مور نشته زه به چاته د اختر مبارکي ورکړم.

د خالد په خبره نانوای ته هم ژړا ورغلله او لږ شیبه چپ وؤ بیا یې سړه‌ې کش کړې او خالد ته یې وویل: ولې بچیه ماته مبارکي راکړه خالد ترخه غوندې موسکا وکړه او بیا یې نانوای ته وویل ولې تاته مبارکي درکړم نه خو زما مور نه یې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نانوای: ولې بچیه زه دې دپلار په شان یم.

خالد: خو ماته مور زیاته گرانه ده.

نانوای: ولی پلار دې نه وه درته گران؟

خالد: نه هغه زه اوزما مور یواځې پرېښودلو او دی ولاړی.

نانوای: خو مور هم یواځې پرېښودلې اودرنه ولاړله.

خالد: نه ماما مور پرېښی نه یم زه ترې ورک شوی یم زه په خپل مور زیات گران یم هغه به په ماپسې اوس هم ژاړي هغې به هر سهار ماته هگۍ پخولې که ته مې مور ته یوسې هغه به تاته زیاتې پیسې درکړي اوتاته به دعاگانې وکړي زما مور ډېره ښه ښځه ده د هغې دعاگانې قبلیږي.

دخالد نورې خبرې ژړا ونیولې او نور په خبرو کې مخکې نه شو تللی.

نانوای ته هم نور خوراک خوند ور نه کړی او د اختر وریجې هرڅه ترې پاته شول او ولاړ شو.

خو خالد پوه شو چې دده خبرو نانوای غمجن کړی بیا یې نانوای ته وویل ماما ستاسې کور ته به ولاړ شو ستا مور ته به د اختر مبارکي ورکړو .

نانوای: زما مور مړه شوې ده.

خالد: وای ستا مور مړه شوی؟

نانوای: هو!

خالد: شکر زما مور خو ژوندی ده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نانوای: هو ستا مور ژوندی ده څو ورځو کې به تا خپلې مور ته وسپارم

خالد: ولې تاخو ویل چې نن څو.

نانوای: لاره بنده ده ته مانه وینې چې زه خپل کور ته هم نه زم.

خالد: نوستا مور خو مړه ده ته نو کور څه کوې.

خالد دوه میاشتې نورې هم په همدې نانوایی کې په اانتظار تیرې کړې له دوه میاشتو وروسته په پښتو ژبه هم یو څه پوهیده او لږ لږ پښتو غږیدلی هم شو چې یوه ورځ غرمه یوه بجه د ملي امنیت یو عسکر چې د نانوای شناخته وؤ په منډه نانوای ته راغی او ورته یې وویل:

کاکا ملي امنیت ته خبر راغلی چې ستاسره عرب ماشوم شته امریکایان او ملي امنیت غواړي چې پر تا چاپه ووهي خو ماورته وویل: چې زه به یې معلومات وکړم که رشتیا درسره وي نو له ځان یې وشړه که درسره پیداشو گوانتنامو ته دې بیایي نانوای چې کله د عسکر خبرې واوریدلې وارخطا شو ژر یې خالد له لاسه ونیوی او د هغه جامې یې راواخیستلې او د گرشگ اډې ته راغلی او خالد یې یو موټر کې کښیناوه او موټروان ته یې کرایه ورکړه چې دا ماشوم تر لښکرگاه ورسوه خالد له نانوای څخه پوښتنه وکړه چې ماما دا موټروان ما چیرته بیایي نانوای ورته وویل چې کور ته دې بیایي پلار دې احوال رالیږلی وه خوپام چې پر لارې چاسره خبرې ونه کړې خالد هم زیات خوشحاله سو نانوای د الله ج پر توکل خالد د هلمند موټر کې واچاوه او د هلمند په لور یې رخصت کړی خالد هم غرمې یوې بجې ته د هلمند مرکز لښکرگاه ته ورسیده خو لار کې هم پوه شو چې بل ځای ته روان دې خو بیا یې فکر وکړی چې مور اوپلار به یې د میدان څخه دې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ته راغلي وي او دی به یې دلته غوښتی وي کله چې لښکرګاه ته ورسیده ډریور د خالد څخه پوښتنه وکړه چې ته چیرته ځې خالد ورته وویل زه خپل مور پلار ته ځم.

ډریور چې کله د خالد خبرې واوریدلې نو پوه شو چې خالد عرب دی ډریور هم وارخطاشو ځکه دلته هم دیموکراټان او امریکایان په عربو پسې لکه د وږي لیوه په شان ګرځیدل دریور خالد ته وویل: چې ستا مور پلار چیرته دي خالد ورته وویل: چې زه خبر نه یم خو ماما مې ویل چې ستا پلار مور ته دې داسړی بیایي ډریور پوښتنه ترې وکړه چې ستا کور چیرته دی؟ خالد ورته وویل چې میدان هوایي کې دی ډریور نور هم وارخطا شو هغه فکر کاوه چې یو چا ورته دسیسه جوړه کړې نور چپ شو او موټر یې د مارجې په طرف روان کړی او مازدیګر لمانځه ته د مارجې سیستاني سیمې ته ورسیدی ډریور یو کلي ته نژدې موټر ودراوه او خالد ته یې وویل چې هغه نژدې مسجد ته ورشه پلار دې هم هلته دی خالد په ډیرې چالاکی سره له موټره کوز شو او په منډه د مسجد په طرف روان شو د خوشحالی یې د زړه ضربان سل ته رسیدلی وه ساه یې لنډه لنډه کیده او شاوخوا یې حیران حیران کتل لږ لار ورته ډیره اوږده سول او همدا فکر یې کاوه چې اوس به خپل پلار ویني خالد چې کله جماعت ته ورسیده په مسجد کې خلګ پر جماعت ولاړ وه او دخلګو شاه طرف د خالد خوا ته رخالد فکر کاوه چې کوم امام جماعت ورکوي همدا یې پلار دی ځکه دده پلار په میدان هوایي کې هم دمسجد ملا امام وؤ خالد هم پرلمانځه ورسره ودریده او د لمانځه منځ کې یې کوښښ کاوه چې د سترګو تر کونجونو ملا امام ته وګوري خو د امام شاه وه پر خالد د مازدیګر جماعت دیو کال غوندې اوږد شو او فکر کې ویل چې د خپلو سختیو تولې کیسې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



به مور پلار ته کوي او د هغوي ښځه په زړه کې زيات ګيله مند و کله به يې ويل چې د مور پلار سره به ستړي مشي نه کوي اوځان به ترې خپه کوي او کله به يې ويل چې مور به پر مخ مچ کوي او بيابه ځان سره موسکي سو چې مور به يې دده په ليدلو څومره خوشحاله شي اودا يې هم فکر کې وه چې سهار به يې مور ورته هګۍ پخوي اوخيال کې يې دا هم راوګرځيدل چې هغه دده چرګه به يې مور پلار له ځان سره راوړې وي اوکنه.

په همدې فکرونو کې امام سلام وګرځاوه د خالد ښځه يو رکعات لمونځ تير و خو له ډيرې خوشحالۍ ښځه يې هغه يو رکعات لمونځ هير شو اوده هم د امام سره سلام وګرځاوه خو کله چې يې امام ته وکتل پردی سړی وه خو بيا هم ډير خپه نشو فکر يې کاوه چې پلار به يې په کور کې وي او جماعت ته به نه وي راغلی خو د کلي خلک ورته غمجن او قهريدلي ښکاره شول ځکه تيره شپه همدې کلی کې امريکايانو د طالبانو د حکومت د يو ولسوال پر کور چاپه وهلې وه او د کور ټول غړي ښځې او ماشومان يې ورته شهيدان کړي وه او ولسوال يې ځان سره وړی وؤ.

اود چاپې پر مهال يې په مسجد کې لس د ديني زده کړو شاګردان هم شهيدان کړي وه چې په همدې مسجد کې يې سبقان ويل.

په کلي کې ويره او د غم فضا خواره وه کليوال ټول غمجن وه خو هر يو له بيرې يو بل ته غم شريکی هم نشول کولای ځکه د امريکايانو جاسوسان کلي کې ګرځيدل او هر چا چې به فقط د طالب نوم واخيستی سمدستي به يې خبر امريکايانو او د هغوي مزدورانو ته رساوه.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د خالد راتګ کلي ته يو تصادف وه څکه ډريور هم نه پوهيده چې په دې کلي کې امريکايانو خپل اصليت ښودلی او له حده زيات ظلم يې کړی دی.

خالد د جماعت شاه صف کې ولاړ وو دلمانځه وروسته يې به تلواري شاوخوا کتل او زړه کې يې دا هيله وه چې ګوندې خپل پلار به ووينې خو خبر نه وه چې پلار يې درې مياشتې مخکې په قلعه جنګي کې شهيد شوی دی او هډوکي يې لا سوځول شوي دي.

له جماعته پس د کلي خلګ يو يو له جماعته وتل خالد يې ننداره کوله خو د نانواى خبره ورته ياده وه چې چاسره به خبرې نه کوي کليوالو هم ډيره توجه څکه ورته ونه کړه چې هغوي فکر کاوه چې د يو کليوال خپلوان دی او د شهيدانو فاتحې ته به د خپل مور پلار سره راغلی وي.

خو خالد د مازديګره څخه تر ماښام لمانځه پورې انتظار وکړی چې کله د ماښام د اذان وخت شو د خالد زړه له خوشحالی بيا په ټوپو شو او فکر يې کاوه چې اوس به يې پلار راشي د جماعت څخه د باندې چې به د چا د قدمونو او بوټانو اواز راغی خالد به فکر کاوه چې دا به يې پلار وي هر سړی چې به جماعت ته داخليده د خالد په فکر کې به يوځل د خپل پلار تصوير ګرځيده په دې انتظار کې به يې کله کله عقل مغلوب شو او پردی سړی به ورته پلار ښکاره شو، خو چې کله به يې زړه وغوښتل چې ورمنډه کړي نو بيابه پوه شو چې پلار يې نه دی اذان وشو امام اقامت وکړی او جماعت ودريده خو خالد نيت نه و تړلو او خلګو ته يې کتل د اول رکعات تر پايه خالد نيت ونه کړی او په صف کې ولاړ وو دروازې ته يې کتل چې کله امام رکوع ته ولاړی خالد هم نيت وتړی او رکوع ته پسې کوز شو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانبام لمونځ هم وشو کلیوال یو یو له مسجده وتل مسجد کې تاریکه شول خالد هم د مسجد بهر کښیناستی د هیڅا هم خالد ته فکر نشو جماعت خالي شو کلیوال ټول ولاړل خو خالد لا ناهیلې نه وو او فکر یې کاوه چې دماسختن لمانځه ته به یې پلار راشي خو په زړه کې پلار ته زیات غصه وه چې ولې پر وخت دده بیولو ته نه راځي شپې هم خپل وزرې وغوړولې یخ اوتیز باد هم لګیده او نری نری باران هم شروع سو خالد د دې لپاره چې لوند نه شي د مسجد دیوال ته ځان پناه کړی که څه هم یخني زیاته وه خو خالد د خوشحالی لامله بیخي یخني ته فکر نه وه هغه فکر کاوه چې پلار به یې اوس راشي اودی به تر لاس ونیسي او کور ته به یې بوځي په خالد په همدې یخنی کې ماسختن شو او امام اذان وکړی خالد بیا خوشحاله شو امام دمسجد څراغ بل کړی خالد هم په منډه ولاړی او جماعت کې کښیناستی اوبیا یې سترګې د مسجد دروازې ته ونیولې بیا ټول خلګ راغلل د خالد پلار نه وو خالد باندې لړ لړ بیره راتلل او زړه یې غم نیوی څکه نوره شپه راروانه وه کلیوال یو یو له مسجده وتل او جماعت ټول خالي شو اخر کې یوسپین ږیری اویو خالد سره پاته شول چې سپین ږیري له نفلو وروسته خالد ته وویل هلکه څه ولاړ شه کور ته ناوخته دی زه نور د مسجد څراغ مړ کوم او مسجد بندوم خالد هم له مسجده راووتی اوسپین ږیری د جماعت دروازه بنده کړه خالد حیران شو چې اوس څه وکړي زړه یې ډار ونیوی په سترګو یې توره شپه سول مخې ته یې هر شی پیری او بلا ښکاره شول یو خواته یې منډه کړه مخې ته یې ولاړ توت پیری ښکاره شو ژر یې مخ راوړه بلې خوا ته یې منډه کړه خو د جماعت دیوال ورته د غر غوندې ښکاره شو هر طرف ورته خطرناک ښکاره کیده له ډیرې ناتوانی یې خپل سترګې پټې کړې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوشیبه يې سترګې پټې کړې وې او وروسته يې په ورو ډول خپلې سترګې خلاصې کړې چې ګورې باران هم تيز شو خالد د جماعت مخکې د پـول طرف ته منډه کړه او تر هغه پول لاندې شو زړه يې زيات درزيده نـژدې وه چې له ډاره د زړه حمله پرې راشي په ټول عمر دومره بيره پرې نه وه راغلې له زياتې بيرې يې ژړلی هم نشول هغه فکر کاوه که وژاړي پيران او بلاګانې به په خبرې شي له ډار او يخ څخه يې بدن لړزيده د پول لاندې پر يوه اړخ پروت و بدن يې وچ شو خو له بيرې نه ښوريده دسترګو څخه يې د اوښکو دارې رواني وې د مسجد څنګ ته د کلي سپي هم راغلل او غپا يې شروع کړه چې د خالد بيره يې نوره هم زياته کړه د خالد بدن د يخ لامله قرار قرار سره را ټوليده خالد اخر څنګونه نس ته ورکړه او راټول غوندې شو خو له زياتې بيرې يې يخ ته بيخي فکر نه و شپه ورو ورو نوره هم يخيدل خالد له دې بيرې چې يابه يې سپي وخوري اويا به يې بلا ووهي د پـول څخه نـشو راوتلای خالد د شپې نيمايي کې خپل حواس له لاسه ورکړل او لاسـونو او پښو يې هم د يخ لامله کار پريښودی چې د سهار اذان سره يـو ځـل بيـا پـه هوش کې راغی چې د مسجد له خوا د امـام د پـښو اواز راتلـی خالـد چغـه وکړه او د ماما نارې يې شروع کړې امام وارخطاشو خو چې کلـه يـې د پلـه لاندې لاسي برق ونيوی نو وې ليدل چې خالد غلی او راټول غوندې پروت دی امام غبرګ پرې وکړی.

څوک يې؟ څوک يې؟

خالد: ماما زه يم يخ مې کيږي.

امام: ته څوک يې؟

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد: خالدیم ماما بدن مې درد کوي.

امام هم ور کوز شو او خالد یې غیږ کې راواخیستلی او د جماعت پر ځای یې کور ته راووړی او بخاري یې ورته ولګوله او بستره کې یې پټ کړی د امام میرمنې د امام څخه پوښتنه وکړه چې دا دې څوک راوستلی امام ورته وویل: چې زه یې هم نه پیژنم ډیر ښکلی ماشوم دی او خبرې یې هم نه زده نه دي یخ نیولی ده ته یې تود کړه زه جماعت ته ځم له جماعته پس به یې معلومات وکړو.

د امام میرمنې پرې بله بیستره هم واچول او لمانځه ته ولاړه.

خالد بیستره کې ځان سره ژړا شروع کړه او خوښتل یې چې د تیرې شپې زړه هم اوس تش کړي څکه ماښام یې له بیرې او داره ژړا هم نشول کولای او د شپې دردونکي تصویرونه یې ذهن کې راتلل او زیات زوریده مور یې هم سترګو ته کیدله یو ځل یې زړه وغوښتل چې د امام د میرمنې غیږ ته ځان واچوي خالد ډیر ناهیلې شوی وو دار او بیرې د هغه په مغزو کې ځای نیولی وو مینې شفقت او ترحم ته یې زیات ضرورت درلودی.

خالد چې کله لږ تود شو وروسته یې ډوډی ته هم اشتها راغله څکه خالد تیره شپه ډوډی نه وه خوړلې یواځې یې تیره ورځ سهار یې ډوډی خوړلې وه خو خالد شرمیده د امام میرمنې ته یې د ډوډی د خوړلو نه شول ویلی امام د جماعت کولو وروسته مقتدیانو ته وویل چې یو نابلده ماشوم یې پیداکړی که د هر چا وي نو د دوئ کور کې دی خو کلیوالو کې چا ونه ویل چې د دوئ له کوره ماشوم ورک شوی دی، په دې ورځو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسجد د ماشومانو سبقونه هم رخصت وه امام له جماعته کولو سمدستي وروسته کور ته راغی، امام چې وکتل چې خالد اوس تود شوی نو خالد ته یې وویل ته د چا زوی یې؟ دلته کلي کې د چا کور ته راغلی یې؟

خالد ورته جواب کی وویل: چې زه د عزام زوی یم او خپل پلار پسې دلته راغلی یم امام وروسته پوه شو چې ماشوم عرب دی او په عربی ژبه ښه خبرې کولای شي نو دخالد سره یې عربي خبرې شروع کړې لږ شیبه وروسته امام د خالد بکس ته پام شو او د خالد څخه یې پوښتنه وکړه چې په دې بکس کې څه دي خالد ورته جواب کې وویل: چې دا مې جامې دي.

امام په خندا کې خالد ته وویل ته راکړه زه یې وګورم بمونه خوبه دې نه وي راوړي خالد هم بکس ورکړی امام چې کله بکس خلاص کړی نو هغه د عایشې لیک په لاس ورغی چې د لیک د ویلو وروسته د خالد په تولـه کیسه پوه شو د لیک لاندې یې زیاتې روپی او طلاهم ولیدل څکه نانوای د خالد یوه روپی هم نه وه ضایع کړې، وروسته خالد امام ته د نانوای سره د تیر سوي ژوند کیسه هم وکړه او خالد امام ته وویـل: چې زه د قرانکریم حافظ هم یم امام او خالد لا مجلس نه وه ختم کړی چې د امام میرمنې د سهار چای تیاری کړی او د سهار چای سره یې هګی هم تیارې کړې وې خالد چې کله هګی ولیدلې نو خپله مور یې یاد شوله چې هر سهار به یې ده ته هګی پخولې سترګې یې ډکې شولې اواز یې ژړه غونی شو امام چې کله وغوښتل د خالد څخه پوښتنه وکړي خو پوه شو چې خالد ته ژړا ورځي نو خالد یې یوه شیبه پریښودی او خپلې میرمنې ته مخاطب شو او

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ته یې د خالد ټوله کیسه وکړه د امام میرمنې هم د خالد دردونکې کیسې ته زیات وژړل.

خو امام تر هر څه زیات د خالد ساتنې ته وارخطا وو ځکه یوه شپه مخکې هم دلته امریکایانو چاپه وهلې وه خو له لږ څند وروسته یې فیصله وکړه چې خالد به له دې کلي څخه لږ لیرې د خپل خسر احمدشاه اکا کورته وړي.

خالد چې کله ناشته وکړه نوامام پر خپل موټرسایکل شاته کښیناوه او د خپل خسر کور ته یې یوړو.

د امام خسر احمدشاه اکا چې اوس نو سپین ږیری وه پنځه زامن یې درلودل چې دوه مشران زامن یې ایران کې مزدوري کوله او دریم زوی یې د هیواد څخه بهر پاکستان کې سبقان ویل او څلورم زوی د خالد د پلار غونډې د طالبانو په تشکیل کې تللی وه چې په کندز کې محاصره شوی وه اود مرګ او ژوند درک یې نه وو او پنځم او تر ټولو کشر زوی یې مصطفی پر کور و او جماعت کې یې سبقان ویل او مکتب یې هم وایه مصطفی څوارلس کلن وه خو د هغه عجیبه صفاتو هغه په ټول کلي کې مشهوره کړی وه مصطفی په هر څه کې په خپلو همزولو لاس بری وه د کلي د ماشومانو میر و او په کلي کې یې د ماشومانو ځان ته دلګی درلوده هغه ته خپل ماشومان ملګري زیات ګران وه که به په کلي یا مکتب دده ملګري چاسره جنجال وکړی نو مصطفی به نیغ د خپل ملګري په دفاع کې ولاړ و په مکتب کې چې به هر څوک د مصطفی په دلګی کې داخل وو نو هغه به سرې سترګې ګرځیدی او نورو ماشومانو به پورته ورته کتلی نښول مصطفی د شوخی سره ډیر لایق او با استعداده هلک هم وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی یو بل عادت دا وه چې خپل او دملګري انتقام یې چانه نه پرېښودی که څه هم ماشوم وه خو پیغور او دمړو سترګو ژوند څخه یې زیانه کرکه درلودله یوه ورځ ورته د کلي امام پیغور ورکړی چې څنګه محمود تر تا په درجه مخکې دی مصطفی درې میاشتې مسلسل هره شپه تر دولسو بجو درسونه وویل او په امتحان کې یې خان تر محمود مخکې کړي.

خالد غرمه مهال د مصطفی کور کې حیران ناست وه او دغرونو غونډې غمونه یې پر دماغ پراته وه د خالد د سترګو اوښکې.خلاصې شوې وې او له زیاتو مشکلاتو لامله په روحي تکلیف اخته سوی وه.

خالد نور پوه شوی وه چې مور اوپلار یې د همیشه لپاره بایلل خو د مصطفی کور ورته څه د زړه سکون بخښونکی ښکاره شو، څکه د مصطفی مور ډیر زیاته مهربانه وه او خالد ته یې زیاته تسلي ورکړه اوهغه ته یې وویل چې زه هم ستا مور یم خالد ته یې پاکې جامې ورکړې او هغه ته یې د خان مینځلو لپاره اوبه تودې کړې خالد چې کله خان ومینځی د تشناب څخه راووتی د مصطفی مور ورته وویل: چې دلته لمر ته کښینه چې تود شې خالد لا هم هغه لمر ته ناست وه چې مصطفی له مکتبه راغی چې کله یې پر خالد سترګې ولګیدلې نو ورته یې ومسل خالد هم د خندا په ډول خوله خلاصه کړه مصطفی اطاق ته ولاړی او د ښوونځي بسته یې کیښودله او مور څخه یې پوښتنه وکړه چې دا هلک څوک دی مور یې جواب ورکړی چې عرب مسافر دی او مور پلار ترې ورک شوي دي او ټوله کیسه یې مصطفی ته وکړه مصطفی هم راغی د خالد سره یې ستړي مشي وکړه او د غرمې ډوډی دواړو یو ځای وخوړله خو په دې ځای کې هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد سم په امن کې نه وه ځکه امکان یې درلودی چې دلته هم امریکایان چاپه پرې ووهي خالد دلته هم د هرچاسره خبرې نه کولې او احمد شاه کاکا له ډاره خالد ته د شپې له کور څخه لیرې په بیتهک (میلمستون) کې بیستره واچوله او مصطفی ته یې وویل چې تـا اوخالـد بـه ماښام هلته بیده شئ.

خالد چې کله دا خبره واوریدله بیا وارخطاشو ځکـه خالـد د شـپې داریده ماښام چې کله ډوډی وخوړل شول مصطفی اوخالد دواړه د بیتهک په طرف ولاړل او احمدشاه کاکا دواړه پوه کړه کـه چیـرې چاپـه راغلـل نـو دواړه به د میلمستون څخه تیښته کوئ کله چې دواړه میلمستون ته ورسیدل نو خالد مصطفی ته وویل چې زه دلتـه داریـږم خـو مـصطفی ورتـه وویـل چـې مه داریږه زه درسره یم مصطفی بیخي ډار نه پیژنده هغه به د شپې په هدیره کې د ملگرو سره د مرغانو ښکار کاوه خو خالد نن شپه زیات نـه داریـده ځکه مصطفی ورته ډاډ ورکاوه دواړه په خپلو بیسترو کې پریوتل او بیا ورته خالد د خپلو خواریو او تلکلیفونو داستان شروع کړی.

مصطفی هم ورته غوږ نیولی وه د شپې تر یوې بجې پورې خالـد مـصطفی ته خپله کیسه کوله ځکه چې د خالد پښتو ژبه لا سـمه نـه وه زده او په ډېر مشکل یې مصطفی پوه کړی او مصطفی ته یـې دا هـم وویـل چـې دی بې خپل مور اوپلار زیات گران وؤ.

د مصطفی او خالد ځای هم هغه بیتهک شو له څه مـودې تیریـدلو وروسـته مصطفی اوخالد یو بل سره عادت ونیوی او یو بل ته زیات گران شول خالد که مور پلار د لاسه ورکړه خو مصطفی یې پیداکړی چې د مصطفی مینې د خالد څخه د مور پلار غم سپک کړی وؤ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد او مصطفی لکه ندیم اوندم مرغان بیخي د یوبل څخه نه جلا کیدل که مصطفی غیرتي وؤ نو خالد هم تر مصطفی په غیرت کې کم نه وؤ.

خالد له مصطفی څخه په لږه موده کې ډیر ژر پښتو ژبه په مکمل ډول زده کړل مصطفی اوخالد دواړو د کلي پر ملاصاحب سبقان شروع کړه مصطفی تر خالد زیات کتابونه ویلي وؤ خو خالد بیا د قرانکریم حافظ و

یوه شپه چې هوا هم طوفاني وه تیز باد لګیده او په اسمان کې تالنده او بریښنا هم وه مصطفی اوخالد په خپل اطاق کې په خواږه خوب ویده وه

چې دطیارو غږ شو خالد دطیارو غږ له خوبه ویښ کړی خوبیرته یې زړه خوب یو وړی مګر دطیارو غږ شیبه په شیبه په لوړیده خالد بیا له خوبه بیدار شو داخل د طیارو اواز ډیر زیات لوړ و خالد وارخطا شو ژر یې پرمصطفی غږ وکړی مصطفی چې کله را پاڅیدی نو پوه شو چې د امریکایانو چاپه ده په وارخطا غږ یې خالد ته وویل:

زه چې وایم دکافرانو چاپه ده

خالد: څه څه چاپه؟

مصطفی: هو

خالد: اوس به څه کوو؟

مصطفی: نه پوهیږم.

خالد: درڅه چې کور ته ولاړ شو زه بیریږم.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی: نه نه کور ته نه خو بابا ویل که د امریکایانو طیارې راغلې تاسې به کور ته نه راځئ بهر به منډه وهئ ونوکې به پټیږئ مصطفی اوخالد په همدې خبرو مشغول وه چې دطیاروغږ دومره لوړ شو چې د دوئ دوو خبرې پکې ورکې شوې اخر مصطفی خالد له لاسه ونیوی او دواړو له اطاقه منډه کړه له لږ منډې وروسته مصطفی یوې دنګې ونې ته ودریدی خالد یې د لاس په اشاره پوه کړه چې ونې ته در وخیژه خوخالد ورته وویل چې زه ونې ته نشمه ختلای مصطفی په تیزئ سره د ونې بیخ ته په ګونډو شو او وروسته یې خالد ته وویل چې زما اوږو ته پورته شه د خالد چې د وارخطايي څخه لاسونه ریږدیدل په ډیرې تیزئ سره د مصطفی اوږو ته وختی مصطفی ورو ورو ولاړیدی چې وروسته خالد د ونې ښاخ ونیوی او ونې ته وختی سمدستي مصطفی هم ورپسې ونې ته وختی دواړه په ونه کې ولاړ وه ډیر زیات وارخطا وه خود خالد په مصطفی لږ زړه ډاډه و مصطفی چې مخکې له داسې حالت سره نه و مخ شوی زیات حیران ولاړ وه لږ شیبه وروسته په اسمان کې دطیارو څخه د ګروپ په شان شیان وغورځول شول چې شاوخوا یې د ورځې غوندې رڼا جوړه کړه خالد چې کله رڼا ولیدله نو مصطفی ته یې وویل اوس ترې نشو پټیدلای مصطفی دخالد په خوله لاس ونیوی او ورته یې وویل: چوپ شه غږ مه لره نه مو ویني خالد اومصطفی له پاسه ننداره کول چې دوه هلیکوپتر طیارې راغلې او د مصطفی د کورڅنګ کې په پټې کې کښیناستلې چې دکښیناستلو سره سم خړ رنګه دریشي په تن عسکر ترې په منډه راکوز شول اوټولو دمصطفی دکور په طرف منډې وهلې د کور دروازې ته نژدې ټول عسکر پرمخې پریوتل یو عسکر یو تور غوندې شی د دروازې په طرف ور وغورځاوه چې له غورځولو سره سم درز شو او تور دودونه پورته شول خالد له ډاره په ونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خان د مصطفی غیږ ته غوځار کړی مصطفی په یوه لاس د ونې ښاخ
نیولی وه په بل لاس یې دخالد سر د خپل ځیګر سره نژدې ونیوی او په
سترګو یې د خپل کور وطرف ته کتل عسکر چې کله کور ته ننوتل
سمدستي ډزې شروع شوې خالد له ډاره په خپلو غوږونو لاسونه ونیول له
ډزو څخه څو ثانیې وروسته د ژړا اوازونه اوچغې شروع سولې مصطفی
اوخالد په حیران ډول په ونه کې ولاړ وه نه پوهیدل چې د دوئ په کور کې
څه روان دي له دوه ساعته وروسته لومړی یوکس چې ساده توري جامې
یې په تن وې اومخ یې په څادر پټ کړی وه له کوره راووتی اومخ د
مصطفی اوخالد د خوب داطاق په طرف یې منده کړه د شاه له طرفه یې
امریکایانوهم منډې وهلې ژر اطاق ته داخل شول خوشیبه پس له اطاقه
راووتل درې امریکایي عسکر اویو مخ پټی سړی راغلل اودهمدې ونې
لاندې ودریدل چې مصطفی اوخالد پکې پټ وه مخ پټي سړي له لږ ځنډ
وروسته خبرې شروع کړې او یوبل کس ته یې وویل ترجمان صاحب ته
دوئ ته ووایه چې مادقیق څارل د ماښام تر اذانه دواړه دلې وه نه پوهیږم
چې په دې نیمه شپه کې چیرته پټ شول که صحي تلاښي وکړو باور لرم
چې پیدا به یې کړو مصطفی چې کله اواز واوریدی نو پوه شو چې داکس
د دوئ دکلي هغه د سدو پلار چې خلګو ورته مامور خلقي وایه هغه دی له
لږ ځنډه وروسته هلیکوپټر طیارې بیرته راغلې او پر هم هغه ځای کښیناستلې
عسکرو تولو منډه کړه اوبیرته طیارې ته پورته شول او وروسته طیارې بیرته
هوا ته پورته شولې او ولاړلې مصطفی اوخالد هم له ونې راکوز شول اومخ
پر کور یې ورمنډه کړه چې کله کورته داخل شول لومړی یې خپل پلار په
وینوکې لژنده ولیدی ورمنډه یې کړه او پر پلار یې نارې کړی بابا بابا پورته
نه خو بابا یې غږ نه کاوه دمصطفی په نارو سره د اطاقه څخه د مصطفی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور چې زیاته وارخطا وه هم راښنده کړه اوچغې یې شروع کړې د دوی لاهمدا چغې وهلې چې کلیوال هم راغلل د کلي امام چې کله مصطفی اوخالد ولیدل نودواړه یې تر لاس ونیول اوپه زوره یې کش کړه مصطفی په ژړا کې زور کړه او لاس یې د ملاامام له لاسه خوشې کړی اوبیرته دخپل پلار په مړه جسد یې غیږ تاو کړه امام دوهم وار مصطفی له لاسه ونیوی او کش یې کړی او د کوره یې وایستل او خپل کور ته یې بوتلل اوهلته یې کښینول اوبیایې مصطفی ته وویل چې چاپه په تاسو پسې راغلي وه اوتاسې دوه یې بندیان کولاست خوداچې تاسې تري پټ سواست خدای وژغورلاست کـه تاسې اوس کـور کـې خلـګ وویني نوکیـدای شي بیاجاسوسي ورته وکړي اوبیرته امریکایان راشي نوتاسې زموږ کور کې تر هغه و اوسیږئ چې زه خونـدي ځای درتـه پیداکوم خالـد اومـصطفی د ورځې تر لسو بجو د ملاامام په کور کې وه چې پر لس بجې یو کس راغی او دواړه یې د موټرسیکل تر شاه سپاره کړه او د دوه ساعته مزل وروسته یې یو بازار کې ښکته کړل چې هلته یو موټر چلونکې ناري وهلې چې هلی ګردی ځنګل دوه نفره کم دي چې حرکت کوو.

وروسته موټرسیکل چلونکي وموټر چلونکي ته وویل چې دادوه ماشومان به دګردې جنګل بازار ته ورسوې او پـه بـازار کـې بـه یـې دمرکـزي جامع جومات امام ته تسلیم کړې او د مصطفی به لاس یې یو خط هم ورکړی او ورته یې وویل چې کله مو هلته ملاامام پیداکړی داخط به پـه لاس ورکړې او موټرچلونکي ته یې کرایه ورکړه اونور موټرسایکل ته وختی اوتـري روان شو مصطفی اوخالـد دواړه مـوټرکې حیـران ناسـت وه دواړه زیـات خپه وه خوخالد چې مخکې له سختیوسره عادت شوی وه زیات خپه نه وه د موټر له حرکت وروسته خالـد مـصطفی تـه ویـل چـې مـور بـه مـې ویـل چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرتکلیفونو باندې صبر زیات ثواب لري هرڅوک چې پرتکلیف صبر وکړي الله ج به جنتونه ورکړي خالد همداسې په خبرو لګیاوه چې مصطفی ته تسلي ورکړي خومصطفی چوپ وه اوهیڅ یې نه ویل کله کله به یې د خالد خبرو ته د هوپه ډول سر وښوراوه له یوساعت مزل وروسته دواړه چوپ شول له اوږدې خاموشۍ وروسته مصطفی خالد ته وویل زما پلار هم مړ شو په دې خبره سره د مصفطی له سترګو اوښکې رواني شولې اوپه اوښلنو سترګو یې خالد ته وویل نور به زه پلار نه لرم بابا مړ شو خالد یې خبره ور ونیول او ورته یې وویل مړ مه وایه شهید ووایه الله ج به هغه جنت ته بوځي او بیابه موږ هم ورشو خالد بیا ورته وویل ته خوشکر مور لرې خو زمانه مور اونه پلار شته چې په دې خبره سره د خالد هم له سترګو اوښکې راغلې خو مصطفی پوزه کش کړه اوښکې یې پاکې کړې اوبیا یې وویل خالده دعا کوه چې زما اوستا ږیرې مراشي اوځوانان شو بیابه یې له امریکایانو سم انتقام اخلو خالد وویل اه کاش چې ځوان وای بیا زه د دې امریکایانو په چل ښه پوهیدم دوئ په همدا مجلس اخته وه چې مازدیګر مهال یو واړه بازار ته موټر ورسیدی اویو مسجد ته موټر چلونکي موټر ودراوه خالد اومصطفی ته یې وویل چې د همدې مسجد امام پیداکړې دواړه له موټره کوز شول او جماعت ته ورداخل شول کله چې یې ملاامام ولیدی مصطفی ورته هغه د خپل مسجد د امام خط په لاس ورکړی امام چې کله خط ووایه نو دواړه یې د مسجد حجرې ته راوستل او ورته یې وویل چې نور به تاسې دواړه همدلته سبقان وایاست.

مصطفی اوخالد دواړه همدلته پاته شول د مصطفی د پلار د مرګ یوه میاشت وروسته د مصطفی دواړه وروڼه هم له ایران څخه راغلل دابل کال کوچني اختر ته یې طالب ورور هم له پاکستانه څخه په رخصتی راغی کله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د پلار له مرګه خبر شو نو زيات خپه شو او وروسته يې په وارخطايي د ورړوکي ورور مصطفی پوښتنه وکړه مور يې جواب ورکړی چې هغه هم دهغې ورځې څخه د عرب ماشوم سره تللی بيانه دی راغلی د کلي ملاصاحب استولی دی نور يې مور هم معلومات نه لرو خوملاصاحب وايي چې جوړ روغ دی ما دې مشر ورور ته وويل چې اختر ته يې راوله خوهغه وايي نه چې هلته خوندي دی بايد هم هلته اوسي که راشي هسې نه چې امريکايان چاپه پر ووهي د عرب سره دی هم اوس د امريکايانو په تور ليست کې دی د مصطفی طالب ورور د اختر تيرولو وروسته د کلي د ملاصاحب څخه د مصطفی اوخالد ادرس واخيستی او دی هم پسې راغلی اود مصطفی اوخالد سره يې يوځای درسونه شروع کړل مصطفی اوخالد پوره دوه کاله هم هلته پاته شول اوسبقان يې ويل يوه شپه د دوئ حجرې ته يوملیمه طالب راغلی وؤ او د لږ مجلس وروسته يې مصطفی ته وويل چې هلمند ته د جهاد لپاره ځم اوهلته د امريکايانو سره جهاد کوم مصطفی چې کله داخبره واوريدل نو يې هغه طالب ته وويل چې ماهم درسره بوځه هغه طالب ورته وويل چې زه به مو خپل مشر ته بوځم مصطفی ترې پوښتنه وکړه چې ستاسې مشر چيرته دی مليمه طالب جواب ورکړی چې هغه هم دلته نژدې په بل مسجد کې مليمه دی مصطفی ورته وويل: چې سهار به حتمي ما خپل مشر ته بيايې مليمه طالب هم ورته وويل چې سمه ده سهار دواړه مليمه طالب او مصطفی د طالبانو مشر ته ورغلل طالب مشر ورته د جهاد اجازه ورکړه خودا يې ورته وويل چې بايد په خپله سيمه کې جهاد شروع کړې اوهلته خپل ځان ته ملګرې هم پيداکړې اومصطفی يې د خپل سيمې مسئول وټاکه د دې تر څنګ يې ورته وويل چې د طالبانو د زاړه تحريک يوځه اسلحه ما هلمند کې پټه کړې ده چې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلحه یوه تو پنچه او کلاشنکوف نانه درکوم خونوره اسلحه اومهمات به خپله پیداکوي مصطفی هم ورسره خوښه کړل او د طالب مشره خخه یې رخصت راواخیستی او په منډه خپلې حجرې ته راغی اوپر خالد یې زیری وکړی اوخالد چې کله د دې کیسې څخه خبرشو له سترګو خخه د زیاتي خوشحالی اوښکې راغلې بیادواړه سرغیږ په غیږ شول خالد مصطفی ته وویل چې کلاشنکوف به ماته راکوي مصطفی د توکو په ډول ورته وویل چې نه یاره ستا شکل کلاشنکوف ته نه دی شوی خالد ورحمله کړه اود مصطفی لاس یې تاو کړی او ورته یې وویل چې نه کلاشنکوف زما دی مصطفی ورته وخندل او ورته یې وویل چې لاس مي کړه ایله درکوم یې کله چې یې خالد لاس ایله کړی مصطفی ورته وویل چې هلکه اوس مې لږ احترام کوه امیر او قومندان دی یم بیا دواړو سره وخندل دواړه ډیر زیات خوشحاله وه خو مصطفی خپل مشرطالب ورور نه و خبر کړی خو ورځې وروسته دواړه هلمند ته راغلل دواړو ورځ له کلي لیرې په دښته کې له کوچیانوسره تیره کړه اود شپې کلي ته د مسجد د امام کور ته راغلل.

اودغه دروازه یې وټکول امام چې کله بهر راغی مصطفی اوخالد یې نه پیژندل خکه پوره دوه کاله یې نه وه لیدلی مصطفی پر ملاصاحب غږ وکړی او ورته یې وویل ملاصاحب خیر خیر مه راته گوره خپل خلګ یو ملاصاحب چې کله د مصطفی اواز واوریدی نو پر مصطفی یې غیږ راتاو کړه او وررته یې وویل:

امام: اوهو تاسي دي الله راولي ماشاءالله داخوخوانان سوی یاست

مصطفی: هو ملاصاحب خوته هم سپین ږیری شوی یې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام: چوپ شه هلکه زه خولا څوان یم هسې زړه راته مه اچوه.

مصطفی: هههه ملاصاحب سپین ږیری شوی یې هسې ځان ته تسلي ورکوې.

امام: ښه تاسې دا راته ووایاست کله راغلي یاست.

خالد: همدا اوس راغلو اول ستاسې کور ته راغلو.

مصطفی: ههههه ملاصاحب تا له کلي بیولو و تاویل بیابه رانشې ځنګه بیرته راغلو.

امام: ښه تاسې ودریږئ زه یو ځل د مصطفی پر کورنی زیری کوم دمصطفی مور به سم زیری راکړي ځکه په دې لیوني پسې زیاته خپه ده

خالد: هههه ملاصاحب دا بد شکله یې هم یاداوه.

مصطفی: نه ملاصاحب زموږ کور مه خبروه موږ په پټه راغلي یو

امام: په پټه ؟

مصطفی: هو

امام: ولې؟

مصطفی: هههه ملاصاحب کور ته موبیایې که ټول مجلس همدلته راسره ختموې.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام: افففف ماچې تاسې وليدلاست له خوشحالى هر څه راڅخه هير شول ته صبر زه کورکې تاسې ته کوټه سمه کړم ههه تاسې خر القاعده اوترهګر ياست د خلګو څخه په پټه ګرځئ.

امام: کور تـه ولاړى او لـږه شيبه وروسته بيرتـه راغلـى او دواړه يـې کورتـه بوتلل.

مصطفى اوخالد د امام سره خپل ټول راز شريک کـړى او ورتـه يـې وويـل چې نور به دوئ د همدې کـلي څخـه جهـاد شروع کـوي د کـلي امـام هـم ورسره خوښه کړه او ورته يې وويل چې اول ملګرى مو زه يم او يوه توپنچه زه هم لرم دا هم تاسې تـه درکـوم لـه دې خـبرو وروسـته مـصطفى د خپلـو ماشومتوب د ملګرو په اړه ترې پوښتنه وکړه امام ورتـه دټـول کـلي ځوانـانو باره کې معلومات ورکړه او ورته يې داهم وويـل چـې ځينـې د ماشـومتوب ملګري يې عقيدوي خـراب شـوي دي د حکومـت عـسکرجوړ شـوي دي بايد له هغوئ سره ونه وينې مـصطفى اوخالـد او د کـلي امـام پـه دريـو سره لومړنى جهادي پلان داسې جوړ کړى چې بايـد د شـپې لـه خـوا کـلي کـې شب نامې وويشي او کليوال خبر کړي.

څو شپې وروسته مصطفى اوخالد دامام پر موټرسيکل په ټوله ولسوالى کې دشپې له خوا خطونه وويشل او خلګو ته يې خبردارى ورکړى وه چې نـور د حکومت له کارونو لاس واخلئ او د اشغالګرو سره کـار ونـه کـړئ کنـه د اسلامي امارت له خوا به ووژل شئ اوځوانانو ته يې د امريکايـانو پـه مقابـل کې د جهاد شروع کولو بلنه ورکړې وه سهار چې د کلي خلـګ مـسجد تـه راغلل او خط يې وليدى ټول حيران شـول پـه ټولـه ولـسوالى کـې غوغـا او شور و چې طالبان بيا پيداشوي دي د ټولو خلګو د بحث موضوع همـدا وه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کليو اوجماعتونو کې بس همدا خبره شروع وه حکومتي کسان اوجاسوسان زيات وارخطا وه زيات خلگ خوشحاله وه خو له ډاره بې خپله خوشحالي ښکاره کولای نشول مابنام په تاريکه کې مصطفی اوخالد د امام کور ته راغلل او د امام څخه يې پوښتنه وکړه چې د شب ناموپه اړه د خلگو غبرگون څه وه؟ امام جواب ورکړی چې ټول خلگ خوشحاله وه له ډاره چوپ وه مگر يو مامور خلقي له خولې لاس اخيستی وو اميرالمومنين ملامحمدعمرمجاهد او طالبانوته يې ښکنځل کول او ويل يې چې يو خل د خلقيانو داسې ښه حکومت راغی هم داخينو د جهاد په نوم خراب کړی اوس بيا دا حکومت خرابوي مصطفی چې کله د مامورخلقي نوم واوريدی يو ډول تکان يې وخوړی او د مخ رنگ يې واوښتی امام ته يې وويل:

مصطفی: څه څه مامورخلقي لاهمدلته کلي کې ژوند کوي؟

امام: هو.

مصطفی: اوس څه کار کوي؟.

امام: د کلي په مکتب کې سرمعلم دی ښه پيسې اودنيا يې هم اوس پيداکړې ده خلگ پسې درواغ هم وايي چې د امريکايانو جاسوس دی هغه مشر چرسي اوغل زوی يې کابل ته استولی دی خلگ وايي امريکايان ملي اردو جوړوي په هغه کې يې داخل کړی.

مصطفی: ملاصاحب خلگ درواغ نه وايي مامور خلقي جاسوس دی.

امام: هههه ته هم عجبه ساده سړی يې د هرچا په خبرو پسې گرځې دا درواغ دي هغه اوس معلم دی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی: نه ملاصاحب په کومه شپه چې زموږ پر کور چاپه وه اوزما پلار یې شهید کړی په هم هغه شپه دی ورسره وه ماپه خپلو غوږونو دده اواز واوریدی ځکه موږ پاس په ونه کې پټ وؤ اولاندې دی له ترجمان سره په خبرو و که زما نه منې د خالد څخه پوښتنه وکړه.

امام: استغفرالله دا څومره غټ منافق دی ماخو پرې د ډیر ښه سړي گمان کوه رشتیا هم په هم هغه سهار دی جماعت ته نه وؤ راغلی اوستا دپلار جنازې ته هم نه راغی کله چې یې ما د زوی څخه پوښتنه وکړه ویل تیره ورځ لښکرگاه ته تللی وه نن نه دی راغلی اوس مې یقین راغی چې داسړی جاسوس دی.

مصطفی خالد ته وکتل او ورته یې وویل لومړی ښکار خو پیداشو غزا به له همدې مامور خلقي څخه شروع کوو خوملاصاحب باید دوه ورځې دی وڅاري اوبیا موږ ته معلومات راکړی امام دوه ورځې مامور خلقي تر څار لاندې ونیوی او کله چې دریمه شپه خالد اومصطفی د امام کورته راغلل نو ټول حال یې ورته بیان کړی اخري پلان یې داشو چې باید د مازدیگر له خوا مامور خلقي د فوټبال په میدان کې ووژني چې هم خلگ عبرت تری واخلي اوهم هغه لار ایله اوپه اسانۍ سره له میدانه تللی شول د امام ورسره ټول پلان خوښ شو فقط یې ورته وویل چې باید د دې ځای لپاره بل موټرسیکل پیداکړئ ځکه د امام موټرسیکل ټول کلی پیژني مصطفی حیران شو چې اوس به بل موټرسیکل له کومه کوي په همدې فکر کې و چې خالد ورته وویل موټرسیکل باید ستا له هغه مولوي اخښي څخه واخلو چې اول ځل یې زه ستاسې کور ته راوستلم ځکه هغه د دې کلي نه دی اوموټر سیکل یې هم څوک نه پیژني مصطفی چې کله دخالد خبره

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوریدل نو موسکی شو اوبیا یې امام ته وویل چې ملاصاحب دومره هوښیار معاون لرم سهار خالد اومصطفی دواړه د مصطفی د مولوي اخښې کورته ولاړل تر ماپښین پورې هلته وه ماپښین یې اخښي ته وویل چې نور دوئ کور ته ځي خواخښي ورسره ټینګار شروع کړی چې باید شپه راسره وکړئ مصطفی ورته وویل چې ته دومره ټینګار کوې چې باید شپه درسره وکړو نوشپه درسره کوو مګر ستا موټرسیکل راکړه موږ یوځای کار لرو هلته ځو اوماښام بیرته راځو اخښي هم ورسره ومنله او موټرسیکل یې ورکړی مصطفی اوخالد راروان شول کلي ته نارسیده یې خپله خښته کړې توپنچه له خاورو را وایستله او د کلي په طرف راروان شول پر لارې مصطفی خالد ته وویل چې مامور خلقي ولې اوکه موټرسیکل چلوې خالد ورته وویل چې زما موترسیکل نه زده زه مامور خلقي ولم مصطفی توپنچه د خالد په لاس ور کړه او د کلي د فوټبال د میدان په طرف راروان شول.

مازدیګر ټول خلګ د فوټبال په میدان کې راټول وه ځینو لوبه کول اوزیات نور بیا د سیل لپاره راغلي وه چې په سیلاتیانو کې مامور خلقي هم ناست وؤ د فوټبال لوبه ښه ګرمه روانه وه چې مصطفی اوخالد ناڅاپه پر موټرسیکل د سړک له طرفه راغلل مصطفی موټرسیکل ودروی اوخالد ترې راکوز شو او لږ مخکې ورغی او پرمامور خلقي یې میګاروف توپنچه ونیول اوپوره څلور ډزې یې پر سر وویشتی له ډزو سره مصطفی د موټرسیکل ریز کش کړی اود موټر سیکل اواز زیات لوړ شو خلګو یوې خوا اوبلې خواته منډه کړه خوخالد پرې چیغه کړه او ورته یې ووېل یو هم د تیښتې هڅه ونه کړئ هر سړی په خپلو ځایونو ودریږئ چې زه درته یو څو خبرې کوم اوزما خبرې د زړه په غوږونو واورئ چې ماښام کورته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړاست بیا پرې فکر وکړئ او وروسته الله ج حاضر وګڼئ اوبیا د ایمان په محکمه کې پرې فیصله وکړئ چې زه ښه وایم که بد.

خالد خپلې خبرې په قهرجنه لهجه داسې شروع کړې ای ځوانانو تاسې په رشتیا د احمدشاه ابدالي بچیان یاست ؟

ایا تاسې په رشتیا د غازي محمداکبرخان زامن یاست؟

ایا تاسې رشتیا د هغه کسانو زامن یاست چې چنګیز ګورګین روس اوانګریز ته یې په ځوځله ماتې ورکړه؟

زه خو فکر کوم چې تاسې هغه نه یاست اویا موځان نه دی پیژندلی تاسې خپل تاریخ مطالعه کړې چې ستاسو پلارونو له اشغال اوغلامي سره څومره تضاد درلودی ای که تاریخ نشئ مطالعه کولی لږ خودې پورې هدیرې ته وګورئ چې ولې پر ځینو قبرونو رنګه بیرغونه رپیږي؟

تاسې خو موله مشرانو پوښتنه وکړئ چې ولې اکثره یتیمان یاست ؟

ایاخبر یاست چې ستاسو داکثرو پلارونه د ازادی لپاره شهیدان شوي خونن بیا سور کفر پر وطن راغلی تاسې بې غمه ناست یاست خپل فوټبال کوئ د پروني روس اوننـي امریکـا هـیڅ فـرق نـشته دواړه کـافران دي دواړو پـر مسلمانانو یرغل کړی پرون روس دټانګ په زور راغلی وو نن امریکایـان د بې دوه پنځوس په زور راغلی ده هیڅوک په تاسې کې نشي کولای چې د روس او امریکایي داشغال ترمنځ فرق وکړي نو چې وطن اشغال دی جهاد داسې فرض عین دی لکه لمونځ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جل جلاله په قرانکریم کې سورة بقره دوه سوه شپاړسم ایت کې فرمايي:

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ وَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئاً وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسَى أَن تُحِبُّواْ شَيْئاً وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ

ترجمه: تاسې ته د جنګ امر شوی دی اوهغه تاسې ته ناکاره دی کیدای شي چې یوشی تاسې ته ناکاره وي اوهم هغه ستاسې لپاره ډیر غوره وي اوکیدای شي چې تاسې یوشی خوښوی مګر هغه ستاسې لپاره بد وي الله جل جلاله پوهیږي تاسې نه پوهیږئ.

نو ای ناخبره ځوانانو جهاد دریاندې فرض عین دی پاڅیږئ خپل غاړې د الله جل جلاله په وړاندې خلاصې کړئ له مرګه مه داریږئ تاسې مومنان یاست که په دې لاره کې ووژل شئ شهیدان یاست چې د الله ج په وړاندې تر ټولو غوره مرګ همدا دی ایا تاسې به ورځ ترقیامته ژوندی یاست؟ نه زه درته قسم په الله جل جلاله کوم چې یوه ورځ به ټول مړه کیږئ نو چې په دې باوري یاست چې یوه ورځ مرو نوبیا غوره نه ده چې په هغه مرګ مړه شو چې پیغمبرانو یې تمنا او امید کړی پیغمبرانو په هم هغه مرګ پسې ارمان کړی وي؟

۱ ⁘ جل جلاله په قرانکریم سورة بقره یوسل اوځلورپنځوسم ایت کې فرمايي:

وَلاَ تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: اوهغوخلګو تـه چې د الله پـه لار کې ووژل شي مړه مـه وایاسـت داسې خلګ خوپه حقیقت کښې ژوندي دي خوتاسې شعور نه لرئ چې د هغوئ په ژوند خبر شئ.

نو ایاتاسې له هغه مرګه تیښته کوئ چې الله ج ورته ژوند ویلی دی؟

ایاتاسې به ورځ د قیامت د الله ج دې پوښتنې ته جواب ورکړې چې درتـه ووایي چې په تامې جهاد فرض کړی وؤ تـا ولـې نـه کـاوه سره لـه دې چـې ځوان روغ اوسالم هم وې؟

ای ځوانانو تاسې دافکر مه کوئ چې موږ اسـلحه نـه لـرو ضـعیف اولـږ یـو زموږ ستاسو هغه نازولو خلګو د بدر په غزا کې پنځه اسان درلودل په داسې حال کې چې کفارو ترسل زیات اسان درلـودل او دصـحابه شـمیرله کفـارو درې چنده کم و مګر الله یې بری اوفتحه په نصیب کړه پرون مـو پلارونـو د روسانو له ټانګونو سره د اور په بوتلو جنګونه کول اوهغوئ ته یې شکـست ورکړی که نن هم موږ د الله په لاره کې جهاد شروع کړو الله به زمـوږ مرسـته کوي اوالله به همداکفار زموږپه ضعیفو لاسونو ماتوي نو د غفلـت لـه خوبـه رابیدار شئ کفارو مو وطن اشغال کړی او زموږ مسلمانې خورګـانې یـې پـه ګوانتنامو کې بندیانې کړې پـه پـای کـې بایـد ووایـم چـې دامـامور خلقـې موځکه وواژه چې د صلبانو جاسـوس و اوهغـوئ تـه یـې جاسـوسي کولـه اوکفار یې په دوستي نیولي وه او دهغوئ په صف کې د هغـوئ ملګـری وؤ چې الله ج د داسې کسانو مرګ رواکړی او هغوی د همدې کفـارو لـه ډلـې بللي دي.

الله په قرانکریم سورة المایدة یوپنځوسم ایام کې فرمایي:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَٰأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَتَّخِذُوا ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ

ترجمه: ای مؤمنانو یهودیان اوعیسویان خپل ملګري مه نیسئ دوئ په خپلو منځو کښې سره ملګري دي اوکه ستاسې څخه څوک هغوئ خپل ملګري نیسي نوبیا هغه هم په هم هغو کښې شمیرل کیږي په دې کښې شک نشته چې الله ظالمان له خپلې لارښونې څخه بې برخې کړي دي.

الله موږ له کفارو د ملګرتیا او غلامۍ څخه منعه کړي یوؤ لکه څنګه چې زموږ پلارونو خلقیان اوپرچمیان په همدې خاطر وژل چې د کفارو غلامي یې کوله نوموږ هم هغه کسان وژنو چې د امریکایانو غلامي کوي اودهغوی په لاس جوړ شوي حکومت کې کار کوي تاسې خپل ټول دوستان اوملګري د حکومت له کاره راوګرځوئ کنه د هر یوبه همدا انجام وي.

له دې خبرو وروسته خالد مصطفی ته په لاس اشاره وکړه هغه هم بیرته د موټرسیکل مخ راوګرځوی او خالد موټرسیکل ته وختی او روان شول دماښام لمانځه ته د مصطفی د اخښي کور ته ورسیدل هلته یې دشپې د مصطفی اخښی هم له جریانه خبر کړی او ورته یې وویل چې دوئ دواړه وطن ته د جهاد لپاره راغلي دي هغه هم ورسره د مرستې اوهمکاری پوره وعده وکړه مامور خلقي د کلي خلګو کور ته راوړی او دابله شپه په بي بي سي راډیو کې په خبرونو کې وویل شول چې طالبانو په هلمند کې یو کس په دې خاطر وواژه چې د مکتب ښوونکی وؤ د مامورخلقي له وژلو وروسته په سیمه کې د حکومت کسان زیات په ډار کې ګرځیدل او د حکومت عسکرو هم د خلګو زوروول زیات کړل اوهره ورځ یې هغه کسان د طالب په نامه نیول چې ډیره به یې درلودل مصطفی اوخالد پرته له کومه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داره خپل فعالیت په تیزی سره روان کړی ول یوه میاشت وروسته مصطفی اوخالد اته کسان ملګری پیداکړه هر ملګری یو کلاشنکوف د کوره لخځه راوړی یوه شپه اته سره ملګرو د کلي پر پوسته حمله وکړه اوپه پوسته کې ناست دولس پولیس چې ټول معتادین وه ووژل او اسلحې یې له ځان سره یوورې په دې پوسته کې مصطفی اوخالد ته دوه پیکا دوه راکټه او اته میله کلاشنکوف څلور مخابرې درې موټرسیکله یو سراچه موټر او زیاتې مرمی په لاس ورغلې.

لس ورځې پس ورته راپور راغی چې د ولسوال معاون کور ته راغلی اوسهار وختي په خپل موټر کې ولسوالی ته ځې مصطفی اوخالد هم ورته کمین ونیوی او هغه یې وواژه د هغه سراچه موټر او یوه میګاروف توپنچه یې هم غنیمت کړه د مصطفی اوملګرو شمیر یې ورځ تر بلې زیاتیدی او خلګو ورسره د پیسو مرستې هم زیاتې کولې یوه شپه مصطفی اوملګرو یې د کلي تر ټولو لوی مسجد ته د ماخستن دلمانځه پر مهال ورغلل او په جماعت کې ناستو کسانو ته یې وویل چې ټول پر خپلو ځایونو کښینئ موږ مجاهدین یو فقط درته یو څو خبرې کوو په دې وخت کې مصطفی خالد ته اشاره وکړه خالد هم منبر ته راغی اوپه خپل زړه وړونکې غږ یې څو اَیتونه تلاوت کړه اوبیا یې خبرې داسې شروع کړې.

قال الله تعالی فی القرانکریم

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ج په قرانکريم کې سورة توبة يو سل يولسم ايت شريف کې فرمايي:

حقيقت دادی چې الله تعالی لـه مؤمنانوڅخه د هغوئ نفسونه او دهغوئ مالونه دجنت په بدله کښې اخيستي دي هغوئ د الله په لار کښې جنګيږي نو دوئ کافران وژني او وژل کيږي له هغوي سره په تورات انجيل او قران کښې د جنت وعده د الله پر ذمه يو کلکه اوپخه وعده ده څوک دی چې د الله څخه زيات د خپلې ژمنې پوره کونکی وي نو خوښ اوسئ په خپلې دغې سودا سره چې له الله سره موکړې ده همدا تر ټولو ستر برياليتوب دی.

مسلمان ولسه! تاسې به خبر ياست چې دلته کفار راغلي دي او جهاد فرض عين دی نو موږ هم فقط د الله تعالی لپاره راوتلي يوؤ او د پورتني ايت مطابق له الله سره مو دخپل سر سودا کړې له الله تعالی څخه د خپل سر په بدل جنت رانيسو قسم په رب کوم چې داسې ورځې هر وخت پر موږ راځي چې موږ دوه ورځې وږي. ګرځو لوږه سترړيا او بې خوابی زموږ سره هره ورځ ملګرې وي خو ای پر کور ناستو اود جهاد څخه غافلو خلګو کوم خوند چې په دې سترړيا لوږو او شب ګيرو کې دی والله بالله که د دنيا په يوه خوشحالی کې هم وي دومره د زړه سکون او ارامتيا چې زموږ سره ده په الله قسم که يې تاسې په دنياکې په يوه کار کې هم پيداکړئ د جهاد ذکر الله ج په قران کريم کې په څلورسوه څلور اتيا ايتونو کې کړی دی الله تعالی جهاد تر ټولو غوره اوبهتره عمل ګڼلی دی، الله په شلو سورتونو کې د جهاد يادونه کړې ده، مجاهدين د الله غوره بنده ګان دي، الله تعالی پـه قرانکريم سورة صف لسم او يولسم ايت کې فرمايي: **أَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَٰرَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ**

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ

ترجمه: ای مؤمنانو ایا تاسې ته زه هغه تجارت وښیم چې له دردناک عذاب څخه مو ژغوري؟

هغه عمل پر الله اود هغه پر پغمبر باندې ایمان راوړی اود الله په لاره کې په خپلو مالونو اوخپلو ځانونو سره جهاد وکړئ همدغه ستاسې لپاره بهتره ده که تاسې پوهیږئ.

همدارنګه په ډیرو حدیثونو کې د جهاد فضلیت بیان شوی دی چې دهغوئ ټولو یادول دلته زما له وس څخه لوړ دي.

په یو حدیث شریف کې چې مقدام بن معدی کرب رانقل کړی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: د الله تعالی په نزد د مجاهدینولپاره لس خصلتونه دي اول داچې دلومړي څاڅکي وینې په تویدلو سره ورته ټول ګناهونه بخښل کیږي د مرګ څخه مخکې خپل مقام په جنت کې ویني د قبر له عذابه ژغورل کیږي د قیامت له ویرې څخه په امان وي د قیامت په ورځ یې پر سر یې یو تاج ایښودل کیږي چې یو یاقوت یې له دنیا اومافیها څخه بهتره دی دوه اویا حورې ورکول کیږي د دوه اویا کسانوشفاعت کولای شي، نو ای مؤمنانو! نور دغفلت له خوبه بیدار شئ او جهاد شروع کړئ د کفارو په تبلیغاتو ځانونه مه خطاکوئ د دې پر ځای چې د کفارو راډیو ته غوږ ونیسئ او د هغوئ په تبلیغاتو اکتفاء وکړئ نو قران کریم او احادیث مطالعه کړئ له حقیقي عالمانو څخه پوښتنه وکړئ لومړی خو خپله ټوپک واخلئ جهاد شروع کړئ که موهغه له وسه پوره نه وي د مجاهدینو حمایت وکړئ هغوئ ته پیسې ډوډی اوکورکې ځای ورکړئ که

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم نشي کولای نو په زړه کې له کفارو څخه نفرت کوئ خبردار به مجاهدینو پسې بد رد ونه وایاست چې حشر به مو له همدې امریکایانو سره شي هر څوک چې له امریکایانو سره یوځای په مجاهدینو پسې بد وایې او یا د مجاهدینو په مقابل کې سنگر نیسي نو د هغوئ د ایمان د تللو ویره ده.

گرانو کلیوالو! نور مو وخت نه نیسم په الله تعالی موسپارم که په تاسې کې څوک زموږ له ملگروڅخه غوښتنه لري نو مهرباني وکړئ ولاړ دې شي له دې خبرې وروسته یو کلیوال په لومړي صف کې ولاړ شو او ورته یې وویل چې ستاسې مشر کوم یو دی مصطفی چې د جماعت په دروازه کې ولاړ وو کلیوال ته وویل چې مشر یې زه یم کلیوال مخ شاته د مصطفی خواته را واړوی اوبیا یې په خندا کې ورته وویل چې تاخومخ په څادر تینگ تړلی نو زه به څنگه تاوپیژنم مصطفی هم ورته وخندل او ورته یې وویل چې خیر ته که مې ونه پیژني زه خو دې پیژنم او خدمت دې راته ووایه کلیوال ورته وویل چې ډیره موده کیږي چې دایوه پښه مې د زنگون څخه پاس درد کوي که ته راته یو دم پرې وکړې الله تعالی ته امید لرم چې ښه به شي څکه تاسې د الله تعالی غوره بنده گان یاست مصطفی هم مخکې ورغلی او دکلیوال پر پښه یې دم وکړی اوبیا یې په موسکا کې ورته وویل بابا که د مجاهدینو سره کومک وکړئ الله تعالی به شفاء درکړي کلیوال هم سر ورته د هوپه ډول وښوراوه نور مصطفی او ملگري یې له جماعته بهر راووتلل او ترې روان شول د خالد خبرو د کلي د ډیرو خوانانو ویده ضمیرونه راویښ کړل او ډیرو خوانانو به هره ورځ په خپلو منځونو کې د جهاد کیسې کولې دکلي اکثروخوانانو غوښتل چې جهاد وکړي مگر یواځینی مشکل دا وو چې دوئ ته د مجاهدینو خاص ادرس معلوم نه وو اوهغه خوانان چې د مصطفی سره یوځای شوي وه هغوئ هم دا مشکل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودی چې اسلحه ورسره نه وه په پنځو کسانو به یې یو کلاشنکوف او درې شاه جوره مرمی درلودلې د مجاهدینو شمیر په دې وخت کې تر سلو زیات وؤ خو هر مجاهد په خپل کور کې اوسیده او دشپې به بیا ټول پر ټاکلي ځای سره یوځای کیدل یوه شپه مصطفی خپل شل ملگري سره راټول کړه او ورته یې وویل چې نن شپه پر ولسوالی او اړونده پوستو حمله کوو ټول خوشحاله شول یو بل ته یې د خوشحالی ځخه غاړې ورکولې مخکې له دې چې مخ د ولسوالی پر طرف حرکت وکړي مصطفی خالد ته وویل چې یوڅو خبرې د نصحت په ډول مجاهدینو ته وکړه او هم د بریالیتوب لپاره دعا وکړه خالد هم مخکې خواته راغلی او د اعوذبالله اوبسم الله ویلو وروسته یې وویل:

ای د اسلام په خاطر سربښندونکو ځوانانو زما مور اوپلار او زماځان دې تر تاسې قربان شي قسم په الله تعالی خورم چې تاسې د دنیا ترټولوغوره بنده گان یاست تاسې هغه کسان یاست چې د الله تعالی پرته موبل چاته سر نه دی ټیټ کړی تاسې تر ټولو غټ جابر امریکا سره ډغره فقط د الله تعالی لپاره وهی تاسې د هغه چاسره نن په تش لاس جنگیږئ چي د ټولې نړی انسانانو په خدایي نیولی ده اود همدې امریکایانو غلامي کوي زړه سه راتیرو ملگرو داچې وخت لنډ دی زیاتې خبرې نشم کولای نو فقط درته د جهاد اړوند یوڅه معلومات درکوم جهاد په لغت کې کوښښ اوزیار ته وایي او دشریعت په اصطلاح کې د الله تعالی په لار کې د کفارو اود هغوئ د ملگرو سره خاص دالله لپاره جنگ ته وایي د جهاد اهداف په قرانکریم کې ذکر شوي دي:

اول چې د اسلام دعوت غالب اومحفوظ شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم: د مستضعفينو مسلمانانو سره مرسته اوکومک وشي.

دريم: د هغه قوت ماتول چې د مسلمانانو پرخلاف يي سرکښي کړې وي

جهاد هغه وخت ښايست مومي چې د دعوت خلاف مانع پيداشي اويا پر مسلمانانو کفار تيری وکړي چې په اول صورت کې فرض کفايي اوپه دوهم صورت کې فرض عين دی داچې نن پر افغانستان کفارو يرغل کړی نو جهاد پر هر نارينه اوښځينه فرض عين دی اوپه دې وخت کې زوی ته د مور پلار اوښځې ته د ميره د اجازې ضرورت نشته دوئ کولای شي چې بغير له اجازې جهاد ته ولاړ شي د جهاد شرايط دادي: چې شخص به مسلمان ازاد نارينه عاقل بالغ به وي پرمعذور جهاد فرض نه دی.

الله تعالی په قرانکريم سورة توبة پنځم ايت شريف کې فرمايي: **فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ**

ترجمه: مشرکان ووژنئ هرچيرته چې يي ومومئ اوهغوئ ونيسئ اوحصار يې کړئ اوپه څارنځای کې د هغوئ د وژلو لپاره کښينئ.

الله تعالی په قرانکريم کې په بل ايت شريف کښې داسې فرمايي: **وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلّهِ فَإِنِ انتَهَواْ فَلاَ عُدْوَانَ إِلاَّ عَلَى الظَّالِمِينَ ١٩٣**

ترجمه: ای مؤمنانو تاسوله دې کفارو سره تر هغه وجنګيږئ چې تر څو يوه فتنه هم پاتې نشي او ټول دين د الله تعالی لپاره وګرځيږي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرانو ملگرو د جهاد غوره اوبهتره نیت د الله تعالی رضا او شهادت دی پوهیږم چې موږ اوتاسې ټول فقط د الله تعالی د رضا لپاره راوتلي یوؤ څکه هیڅوک موږ اوتاسې ته نه پیسې اونه بل کوم دنیاوي امتیاز راکوي اوپه پای کې الله تعالی ته دعا کوم چې یاالله که به موږ ستا د رضا لپاره راوتلي یوؤ موږ ته فتحه اوبریا نصیب کړه یا الله ج زموږ نصرت وکړه خالد په داسې حال کې دعا خلاصه کړه چې ټولو ملګرو یې ژړل او خالد همدومره ژړلي وه چې مخ یې په اوښکو لوند و ورروسته مصطفی خپلو ملګرو ته وویل موږ اوتاسې شل کسان پر ولسوالی حمله کوو پوهیږم چې هلته به تر سلو زیات کسان وي خو بری په زیاتوالي کې نه بلکې په اخلاص او د الله تعالی په نصرت کې دی دجنګ لپاره مې تاسې پردرې ګروپه ویشلي یاست چې د لومړي کروپ کسانو سره به یوه پیکا اویو راکیټ وي او د شمال له طرفه به د ولسوالی پر دفاعي پوستو لومړی د راکټ ډز کوي اوبیابه د پیکا ډزې پر شروع کوي په منډه به پوسته فتحه کوي چې د دې کسانو شمیر به پنځه کسان وي او دوهم ګروپ کسان به د شرق له طرفه د ولسوالی پر ودانی حمله کوي او د دوئ سره به یو راکیټ یوه پیکا او درې کلاشنکوفه وي دریم ګروپ کسان به د ولایت مرکزخواته زموږ څخه لیرې په کمین کې ناست وي او درې کلاشینکوفه او یوه توپنچه به ورسره وي که چیرې الله ج فتحه رانصیب کړه نو تښتیدلی دښمن به دوئ په لاره کې تر حملې لاندې نیسي اودابه هم پنځه کسان وي د اول ګروپ مشر خالد د دوهم ګروپ مشر زه خپله او د دریم ګروپ مشر میوند دی اول به حمله لومړی ګروپ شروع کوي خوتر هغه به انتظار کوي چې تر څو په مخابره کې ماورته ویلي نه وي خوهر ملګری له مرمیو سره پام کوي یو یو ډز کوئ مرمی بیخي زیاتې کمې دي همدا لس

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاجوره دوه شریده او دځلو د راکېټ مرمی مو هم د تعرض او هم د دفاع دي.

وروسته له دې خبرو ټول کسان د خپل هدف په لور روان شول خالد خان دپوستې پنځوس میتري ته ورساوه او د مصطفی امر ته انتظار شو خو د مصطفی تر امر مخکې خالد نور هم پوستې ته په داسې حال کې ورنږدې شو چې په لاس کې یې راکټ وو خو پوسته کې خاموشي وه خالد نورهم پوستې ته ورنږدې شو خو داخل یې ولیدل چې دپوستې په دروازه کې یو کس ناست دی او تاریاک څکوي او لاسي برق یې خان ته لګولی دی خالد د شاه له طرنه ورغی او پر ناست کس یې ورمنډه کړه او څنګ کې پروت کلاشنوف ته یې ورحمله کړه او ترې راپورته یې کړی ناست کس چې مکمل نشه وو داسې فکر یې وکړی چې خپل ملګری یې دی نو یې په ګنګوړه اوازیې ورته وویل ماشین مه ښوروه راځه نشې ته نن مې عجبه مزیدار تاریاک پیداکړي خالد هم پوه شو چې سړی نشه دی نو ژر شانه شو او ملګرو ته یې وویل راځئ مخکې پیره دار نشه دی دادی ټوپک یې لا ما راوړی ملګرې یې هم ورپسې شول او کله چې د پوستې دروازې ته ورسیدل نو یو کس پر ناست کس دده کلاشنکوف ونیوی او ورته یې وویل چې ارام کښینه اولاسونه دې شانه واړوه اوسمدستې یې د پیره دار لاسونه وتړل اوټول په منډه پوستې ته داخل شول او درو کسانو پر بیده کسانو یو کلاشنکوف یو راکټ یو پیکا ونیول او خالد په لوړ غږ پرې چغه کړه چې یو هم له خپله ځایه ونه ښورئ وروسته هغه نورو دوه کسانو یو یو له بیستره راپورته کاوه اولاسونه یې ورته تړل دپوستې ټول کسان چې شمېر یې دیارلس کسان و ژوندي ونیول کله چې مصطفی د ولسوالي ودانی ته نږدې ورسیدی نو پر خالد یې غږ وکړی چې پر پوسته جنګ شروع کړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوخالد ورته وویل چې ما مخکې لا خپله پوسته فتحه کړه او دولس کسان مې ژوندي ونیول مصطفی ورته وویل چې ته د پوستې له منځه یوځو دزې وکړه؟

تر ځو عسکر د ولسوالی له مرکز څخه د پوستې طرف ته درشي موږ به دلته پر ولسوالی حمله وکړو او هغه کسان چې هلته درغلل تاسې جنګ ورسره وکړي خالد لوړی ټول نیول شوی عسکر د دوئ په خپلو ټوپکانو ووژل کله چې د ولسوالی عسکرو د فاعي پوستې منځ کې دزې واوریدلې نو د پوستې په طرف یې منډه کړه ډیر کم عسکر په ولسوالی کې پاته شول چې په دې وخت کې د مصطفی ګروف د ولسوالی پر ودانی حمله شروع کړه او په ډیر لږ وخت کې یې ولسوالی هم فتحه کړه ولسوال او نور مشران موټر ته وختل چې تر ځو د ولایت مرکز ته ځان ورسوي خوپه لاره کې دمیوند دګروپ په کمین کې وختل چې ټول ووژل شول اود میوند یوملګری هم شهید شو اوپاتې عسکرو هر یو په خپله مخه منډې وهلې جنګ دوه ساعته دوام وکړی او زیات عسکر ووژل شول وروسته مصطفی اوخالد ګروپونه سره یوځای شول او ټوله وسله یې راټوله کړه د ولسوالی او پوستې ودانیو ته یې اور واچوی او د میوند ګروپ کسانو هم له وژل شویو کسانو څخه اسلحه راټوله کړه او موټران یې وسوځول اوخپل شهید ملګری یې راواخیستی او راروان شول د شپې درې بجې ټول بیرته سره یوځای شول ټول ملګري زیات ستړي وه خومصطفی خالد ته وویل چې تاسې په تلوار د شهید جسد هغه پورې هدیرې ته یوسئ زه اونور څلور ملګري به نیول شوې اسلحه په ځمکه کې ښخه کړو خالد هم ورسره ومنل خالد او دبارلس نورو ملګرو د خپل شهید ملګري جسد هدیرې ته راوړی او قبر یې ورته وکیندی اول یې د جنازې لمونځ یې ورکړی اوبیا یې ښخ کړی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته خالد د خپل ملګري د قبر سر ته ودرېدی او ملګرو ته یې وویل ایا تاسې خبر یاست چې شهادت څومره لوړ مقام دی ؟

الله تعالی په قرانکریم سورة ال عمران یو سل اونهه شپیتم ایت کې فرمایي: وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ

ترجمه: هغه کسان چې دالله په لار کې ووژل شي پر هغوئ د مړو ګمان مه کوئ بلکې هغوئ ژوندي دي اوالله په نزد رزق ورکول کیږي.

نو زموږ اوستاسې ملګری مړنه بلکې ابدي ژوندون ته یې لار وموندل الله تعالی شهادت ته زیات فضیلت ورکړی.

نو زه لومړی خان اوبیا تاسې ته د دې ملګري د شهادت مبارکې وایم

له دې خبرو وروسته خالد اوملګري دهدیرې څخه راروان شول او له لږمزل وروسته خالد ملګرو ته وویل چې نور هر یو خپل کور ته ولاړ شئ او دا راز له خان سره امانت وساتئ خالد او مصطفی هم سره یوځای شول او پر موټرسیکل سپاره شول او دښت ته وختل سهار په تولو ولسوالی کې خلک حیران وه او پر اته بجې د امریکایانو هلکوپتر ته طیارې هم راغلې او مړی یې ولایت ته انتقال کړه مابنام د تولو رسنیو همدا د سر خبر و چې د هلمند پر مارجه ولسوالی دوه نیمه سوه طالبانو حمله کړې وه او د ولسوال په ګډون یې اته پنځوس حکومتي عسکر وژلي او څه باندې دیرش کسان یې ټپیان کړي دي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او رسنیو داهم ویل چې د طالبانو څخه هم دیرش کسه وژل شوي چې اکثره یې پنجابیان اود پاکستاني فوجیان دي له دې حملې دوه ورځې وروسته سیمې ته نور عسکر راغلل اویو هفته وروسته امریکایانو هم یوه غټه قرارګاه د ولسوالۍ ترڅنګ جوړه کړه اوهمدلته خپله میشته شول له دې وروسته په سیمه کې حالات بدل شول زیاتو حکومتي کسانو خپل کورونه د ولایت مرکز لښګرګاه ته انتقال کړه او امریکایانو هم نور هره ورځ په سیمه کې ګزمې شروع کړې چې خالد هم له ماینو څخه په کار اخیستنه شروع وکړه اونور ملګري یې هم په ماین جوړولو اوخښولو کې وروزل نور نو داسې ورځ وه نه وه چې امریکایانو دې خپل یو ټانګ د لاسه نه ورکولای اوهره ورځ به مصطفی او خالد ملګرو ته د ژیړې بوشکې څخه ماینونه جوړول او هغوئ به ورته خښول مصطفی او خالد په درې میاشتې کې د امریکایانو نهه څلویښت ټانګان په ماینونو والوځول نور به هره ورځ امریکایان له ماین او کمین سره مخ وه یواځې هلمند کې نه بلکې په هر ولایت کې د مصطفی اوخالد غوندې د کور څخه شړل شوي په دین مین ځوانانو د طالبانو په نوم د امریکا د ظلم او دهشت په مقابل کې دسر په بیه سنګرونو ته رادانګلي وه د طالبانو شمیر ورځ تر بلې زیاتیدی او هغه طالبان بیا راڅرګند شوی وه چې یو وخت یې خلګو بیا تصور لا بې عقلي بلل او هغه امریکا یې ننګول چې نړیوالو ورسره ډغره لیونتوب باله.

مصطفی اوخالد ټول کلی له امریکایانو ازاد کړه او امریکایان یواځې په خپلو قرارګاو کې محاصره شول په کلې کې طالبان ازاد ګرځیدل یوه ورځ مازدیګر خالد د مصطفی ته وویل:

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد مصطفی له ډيرې مودې وروسته مې بيګاه خپل مور په خوب ليدل او داسې ښکاريده لکه زما واده چې وي او زيانه خوشحاله وه

مصطفی: هههههه پوه شوم چې واده غواړې اشنا.

خالد: نه قسم توکې نه کوم رشتيا مې په خوب ليدل.

مصطفی: ښه الله تعالی دې وبخښي خير زه به واده درته وکړم خکه مور دې په قبر کې خوشحالږي.

خالد: هلکه چوپ شه ته څه خبر يې چې زما مور به وفات شوي وي کيدای شي هغه هم ماغوندې الله تعالی ساتلې وي.

مصطفی: څه خير الله تعاالی دې همداسې کړي حو اوس که ژوندۍ وي تو نه به يې څنګه وپيژنې اوهغه به تا څنګه وپيژني.

خالد: آه کم عقله مور تو هم له چا ورکيږي؟

مصطفی: ربنتياهم بخښنه غواړم ماتوکې کولې خوته غمجن شولې الله تعالی دې له خپل مور سره يوځای کړه.

خالد: الهم امين.

مصطفی: خو کوزده درته ربنتيا کوم.

خالد: هههههه ياره زه دوه اويا کوزدې او ودونه کوم هغه هم په جنت کې

مصطفی: هغه به هم وکړې دابه هم وکړې؟

خالد: ههنهنهه هلکه ستا لکه چې خپله کوزدن ته زړه کيږي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی: نه نه ماویل که تا کول.

خالد: هههه بس پوه شوم دادی ولاړم او که مې ئن ستا مشر ورور ولیدی نو ورته وایم چې مصطفی ته کوزده وکړه.

مصطفی: وا هلکه چیرته ځې ؟

خالد: زه ځم موټر بیایم هلته مې د یوځا سره مرمی وعده کړې هغه راڼیسم

مصطفی: ورځه الله تعالی دې مل شه.

خالد: له دې وروسته موټر ته وختی او روان شو خو د مصطفی تر کلي لا نه و وتلی چې جیټ طیاره بنکته راغلل او په زوره غروز شو او د ځمکې ځخه دودونه اسمان ته پورته شول مصطفی پوه شو چې بمبار وشو ژر یې موټرسیکل له کوره ر ریستی او پر سپور شو د دود خواته په تیزی ور روان شو کله چې د دود ځای ته ورسیدی کلیوال یې ولیدل چې په کروندو کې ګرځي او یو موټر چې له پیژندلو وتلی دی هلته په پټي کې له سرکه لیری چپه پروت دی او دودونه ترې پروته کیږي خو له یو کلیوال یې پوښتنه وکړه چې موټر د چا و هغه جواب کې ورته وویل چې ستا ملګری ملاخالد پکې سپور و مصطفی په لوړ اواز چغه وکړه او ورمنډه یې کړه او بل کس یې له ګریوان ونیوی چې خالد څه شو هغه ورته وویل چې خالد نور ورک دی هغه یو څه لږ غوښې یې په څادر کې پیداشوې ستری عرب مجاهد خالد هم د خپل رب لپاره ځان ټوټه ټوټه کړی او د خپل مور پلار په قدم بې قدم کیښودی او د تل لپاره د هغوی سره یوځای شو د خالد د ماشومتوب هغه ارمان پوره شو چې شپه او ورځ به لالهانده پسې ګرځیدی او بسې ژړل به یې خالد خپل مور پلار په دې ورځ پیداکړه خو مصطفی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې يواځې غمونو ته پرېښودي او مصطفی ډېر زيات څکه تاواني شو چې خالد د مصطفی لپاره هر څه و اوهغه يې له لاسه ورکړی اوهر څه يې ولاړل مصطفی په دې وخت کې تر دوه سوه هم زيات ملګري درلودل خو دده ژوند بيا په خالد ښايسته وؤ خو مصطفی پر هغه ځای ولاړ او د خالد لږ غوښې يې په لاس کې نيولې وې اود خالد د څو دقيقو مخکې خبرې يې په ذهن کې ګرځيدلې ناڅاپه يې چيغه کړه او په لوړ غږ يې وويل اه خالده تاخو رښتيا دوه اويا ودونوپه جنت کې وکړه ته خو رښتيا له خپلې مور سره يوځای شوې ستاخوب رښتيا و رښتياهم ستانن واده دی او ستامور زياته خوشحاله ده خو هی ناځوانه زه دې يواځې پرېښودم پر هره سخته کې به زه اوته ملګري وؤ خونن ته يواځې ولاړې.

کله چې خلګو دده خبرې واوريدلې نو فکر يې وکړی چې مصطفی اعصاب دلاسه ورکړه خو خلګ د مصطفی ژړا ته حيران وه څکه مصطفی په غيرت او بهادری کې نوم درلودی مصطفی لاهمدا فرياد کاوه چې ملګري يې هم د پيښې ځای ته راورسيدل ميوند ورمخکې شو او ورته يې وويل چې فرياد نور بس کړه چې ټول ملګري بيا حوصله بايلي مصطفی چې کله د ميوند خبره واوريدل نو ځان يې کنټرول کړی او د خالد غوښې يې د ميوند په لاس ورکړې او خپله موټرسيکل ته وختی او روان شو او کور ته راغی او پر خپل مور يې د خالد د شهادت زيری وکړی اوپه کور کې يې له سترګو اوښکې بهيدلې او اطاق ته ننوتی خو مور يې پسې ورغلل اورته يې داسې وويل:

ګرانه زويه باور وکړه چې پر ما باندی ستا اوخالد فرق نه وو خالد زما زوی غوندې و خو که ته هم شهيد شې زه به ونه ژاړم څکه تابه ويل چې شهيد

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړ نه دی ژوندی دی نو زه ولې پر ژوندی وژاړم ایا په دې لار کې حضرت حمزه رضی الله عنه نه دی شهید شوی، نو چې د سرور کاینات تـره شهید شوی نوته او خالد څوک یاست چې قرباني نه ورکوئ.

مصطفی د مور خبرو ډیر حیران کړی او ژړا یې بس کړه او په ډاډه زړه بهر راووتی لږ شیبه وروسته میوند موټر راوستی اود خالد غوښې یې په کفن کې پیچلې وې او د مصطفی د کور مخ ته یې ودروی او دکلي ملاصاحب تـه یې وویـل چـې جماعـت کـې اعـلان وکـړی چـې خالـد شـهید شـوی او د مـازدیگر لمانځـه وروسـته یـې جنازه ده هرمـسلمان ځـان حـاضر کـړئ د مازدیگر لمانځه وروسته په سلگونو کسان د خالد جنازې تـه حـاضر شـول چې د جنازې لمانځـه وروسـته مـصطفی ولاړ شـو او د څـو ایتونـو تـلاوت وروسته یې داسې وویل:

یقینا الله ج ټول غوره اعمال خلگوته بیـان کـړي دي پـه دغواعمالـوکې یـې جهاداودالله (په لار کې جنگ تر ټولو بهتر عمل گرزولی دی او پـه جهـاد کې یې شهادت ته ډیره اوچتـه مرتبـه ورکـړې ده او د جهـاد تـر نـورو ټولـو عملونو یې بهتر گرزولی او هم یې غټ ثواب پورې خاص کړی؛ له براء بن عازب (رض) څخه روایت ده: یـوکس چـې پـوره سـلاح ور سره وه پیغمـبر (ص) ته راغی او وې ویل: ای د الله (ج) پیغمبر (ص) جنگ وکـړم، او کـه مسلمان شم؟ پیغمـبر (ص) ورتـه وفرمایـل:» أسـلم ثـم قاتـل« اول مـسلمان شه او بیا جنگ وکړه ، نو مسلمان شو، او بیایي جنگ وکـړ، او شـهید شـو ، پیغمبر (ص) وفرمایل:» عمل قلیلا وأجر کثیرا« (۱)لیږ عمل یې وکړ، او ډیـر اجر ورکړی سو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پيغمبر (ص) د شهيد په حق کې فرمايلي دي:» إن للشهيد عند الله سبعة خصال يغفر له في أول دفعة من دمه و يرى مقعده من الجنة ويأمن الفزع الأكبر و يجار من عذاب القبر ويوضع على رأسه تاج الوقار، الياقوتة منه خير من الدنيا وما فيها ويزوج بإثنين وسبعين من الحور العين ويشفع لسبعين من أقربائه« (۲) يقينا د شهيد لپاره د الله (ج) په دربار کې وو۷ امتيازه دي [۱] له اول څاڅکي د وينو سره ګناهونه ورېښل کېږي [۲] اوپه جنت کې د اوسيدلو ځای يې ورليدل کېږي [۳] او د قيامت په ورځ به له هغه لويې ويرې بې غمه وي [٤] او د قبر له عذاب څخه به خلاص وي [٥] اوپه سر به يې د عزت تاج ورښودل کېږي چې يوياقوت به يې تر ټولې دنيا او څه چې په دنيا کې دي بهتروي [٦] اودوه اويا [۷۲] د جنت حورې به ورپه نکاح کيږي [۷] او د خپلو اويا [۷۰] خپلوانو لپاره به يې شفاعت قبليږي.

وګورئ هغه څوک چې جنت غواړئ! هغوامتيازونو ته چې الله (ج) د شهيدانو لپاره تيار کړي دي کوم چې لږ مخکې ياد شول.

په يو حديث شريف کې چې له انس (رض) څخه روايت ده راغلي دي: چې پيغمبر (ص) وفرمايل: » ما أحد يدخل الجنة يحب أن يرجع إلى الدنيا وله ما على الأرض من شئ إلا الشهيد يتمنى أن يرجع إلى الدنيا فيقتل عشر مرات لما يرى من الكرامة «(۱) هيڅ جنتي به دا نه خوښوي چې بيرته دنيا ته راوګرزي او څه شی چې په مخ د زمکې دي دا ټول د ده وي پرته له شهيده چې هغه به دا غواړي چې بيرته دنيا ته راوګرزي، او لس ځله د الله (ج) په لارکې ووژل شي؛ د هغه کرامت له جهته چې الله (ج) شهيد ته ورکړی اويوبل روايت کې د "من الكرامة" په ځای ، لما يرى من

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضل الشهادة « راغلي دي معنی د شهادت د هغه فضیلت له جهته چې وېني يې.

بلكه څوک چې د شهادت په غوښتلو کې کوشش او جهاد کوي الله (ج) دهغه لپاره درجې تیاري کړې دي؛ څکه له ابي هريره (رض) څخه روايت ده: چې پيغمبر (ص) وفرمايل: »إن في الجنة مائة درجة أعد ها الله للمجاهدين في سبيل الله ما بين الدرجتين كما بين السماء والأرض «(۱)يقينا په جنت کې سل درجې دي الله (ج) د مجاهدينو لپاره تیاري کړې دي، د هرو دوو درجو په منځ کې لکه له زمکې تر آسمانه دومره مسافه ده.

مسلمانانو ورونو! چې د مجاهد همدا درجې دي نو ستاسې د شهيدانو په در جو څه گمان ده؟ چې هغوئ به له صديقانو، او انبياؤ عليهم السلام سره وي بې شکه د هغوئ درجې ډېرې اوچتې دي . له مسروق رحمة الله تعالی عليه څخه نقل شوی ده: چې مو ږ له عبدالله بن مسعود (رض) څخه د لاندې آية په هکله وپوښتل { **وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتاً بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ** } [ آل عمران١٦٩]

ترجمه: هيڅ گمان مکوه په هغو کسانو چې په لار د الله (ج) کې وژل شوي چې هغوئ به مړه وي بلکه هغوئ ژوندي دي، د هغوئ د پروردگار(ج) په نزد دوئ ته روزي ورکول کيږي.

عبدالله بن مسعود (رض) وویل: چې موږ د دې آيت په هکله له پيغمبر (ص) وپوښتل پيغمبر (ص)وفرمايل: »**أرواحهم في جوف طير خضر لها قناديل معلقة بالعرش تسرح من الجنة حيث شاءت ثم تأوي إلى تلك**

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**القناديل فأطلع إليهم ربهم إطلاعة فقال: هل تشتهون شيئا؟ قالوا: أي شئ نشتهي ونحن نسرح من الجنة حيث شئنا ففعل بهم ثلاث مرات فلما رأوا أنهم لن يتركوا من أن يسألوا قالوا: يا رب نريد أن ترد أرواحنا في أجسادنا حتى نقتل في سبيلك مرة أخرى فلما رأى أن ليس لهم حاجة تركوا» (۱)**

د هغوئ اراوح ګانې به د زرغونو مرغانو په جوجورو کې وي ، د دوئ د اوسیدلو لپاره به په عرش پورې ځوړندې (ځالې) د څراغونو په شکل کې وي د جنت په هرجای کې چې یې زړه غواړي ځریږي به (منظره به کوي) او بیرته به هغو څراغونو (ځالو) ته راګرزي او یو ځلي به د دوی پروردګار (ج) ور ته رابنکاره شي، او ورته ووبه وایي: چې تاسې څه شئ غواړئ؟ هغوی به ووایي: موږ به نورڅه غواړو؟ په داسې حال کې چې د جنت په کوم جای کې چې زموږ زړه غواړي ګرزیدای شو، الله (ج) به درې ځلې دوئ سره دا سوال جواب وکړي، کله چې دوئ پوه شي چې بې غوښتلو د کوم شي نه پرینبودل کیږي، نو دوئ به ووایي: اي الله (ج) موږ دا غواړو چې زمونږ ارواح ګانې بیرته د موږ جسدونو کې ننه باسي، د دې لپاره چې موږ د تا په لارکې یو ځل بیا ووژل شو، کله چې دا ښکاره شي چې دوئ څه شي ته ضرورت نه لري پریښودل به شي.الله (ج) لا مخکې په هر څه عالم د ی خو له دې سوال جواب سره خپله دهغوی له خولې دا خبره راوزي چې دوئ حاجت نه لري.

شهید په همیشه بې زواله نعمتونو کې ده، له دې سره سره الله (ج) د ده ټول ګناهونه مخکې له دې چې جنت ته ننوزي وربښي او درجې یې ور لوړوي؛ له عبدالله بن عمرو بن عاص (رض) څخه روایت ده: چې پیغمبر (ص) وفرمایل: «یغفر الله للشهید کل ذنب الا الدين (۱)» الله (ج) شهید ته ټول ګناهونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وربښي، پرته له پوره(قرض) الله (ج) هغه مال چې د کوم کس په شهيد پور (قرض) وي نه وربښي، او له ابي قتادة (رض) څخه روايت ده: چې پيغمبر (ص) دموږ په منځ کې پاڅيدو، او دا خبر يې بيان کړه چې د الله (ج) په لار کې جهاد اوايمان تر ټولو اعمالو غوره دی، نو يو کس پاڅيدو او وې ويل: اي رسول الله !دا راته ووايه که زه د الله (ج) په لار کې ووژل شم گناهونه به مې وبښل شي؟ پيغمبر (ص) ور ته وفرمايل : «نعم إن قتلت في سبيل ا الله و أنت صابر محتسب مقبل غير مدبر «هو گناهونه به دې وبښل شي که ته ووژل شئ دالله (ج) په لارکې په داسې حال کې چې ته صابر، د ثواب غوښتونکی،په مخه روان وې او دښمن ته شا اړونکی نه وې، بيا پيغمبر (ص) ورته وفرمايل: «كيف قلت «تا څنگه سوال وکړ؟ هغه وويل: ماته بيان وکړه که زه د الله (ج) په لار کې ووژل شم گنا هونه به مې ووبښل شي؟ پيغمبر (ص) وفرمايل: «نعم وأنت صابر محتسب مقبل غير مدبر إلا الدين فإن جبريل عليه السلام قال لى ذالك «(۱)هو وبه ښبل شي که ته ووژل شئ په داسې حال کې چې ته صابر، د ثواب غوښتونکی، په مخه روان يې، شااړوونکی نه يې ټول به وبښل شي پرته له پوره (قرض) چې په شهادت نه ښبل کيږي څکه اوس ماته جبرئيل دا خبره وکړه.

الله (ج) په خپل فضل او احسان او کرم سره د شهيدانو ټول گناهونه وربښي پرته له پوره چې هغه نه ښبل کيږي، او که پور حق د الله (ج) وای هغه به يې هم شهيدانوته ور ښبلی وای خو هغه حق د بندگانو دی، څوک چې د جهاد اراده لري ورته ضرور ده چې هرچا پورکه وربانديې وي هغه خپلو مالکانو ته ورکړي ترڅو چې په غاړه يې هيڅ پور پاته نشي. له شهيد څخه په دوو حالونو کې پور اداء کيږي [۱] الله (ج) د قيامت په ورځ د شهيد پور پرې کوي که دې نوموړي د اداء کولو اراده لري خو عاجز وي مال نلري يا بل عذر ورته پيښ وي [۲] چې مجاهد شهيد شي او د پور د اداء کولو وخت لا نه وي راغلی. د پيغمبر (ص) سنت دا وو چې د کوم مړي په ذمه به پور وو د جنازې لمونځ يې نه وربانديې کول څو چې به هغه اداء نه کړای شو، او يا به دمړي کوم خپلوان ، يا بل کوم مسلمان به د هغه د اداء کولو ضمانت وکړي، نوکه پرخالد ستاسې د کوم يوه قرض پاتې وي غږ وکړئ چې زه يې ور ادا کړم خوهيڅا هم غږ ونه کړی.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مصطفی له وینا وروسته هر سړی خپل کور ته ولاړی او مصطفی د میوند اوخو نورو دلګیو مشرانو سره د میوند کور ته راغلل او د خالد پر ځای یې میوند خپل معاون وټاکی او ملګرو ته یې وویل که زه شهید شوم ستاسي مشر به همدا میوند وي او که میوند هم شهید شو ستاسي مشر به صادق وي خو جهاد به تر هغه پورې کوئ چي تر خو مو اشغالګر نه وي مات کړي د خالد شهادت مصطفی په رواني او فزیکي ډول کمزوری کړی که څه هم مصطفی کوښښ کاوه چي ځان زړه ور وښکاره کړی خو د کمزوری نښي پکي د وراېه معلومیدلي د خالد د شهادت دریمه ورځ وه چي په مخابره کې غږ شو چي امریکا له کمربنده را اوښتي دي او ملګري ځان مخ ته ورسوئ چي کمین دی مصطفی چي کله دا خبره په مخابره کې واوریده نو دخالد فاتحي ته راغلي کسان یې پریښودل او موټر یې رهي کړی او د ملګرو سره یو ځای شو که څه هم میوند ډېر ورته وویل چي ته کمین ته مه ځه خو مصطفی هشتادو په لاس کې و او میوند ته یې وویل چي د خالد انتقام خپله اخلم کله چي جنګ شروع شو مصطفی هشتادو د امریکایانو پر یو ټانګ وربرابر کړی او د تکبیر په چغه سره یې ډیر پر وکړی ټانګ یې وویشتی او دودونه تري پورته شول خو مصطفی چي کله هشتادو ته بل ډیر اچاوه د بل ټانګ له خوا په نښه شو او خاص په ځیګر یې وویشتی میوند چي ورمنډه کړل او مصطفی یې په غېږ کې ونیوی او غږ یې پر وکړی او د امیر امیر ناري یې پر وهلي خو مصطفی یو ځل سترګې خلاصي کړلي او موسکی شو او میوند ته یې وویل چي خالد مي غواړي خالد ناري راوهي خالد راته انتظار دی.

چي د خالد د مرګه وروسته د مصطفی همدا اوله اوهم اخري موسکا شوله.

**پای**

د شوال د میاشتي دوهمه

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**